شهامت

اتم کال، لومړۍ ګڼه، پرلپسې ۴۵مه، رجب المرجب ۱۴۳۵هـ، مې ۲۰۱۴م

په سیاسي اودیپلوماتیک ډګر کې
داسلامي امارت برلاسي او د دښمن ماتې!



انتخابات امریکایي بخاطر اهداف امریکایي

داوباما سفر، خپلو غلامانو ته امریکایي څېره په ډاګه کړه؟

د تاریخ د یوې هېرې غمېزې په یاد! څو کربښې!!

د یرغلګرو اسارت د یوه پوځي تکتیک په توګه

دقرطبې جامع مسجداودهسپانې داسلام دښمنۍ نوې پړاو

انکشافات تاریخ تیر شده امنیت ملی!؟

د شهید ډاکټر نصیرالدین حقاني ژوند ته کتنه



هو! افغانستان یرغلګرو ته بد ځای دی!!

د اقتصادي او مالي چارو د کمیسیون له مشر سره مرکه

بسم الله الرحمن الرحيم

په سیاسي او ډيپلوماتيک ډګر کې

داسلامي امارت برلاسي او د دښمن ماتې

داد شهامت داتم کال لومړۍ ګڼه ده ،چې له نېکه مرغه دخپل تاند اونوخیزه خپر نيز ژوند لـه اتم پسرلي سره د تاريخ په يوه داسې مهم پړاو کې غاړه غړۍ کيږي، چې يو لور دازادۍ هېواد (افغانستان) پر افق د فاتحانه تکبيرونو زوږ دلوېې اوشانداري فتحې زيري ور کوي، بل پلو ته په سیاسي او ديپلوما تیک ډګر کې داسلامي امارت نوې بريـاوې ، لاسـته راوړنې اود مومنانه فراست شهکار کردار پـه ازادۍ مـين افغـان قـام تـه لـه اوسـني مرګوني حالت نـه دنجـات اوخلاصون لازوال ارمغان ببني!!

د اسلامي نړۍ دمشهور عربي هېواد قطر حکومت په منځګړيتوب ديوه امريکايي بندي په بدل کې داسلامي امـارت دپنځو مهمو مشرانو هريو ملامحمدفاضل مظلوم، ملاخير الله خير خواه، ملا نور الله نوري مولوي عبد الحق وثيـق او دمولوي محمـد نبي عمـري دازادۍ خبر ،رښـتيا هـم دافغانسـتان اوسيمې مسـلمانانو تـه ديـوه بنـه زيـري سـربيره دامريکـايي ښکيلاک دپوځي اوسياسي شکست څرګند علامت دی.

د سياسي چارو تجربـه کـار کتونکي دا پر مختـګ پـه سياسي او ديپلوماتيـک ډګر کې داسلامي امـارت بـری او دامريکا دمتحده ايالاتودحکومت شکست بولي.

او دخوښۍ ځـای دی چې امريکـا د خپلو ټولو عصري وسـلو ،پر مختللې ټيکنالوجۍ اوپـراخ اسـتخباراتي پوښـښ سره بياهم ونکړای شول چې خپل بندي(بو بر ګډال) يې دمجاهدينو له منګولونه ژغورلی وای، بـالاخـره دافهام او تفهيم اصل ته په درناوي ښودو يې له ګوښانامو نه داسلامي امارت دپنځو مهمو بنـديانو دتبـادلې لـه لارې ازاد کړ!! د امريکـا دا بې وسي ددې دليل دی چې اوس امريکا د "۲۰۰۱" ز کال امريکـا نـده پـاتې، دافغـان قهرمـان ولس ګوذارېې لـه مغزونـه د ستر توب اوړيوالتوب نشه ويستلې،نور يو مخ پر زوال هېواد دی، ديته په کتو بيطرفه سياسي څيړونکي امريکا وربولي چې دافغانستان دننه اوبهر دزمکنيو واقعيتونو په ادراک سره دې هغه پخپله رويه کې مثبـت بـدلون راولي ،دځـواک پـه مټو دخپلو استعماري ارادو اوغوښـتنو دتحميلولو پـه ځـای دې پـه سـالم درايـت او واقعبينانـه سوچ شـته سـتونزو تـه د معقول حل لارې چارې ولټوي.

ځکه امریکا چې د کوم ناوړه شیطاني هوس او بد نیت په بدرګه افغانستان ته راغلې، تیر دیارلس کلن جریان یې شاهددی چې هغو ته په رسیدو کې ناکامه اونامراده پاتې ده او دا هغه ځوروونکی احساس دی چې له ادنی امریکایې نیولې ترولسمشره ټولو درک کړی، ځو ور ځې وړاندې له افغانستانه دپوځي انخلاء لپاره د مهال ویش اعلانولو پرمهال داوباما لخوا په دې اعتراف چې : "افغانستان ښه ځای ندی... او افغانستان کې امنیت ټینګول دامریکا مسولیت ندی..." دادریغ پیاوړی کوي چې هغوی له دغه استعماري او استثماری جنګ نه ډیرې ترخې خاطرې اوانګیرنې لري او نور نه شي کولای دغه تراخه تر ډیره وڅکي.

امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد (حفظه الله) هم پخپل پیغام کې له ګوانتانامو وحشیانه زندانه د یادو پنځو تنو مشرانو خلاصون دمجاهدینو او افغانانو لپاره لویه فتحه؛ ګڼلي اوله امله یې ټول افغان ولس ته مبارکې ویلي.

دغې بریا داحقیقت نور هم څرګند او واضح کړ چې یواځې دځواک په مټ یا دساینسي پرمختګونو او ټیکنالوجۍ دپریمانه وسلو په زور دنړۍ هیڅ ځواک دتل لپاره دازادو ولسونو فطري ازادي نشي غصبولی، په تیره د کوم ولس په ځوانانو کې چې دخودۍ احساس دپولادو پشان کلک وي، هغه په ساینسي نوښتونو او ټیکنالوجۍ نه ځملول کیږي، که غلیم هر څو پخپلو مادي وسایلو او اسبابو دهغه دځپلو کوښښ وکړي، خو موفقانه بری به یې په نصیب نشي اونه دمیړنیو افغانانو دازادۍ اجتماعي ضمیر زندۍ کولای شي ، اوس هم امریکا فرصت لري چې د خپلې جګړه ماري پالیسۍ نه په شاه شي، نړۍ کې دربشتینې سولې او بشریت دبقا پخاطر له فطري اصولو اومقرراتونه دسرغړونې روش پریږدي، دازادو هیوادو په کورنیو معاملاتو کې دلاسوهنې مردوده دیپلوماسي لغوه کړي، دځپلواکو قومونو په وسایلو او شتمنیو دخیټې اچولو ستراتیژي ته دپای ټوري کیږدې، دټول بشریت او بالخصوص دافغانانو په اړه پخپله اوسنۍ کرغیړنه او ظالمانه رویه بیا کتنه وکړي او له قید اوشرط پرته خپل ټول یرغلګر ځواکونه ور وغواړي، ښکاره ده څو چې هغوئ دلته قابض اومستعمر پاتې وي، له امریکانه به دنړۍ د خلکو د نفرت اوکرکې دسلنې ګراف همداسې مخ پورته روان وي ، دغه راز دې دیوه رانه واقعیت په توګه دافغانستان داسلامي امارت دستر اسلامي او انساني کردار په وړاندې درخې ، عقدې او کینې نه دډک دریځ په ځای ،دهغه په اعتدال ولاړ سیاسي اوپوځي موقف عتراف وکړي!

د یرغلګرو اسارت

د یوه پوځي تکتیک په توګه

شـــاهد "غزنیوال"

کله چې امریکایانو په کال ۲۰۰۱ په افغانستان یرغل کاوه ، د هغوی پوځي قومندانانو به خپلو ځواکونوته ویلو چې په افغانستان کې به له تروریستانو (طالبانو) سره د ژوند تر وروستۍ سلګۍ جنګیږئ ، د جګړې په مهال به نه له جګړې مخ اړوئ اونه به تروریستانو (طالبانو) ته تسلیمیږئ؛ ځکه که هغوی ته تسلیم هم شئ هغه مو وژني او که مو هغه ونه وژني نو پنټاګون په هیڅ صورت دیته تیار نه دی چې ستاسي د خلاصولو او تبادلې پرسرله تروریستانو(طالبانو) سره معامله وکړي .

همداراز چې به امریکایي ځواکونو د خپلو تعقیبي عملیاتو پرمهال کوم طالبان بندیانول له هغوی سر به یې د ټولو بشري قوانینیو او د جنګي اسیرانو په اړه د ژنیواکنوانسیون د اصولو خلاف معامله کوله .

امریکایانو د دغو نیول شویو طالبانو لپاره له افغانستانه په لسګونو زره کیلو میټره لیري د کیوبا په ګوانتنامو خلیج کې د ګوانتناموB په نوم وحشیانه زندان جوړ کړ.

امریکایانو دغه زندان ځکه د امریکې له خاورې لیري د کیوبا د ګوانتنامو په خلیج کې جوړ کړ چې دوی له اوله غوښتل په دغه زندان کې له اسیرو طالب زندانیانو سره داسې غیر بشري معامله وکړي چې خپله امریکایي قوانین یې د امریکاپه داخل کې د هغې معاملې اجازه نه ورکوي.

د ۲۰۰۲ کال د جنوري په میاشت کې چې کله امریکایانو لومړۍ جوپه زندانیان ګوانتاناموته ورسول هلته یې ډیره سخته وحشاینه معامله ورسره کوله ، دبښنې نړیوال سازمان (Amnesty International)، د بشر د حقوقو سازمان (Human Rights Watch) د نړیوال سره صلیب کمیټې او نورو ډیرو دبشري حقونو مدافعو ټولنو د امریکایانو لخوا له زندانیانانو سره پر دغه غیر انساني کړنې انتقاد وکړ ، خو د امریکا د وخت د دفاع وزیردونلد رمسفیلد شخصا په خپله دهغوي ځواب ورکړ چې دا بندیان غیر قانوني بندیان دي او چې مونږ هرڅه ورسره وکړ تر قانوني مواخذې لاندې نراځو ، ځکه کوم اصول او مقررات چې د ژنیوا په کنوانسیون کې له جنګي اسیرانو سره دتعامل په اړه وضع شوي هغه

د قانوني جنګي بندیانو لپاره دي ، قانوني جنګي اسیران هغه دي کوم چې د هیوادونو د رسمي پوځونو برخه وي ، نه دغیر قانوني جنګي ډلو جنګیالي.

په هرصورت ! په افغانستان باندې د امریکایي یرغل له پیله د جګړې په ځرنګوالي او تکتیکونو کې هم ژور بدلون راغی .

داسلامي امارت مجاهدینو چې یوزیات شمیر پوځیان یې په شمالي افغانستان کې د دښمن د غدر او دسیسې په ترڅ کې د هغوی لاس ته ولویدل، یوزیات شمیرنور یې د امریکایي بی ۵۲ ډوله الوتکوپه وحشیانه بمبار کې شهیدان شول ، د قیادت او قوماندې مرکزیې د دښمن د یرغل په نتیجه کې سقوط وکړ.

مجاهدینو ی یوه نوي جهادي ابتکار په توګه په تدریجي ډول د امریکایي یرغلګرو په مقابل کې داسې مقاومت پیل کړ چې وکولای شي هم خپل ځان او هم خپلې سیمې د دښمن د بمباري له خطره وژغوري .

هماغه وه الحمد لله چې د مجاهدینو د غه تدریجي مقاومت دیوه فوق العاده بریالي مقاومت بڼه غوره کړه او په ډیره موثره توګه یې د دښمن د وحشیانه یرغل مخه ډب کړه .

مجاهدینو د جګړې په ډګر کې له یرغلګرو صلیبیانوسره د نویو پوځي تکتیکونو په جمله کې د استشهادي بریدونو بریالی تکتیک په کار واچوه چې دښمن یې په پوځي ډګر کې له سختې هیښتیا او ماتې سره مخ کړ.

د استشهادي عملیاتو تکتیک په افغانستان باندې د امریکایانو تر اشغال له مخه عملي سابقه نه لرله .

د استشهادي بریدونو تر څنګ مجاهدینو دبهرنیو یرغلګرو په وړاندې یوبل داسې موثر تکتیک هم غوره کړ چې د هغه په وسیله وکولای شي دښمن هم له پوځي او هم له سیاسي او تبلیغاتي اړخه تر اغیزلاندې راولي .

دغه مؤثر تکتیک د جګړې په ډګر کې د بهرنیو اشغالګرو ، دهغوی د جاسوسانو او دهغوی د مبلغینو ژوندي نیول او یرغمل کول وه .

د دې تکتیک عملي کولو ته ځکه مجاهدین اړیستل شول چې هغوی غوښتل په پوځي او تبلیغاتي لحاظ هم پردښمن خپل برلاسی ثابت کړي او هم په غیر مستقیم ډول دښمن دیته مجبورکړي چې د دوی پر موجودیت او مشروعیت اعتراف وکړي .

مجاهدینو د لومړي ځل لپاره دغه مؤثر تکتیک د هیواد په جنوب لویدیځ زون کې په داسې توګه عملي کړ چې هغوی د خپلو استخباراتي معلوماتو په مټ د ایټالیا هیواد یو ډیر ماهر او پیژندل شوی جاسوس د دانیال ماسترو جیاکومو په نوم چې د مجاهدینو د جګړییزو فعالیتونو د کشفولو په نیت ی خبریال په پلمه سیمې ته راغلی وه ژوندی اسیر او له ځان سره خوندي ځای ته ولیږدوي.

مجاهدینو ته مخکې د نوموړي د موثریت په اړه معلومات وه هماغه وه چې د هغه د رهایي په مقابل کې د خپلو ۵ تنو مهمو چارواکو چې له دښمن سره بندیان ول د تبادلې غوښتنه وکړه .

۴۰۰۰ایټالوي ځواکونه چې په افغانستان کې د امریکایانو تر څنګ د مجاهدینو پرخلاف پوځي عملیاتو بوخت ول د خپل اسیرجاسوس د رهایي په مقابل کې د طالبانو د ۵ تنو اسیرو چارواکو د تبادلې معامله سمدستي ومنله اوهغه وه چې د ۲۰۰۷کال دمارچ دمیاشتې په ۱۹ نیټه د طالبانو او ایټالوي ځواکونو ترمنځ دغه تاریخي تبادله د هلمند ولایت په هزارجفت ولسوالۍ کې ترسره شوه .

د دغې موفقې تبادلې تر سره کیدو وروسته مجاهدین نورهم د هیواد په ګوټ ګوټ کې د بهرنیو پوځیانو او دهغوی د جاسوسانو ښکار کولوته ډیر متوجه شول .

ځکه له ایټالوي ځواکونوسره د دوی لومړۍ تبادله ډیر موفقه او له تبلغاتي لحاظه ډیره ګټوره تمامه شوه .

هماغه وه چې له دې تبادلې دری میاشتې وروسته یې د غزني ولایت د قره باغ په ولسوالۍ کې ۲۵ تنه د جنوبي کوریا مسیحي مبلغین ژوندي اسیران کړل .

دغه عیسوي مبلعین چې زیات شمیر یې ښځې وې د جنوبي کوریا د کلیساګانو د ټولنې لخوا افغانستان ته د مسیحي تحریف شوی دین د ترویج لپاره رالیږل شوي او تر غزني له مخه یې مزارشریف او بامیانو ته سفرونه هم کړي ول .

د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ مجاهدینو د خپلو استخباراتي مراجعو په مټ دنوموړیو مبلغینو تحرکات تر ثارني لاندې ونیول او په یوه مناسب وخت کې یې په قره باغ ولسوالۍ کې د کندهار کابل دلویې لارې پرسر د تلاشي پرمهال د هغوی لیږدوونکی موټر په نښه او ټول یې یوځای یوې خوندي سیمې ته انتقال کړل .

دا ځلې بیا د جنوبي کوریا هیواد چې په افغانستان کې د امریکایانو ترڅنګ مسلح پوځي موجودیت درلود مجبورشو چې د خپلو زیات شمیر اتباعو دژوند ژغورلو اود هغوی د راخلاصولو لپاره له طالبانو سره معامله وکړي .

طالبانو دا کرت د خپلو بندي طالبانو د تبادلې په عوض کې له جنوبي کوریاڅخه وغوښتل چې خپل ټول پوځي ځواکونه به له افغانستانه باسي او په دې اړه به اسلامي امارت ته رسمي لوظنامه ورکوي .

هماغه وه چې د جنوبي کوریا ولسمشر د اسلامي امارت غوښتنې ته تسلیم شو او له اسلامي امارت سره یې درسمي لوظنامې د لیکلو لپاره خپل د بهرنیو چار وزیر افغانستان ـ غزني ولایت ته راولیږو .

هماغه وه چې ۲۰۰۷م کال د جولای دمیاشتې په ۲۵ نیټه د چهارشنبې په ورځ د نړیوال سره صلیب په منځګړیتوب د غزني ولایت په مرکز کې د اسلامي امارت او جنوبي کوریا د استازیو ترمنځ د یوې مشترکې غونډې په ترڅ کې چې د مشهورو نړیوالو رسنیو ټولوخبریالانو ورکې برخه لرله د غه لوظنامه لاسلیک او په نتیجه کې یې د طالبانو په لاس نیول شوی ۲۳ تنه مسیحي مبلغین هغوی ته وسپارل شول .

د اسلامي امارت او جنوبي کوریاترمنځ د دغې رسمې لوظنامې لاسلیکول په تبلیغاتي لحاظ د اسلامي امارت لپاره ډیر اغیزمن تمام شو او مجاهدین نور هم دیته لیواله شول چې د هیواد په هرځای کې وي باید د دغه کامیابه تکتیک پلي کولو ته ملې راونغاړي او چې هرځای یې لاس وربانـدې برشي د دښمن افراد او د هغوی جاسوسان ژوندي ونیسي .

هماغه چې مجاهدینو داځلي وکړای شول چې د پکتیکا په ولایت کې د بوبرګدال (Bowe Robert Bergdahl) په نوم یو مسلح پوځي امریکایي د خپلې قرارګاه له مخې ژوندي اسیر او له ځان سره خوندې ځای ته ولیږدوي .

دغه پیښه د۲۰۰۹ کال د جون د میاشتې په ۳۰ نیټه دپکتیکا ولایت دیوسف خیلو په سیمه کې رامنځته شوه .

بوبرګدال (Bowe Robert Bergdahl) د۱۹۸٦ کال دمارچ په ۲۸ دمتحده ایالاتو په ایداهیوابشارکې زیږیدلی.

نوموړی دامریکې ۵۰۱ نمبر پلې فرقې دځلورم کنډک مربوط پوځي وه کوم چې دامریکا په فورت ریچاردسون کې میشت ده .

ددغه پوځي داسارت پیښه دامریکاد پوځ په تاریخ کې لومړنۍ پیښه وه چې امریکایان ورسره مخ، او په دې سره یې ټول نړیوال وجاهت اوپوځي برلاسي دافغانانو په لاس تر پښو لاندې شو.



داخل مجاهدینو د جګړې په ډګر کې د دښمن د ژوندي نیولو په تکتیک کې تر ټولو داسې مهم ښکار تر لاسه کړی وه چې په هغه سره یې د امریکا او ناټو ټول پوځي ځواک وننګاوه .

دا چې د جګړې په ډګر کې د طالبانو په لاس د امریکایي پوځي اسارت د امریکایانو لپاره ډیره له شرمه ډکه خبر ګڼل کیده نو هماغه وه چې دوی هم له دغه شرمه د ځان خلاصونې لپاره خپل ټول پوځي ،استخباراتي او مالي توان په کار واچاوه ، خو الله الحمد چې د مجاهدینو د پاخه تدبیر له وجې دا ټولې هڅې بې ځایه او مجاهدینو وکړای شول پوره پنځه کاله د غه قیمتي ښکار له ځانه سره محفوظ وساتي .

د دغه پوځي تر نیول کیدو او له هغه راوروسته نورهم د فرانسي ، ترکیې ، روسیې ، قزاقستان ، کاناډا چاپان او ځینو نورو هیوادونو اتباع د مجاهدینو په لاس اسیران او له څه وخت اسارت او د هغوی د وظیفې او دندې له معلوموالي وروسته به د هغوی له اړونده هیوادونو سره د معاملې له لارې پریښودل شول .

خو د امریکایي اسیر په پریښودلو کې اسلامي امارت په واضحه توګه هغه شرائط امریکایانو ته مخې کړل کوم چې به دوی ترې په کلي توګه انکار کاوه .

کله چې امریکایان له پوځي او استخباراتي لارې له طالبانو څخه د خپل اسیر له خلاصولو مایوسه شول نویې د نړیوالو منځګړیو په وسیله دیپلو ماتیکې هڅې پیل کړي.

د دغو دیپلو ماتیکو هڅو په نتیجه کې سپینه ماڼې دیته مجبوره شوه چې د طالبانو لپاره په قطر هیواد کې د دغه ملک د چارواکو په وساطت سیاسي دفتر پرانیزي.

د دغه د فتر په ایجاد کې د جانبینو (اسلامي امارت او امریکایانو) ترمنځ اساسي خبره د بندیانو تبادله وه .

د اسلامي امارت استاذیو له امریکایي جانب څخه د هغوی د اسیر بندي د رهایي په مقابل کې له ګونتنامو زندان څخه د خپلو ۵ تنو مهمو پوځي چارواکو تبادله وغوښتله .

خو امریکایانو پوره درې کاله د اسلامي امارت د استازیو دغه غوښتنه وځنډوله او دیته نه حاضریدل چې بې قید اوشرطه دی د یوه اسیر په مقابل کې ۵ تنه مهم مسؤلین تبادله کړي .

خو کله چې په دې اړه د اسلامي امارت د مشر تابه په نه بدلیدونکي دریځ پوه شول چې هغوی په هیڅ صورت تر خپلې غوښتنې تیریدونکي نه دی نو هماغه وه چې دغې سختې غوښتنې ته یې ځان تسلیم کړ.

داسخته غوښتنه ځکه وه چې د هغې په منلو سره د دوي پرټولو پخوانیو ادعاګانو او خبرو چې دوی به خپلو پوځیانو ته ویلو چې مونږ ستاسي د راخلاصولو په سر له تروریستانو(طالبانو) سره په هیڅ صورت معاملې ته نه یو حاضر د بطلان کرښه راتیرول وه.

همدا راز په دغې معاملې سره امریکایانو له خپلې هغې ادعاڅخه هم تنازل وکړ چې دوی به داسلامي امارت مجاهدین غیر قانوني جنګیالي بلل او له هغوی سره به یې د جنګي اسیرانو د تعامل خلاف وحشیانه سلوک کاوه.

هماغه وه چې د اسلامي امارت او امریکایي جانب ترمنځ د قطر هیواد په منځګړیتوب د بندیانو دتبادلې دغه تاریخي معامله د ۲۰۱۴کال د مې د میاشتې په ۳۱ نیټه تر سره او په پکتیاکې نیول شوی اسیر امریکایي یې دخوست په ولایت کې د هغوی وارخطاځواکونو ته وروسته له هغه تسلیم کړ چې کله امریکایانو داسلامي امارت ۵ تنه مهم لوړرتبه چارواکي د ګونتنامو له زندان څخه دقطر هیواد مرکچیانو ته وسپارل.

نتیجه :

د اسلامي امارت او مغرورو امریکایانو ترمنځ دغې تاریخي تبادلې په افغانستان کې د جنګي ځواک او وړتیا په معادلې کې تغیر راوست ، د امریکا هغه مجهز پوځ چې له تسلیحاتي او تجهیزاتي اړخه په نړیواله کچه لومړی درجه ځواک بلل کیږي داسلامي امارت د ایمان لرونکي پوځ په مقابل کې د تسلیمي سر ټیټ کړ او په ډیر خجالت او فضیحت سره یې دهغوی په لاس نیول شوی اسیر پوځي د هغوی د ۵ تنو مهمو چارواکو د رهایي په مقابل کې تر لاسه کړ.

د دغې مهمې تاریخي تبادلې له لارې امریکایان مجبور شول چې اسلامي امارت دیوې غیر قانوني ډلې په حیث نه بلکې دهیواد دیوه مطرح سیاسي جریان او مسلط پوځي ځواک په توګه تسلیم کړي او له هغوی سره دمعاملې میزته کیني .



دغې تاریخي تبادلې پر نورو ټولو امتیازاتو علاوه د اسلامي امارت مجاهدینو ته دا مورال ورکړ چې هغوی به نورهم د امریکایانو او دهغوی د اتلافیانو په ژوندي نیولو پوري کوښښ کوي او دغه مؤثر تکتیک ته به له هیواد څخه دټولو بهرنیو یرغلګرو تر بشپړ وتلو پوري دوام ورکوي .

الله تعالی دې ټولو مجاهدینوته د دغه موثر تکتیک په لامؤثره توګه دعملي کولو توفیق ورکړید

انتخابات امریکایی بخـــاطر اهداف امریکایی

محمدالیاس عاصم

از لحاظ معقولیت ومنطق سالم، پروسه های نظام سازی و حاکمیت ساختن برای هر ملت، قبلا استقلال در فکر و عمل میخواهد، اگر در کشوری مثل افغانستان آزادی اراده مردم سلب شده باشد، مردم تهدید به مرگ وزندان باشند، بمباران ها ادامه داشته باشند، نیروهای اشغالگر همه جنایات خود را ادامه دهند، پس در آن کشور حرف از ساختن نظام ، ساختن قوانین و انتخابات منطقی نیست وجزء بازی به اراده و افکار مردم و سوء استفاده از نام مردم چیزی بیشتر شمرده نه میشود.

در طول تاریخ نظامهای که وارد کشور ها شده و توسط زور و فشار تحمیل گردیده اند بیشتر به نفع کشورهای اشغالگر بوده و از مردم کشور اشغال شده مثل مواد سوخت استفاده افزاری صورت گرفته.

چندین بار است که بعد از اشغال امریکا بخشی از مردم افغانستان هم مانند ملعبه استعمال میشوند و اشغالگران سعی دارند تا اشغال خود را از مجراهای مختلف فریب و تزویر قانونیت و مشروعیت کاذب ببخشند.

مردم افغانستان ۱۳ سال تحت اشغال امریکایی و شرکاء جرمی آن به سر می برند و در چند بُعدمختلف درگیر معرکه بااشغالگران، مزدوران دالر بگیر، و عناصر ضد دینی و میهنی هستند.

درچنین وضعیت که اکثریت مطلق مردم به نحوِ مصروف جهاد ومبارزه علیه اشغال باشند امکان آن دیده نه میشود که همین مردم مجاهد و آزادیخواه در پروسهای جعلی و تزویری دشمن سهم بگیرند و آن پروسها را سبب نجات کشور بدانند.

برعکس مردم افغانستان باقاطعیت خواهان آزادی کشور شان هستند، خواهان حل مسائل از راهای شرعی و اسلامی هستند، خواهان استحکام نظام اسلامی در افغانستان میباشند.

یورشگران امریکایی بعد از ناکامی های پی هم در عرصه های نظامی رو به فریب عوام نموده و سعی دارند تا مجرمین سالهای نود را که اهداف ملت مجاهد و شهید پرور ما را به یغما بوردند، مردم را به خاک وخون کشاندند، شهرکابل را به مخروبه مبدل ساختند، به نوامیس، حریم و اموال مردم تجاوز کردند، آنهار ا سر از نو تراشیده به سرنوشت ملت ما مسلط نمایند.

ملت مظلوم افغانستان بخاطر رهای کشور از شر و فساد عناصر جرم پیشه سالهای نود قربانیهای بي دریغ دادند تاعزت اسلامی را توأم با نظام اسلامی به کشور حاکم سازند و آرمان یک ونیم میلیون شهید جهاد بزرگ ما علیه شوروی سابق را به جا آرند. ولی اکنون امریکایها در حالت گریزخود میخواهند یک مشت مجرمین گرگ صفتان رادر لباس گوسفندبه نام انتخاب مردم به اریکه قدرت نشانند.

رون قبلی انتخابات که پر از دغلی و فریب، پر کردن صندوقها در منازل، وصد نوع تقلب ها بود،خود ثابت می سازد که این روند از طرف ملت ما نه بلکی به دست چند تن افراد بی بند وبار که هرگز خطوط اخلاقی و انسانی را نه میشناسند برپا شده بود و نمایندگی از ملت غیور وبا عزت افغان نه میکرد.

جمع کردن تعدادی از مردم شهر نشین، گردهمای های بنام تقسیم خیرات و کمک وایراد سخنان فریب دهنده، اگر ملت افغانستان را واقعا فریب داده میتوانست، پس کمونیستها در زمان خود چندید مراتب بیشتر تجمعات مردم را می ساختن شعارهای (خانه، لباس و نان) را سر میدادند وشهرها را از بیرقهای سرخ وافراد سرخ پوش پرمیکردند؛ ولی ما دیدیم که تمام این نوع اقدامات میان تهی ملت را مقنع نه ساخت، وملت را از مبارزه وجهاد مقدس خود دست بردار نه توانیست.

اکنون هم اکتهای مردم سالاری، شعارهای بیگانه و تقلید از فرهنگ غربیهادر راستای دولت سازی ومردمداری هرگز درد ملت مظلوم و تحت اشغال مارا دوا کرده نه میتواند، از همه بیشتر رهای کشور از چنگال اشغال، گردن نهادن به قوانین والای اسلامی، پیاده نمودند ارزشهای دینی میتواندکه ملت ما را به طرف سعادت دنوی و اخروی سوق دهد و سبب اختتام همه بدبختی های فعلی شود، پس کسانی که حرف از دیموکراسی وانتخابات میزنند بدانند که انها بخاطر اهداف امریکایی آگاهانه یا غیر شعوری چرخ میخورند وعلیه اراده اصیل مردم خود موقف میگیرند که طبعا بخشودنی نه خواهد بود و قیمت گزاف تاریخی و اخروی را درپی خواهد دشت.

داوباما سفر ، خپلو غلامانو ته امریکایي ځیره په ډاګه کړه ؟

لطیف " عزیز"

دامریکاتورپوستي ولسمشرباراک اوباما، دجوزاپه ۴ نیټه افغانستان ته د خپل ۴ ساته سفرپه مهال دبګرام په پوځي اډه کې امریکایي عسکروته وویل چې دروان کال ترپایـه بـه لـه کم شمیرعسکرو پر تـه نور ټول لـه افغانستان څخه وځي اوپه خبره یې دافغانستان جګړي ته به په مسؤلانه ډول دپای ټکی ایښودل کیږي .

اوباماداهم وویل چې کیدای شي دکابل راتلونکی ولسمشربه له امریکاسره په امنیتي تړون ډیرژرلاسلیک وکړي اوبیابه دهمدغه تړون پـه مرسـته څـوزره امریکـایي عسـکر پـه افغانسـتان کې پـه امریکـایي اډواویادامریکادلوی سفارت دساتني په موخه پاتي شي !

امریکایانوپـــه عـــراق کـــې هـــم عمـــومي ذهنیـــت تـــه همدغـــه تیرایسـتونکي ټکي وړانـدي کـړل چې ګـواکي دنومـوړي هیواداشـغال اوجګـړي تـه یې دپـای ټکـی کیښـود، خوپـه هغـه سـربیره یې هـم پـه بغدادکې دسترامریکایي سفارت دساتلوپه پلمـه هلتـه ۱۵ زره عسـکر ځای پرځای پریښوول .

شک نشته چې دکابل تخت اوارګ ته به ارومروهغه ځیـره رسول کیږي چې له افغاني ګټوورته امریکاګټي ډیري مهمي اوزیـاتي محترمي وي اولـه افغانسـتان څخـه بـه امریکاورتـه حیـاتي ارزښـت لـري ، ځکـه دولسمشـری لپـاره دهر کاندیـد شـعارونو اوځرګندونوتـه چې وکتل شي ترټولوبـارزترین ټکـی اود خبروسـرلیک یـې دادی چې کـه واک تـه ورسیږي ، نوړومبی ګام به یې له امریکاسره دامنیتي سند امضا کول وي ، یعنی هیڅ یوکاندیدتراوسه ترستر ګونشوچې هسي دنمایش لپاره یې هم په امنیتي سنددانتقادکومه ګوته پورتـه کړي وي اویـادې دکومي مـادي اوبنددترمیم خبره په کومه مرکـه اوجلسـه کې یـاده کړي وي ، بلکې لـه سیافه اوهلاله نیولي تراشرف غني اوعبدالله پوري ټول پـه یوه اوازپـه افغانســتان کـــې امریکـــایي حضـــوراوپوځي اډي لـــه ټولـــو ورســـره ترلوجنایتونو، فجایعواوغلامیومني اوزغملو ته یې سینه ډبوي .

نو کـــه اوبامااویابـــل امریکـــایي مشـــر دکابل اداري لـــه راتلـــونکي ولسمشرڅخه دغه ډول توقع په زغرده کوي اوپه کلکـه بـاورلري چې پـه امنیتي سندبه ورسره لاسلیک کوي ،دامریکایـانو دغـه هیلـه اوامیدځکـه پرځای اوسل په سله شونی دی چې همدغو کاندیدانولـه امریکاسـره لالـه وړانـدې داسـلام اوافغانیـت پـه سـرپراخه معاملـه اوسـودابازي کـړي او امریکایانودیوه مهم شـرط پـه توګـه پـرې منلي چې ترټولوړومبی بـه پـه امنیتي تړون له کوم قیداوشرط پر ته لاسلیک کوي اوکه چالدغی معاملي

نه لږ هم سرغړاوی وکړ ، انجام به یې داسې وي لکه دکابل داوسني رژیم دمشهور اومعلوم الحاله امریکایي غلام (کرزي) چې ۱۳ کاله دامریکایانولپاره هرڅه ومنل اودهغوی هرډول جنایتونه اووحشي کړني یې په پستواومکارو الفاظو توجیه کړي ، خوچې کله امریکایانوهغه مسترد او تقاعد کړاوشتون یې نور دکابل په ارګ کې ورته بې ګټې وبریښیدنواوس یې حالت هرڅوک ویني چې دامریکاولسمشر افغانستان ته راځي ، خوله هغه سره لیدلو ته هم نه تیاریږي اوهمداسې نیمه خوایې پریږدي .

که څه هم ویل کیږي چې کرزي له اوباماسره دبګرام په اډه کې له لیدني انکاروکړ اودارګ په ځای یې په یوې امریکایي اډه کې لیدنه دځان لپاره سپکاوی وباله ، خواصلي خبره دادچې دکرزي له یوه پلوه دواک شپې ورځې ګوته په شمارپاته دي ، له بلې خوایې پاڼه هم په سپینه ماڼۍ کې سخته زیړه شوي اوامریکایان په هیڅ بیه نور کرزی دکابل په سیاسي افق کې لیدل نه غواړي ؛همدغه دلایل دي چې کرزی هم په خپلوورستیو شپواوورځو کې دداسې یوڅو کارونو کول اوځلول غواړي چې له واک ورسته پرې حساب وکړي چې که هغه ۱۳ کاله دامریکایانو زبردسته غلامي اونوکري سرته ورسوله ، یوڅوداسې کارنامې یې هم ترسره کړي چې هغه بایدیادې شي چې په هغو کې په امنیتي سندنه لاسلیک اوهم له اوباماسره په بګرام کې له لیدني انصراف دی!!

که خبره په رښتیاهم په بګرام کې له امریکایي ولسمشر سره کتنه دکرزي لپاره سپکاوی اولوی عیب واي ، نودغه عیب خو کرزي څوواري پخواپه خپله ښنده په زیاته خوشالی منلی اوښومبلی دی،دبوش ترڅنګ یې حتی دامریکاددفاع وزیر (رمزفیلد) سره دلیدني لپاره هم دبګرام هوایي اډې ته څوځلي زحمت ګاللی اودهغه هرکلی یې کړی؛ همدارنګه دامنیتي سنددعدم لاسلیک موضوع که کرزي ته مهمه وایي اودزړه له تله یې نه غوښتلی چې تړون دي نه لاسلیکیږي نوبیاد کوم مجبوریت له مخې یې هغه مصنوعي جرګه چې برخوال یې ټول امریکایي اجیران وو اوله تیر ۱۳ کلونوراهیسې هغوی په امریکایي دسترخوان اوډالرورانټول وو دائیره کړله ؟

ځکه هرڅوک په دې خبره پوهیدل چې دنوموړي جرګې برخوال به خامخادامریکایانود ګټواومصالحوپه رڼاکې فیصله کوي !

پاتې شوه دامسئله چې داوبامابګرام ته په توره شپه لدې پرته چې دکابل اداره په جریان کې واچوي راتګ یې کومه دیپلوماتیکه خلاف ورزي ده کنه ؟ شک نشته چې دغسې عمل دهغه چالپاره چې ځان په نړیواله کچه منل شوي دولت بولي اووايي چې بیرغ په ټوله نړی کې په سیاسي نمایندګیو کې رپیږي دپرزي دپریکیدومعناور کوي ، خوچې دامریکاولسمشر دغه ټول دیپلوماتیک اصول تر پښولاندي کوي ،په توره شپه کې دیوه هیوادپه فضاورننوځي اوله کومي اګاهی پرته دهغه هیوادپه ځمکه قدم ږدي اوبیایې حتی دولسمشرلیدلوته هم کوم اهمیت نه ورکوي ،نوداخبره په خپله په اثبات رسیږي چې امریکایان له خپلو ګوډاګیور ژیمونواوواکمنوسره تردې حده ذلیل چلنداوبرخوردلري چې په نړیواله توګه یې شرموي اوخپل ولس اوافرادو ته یې حیثیت په دوپیسو کوي .

درنولوستونکوتاسي په خپله انصاف وکړي یوڅوک چې دیوه هیوادپه تګ اوراتګ کې هیڅ سي وګوري مخکي لدې چې په امنیتي سندلاسلیک وشي اوبامااعلان وکړ چې ددوی ۹ زره عسکربه له ۲۰۱۴ کال ورسته هم په افغانستان کې پاتي شي ، دغه اعلان جوتوي چې امریکادخپل پلان له مخې کار کوي ، دامنیتي سندموضوع اویانور تبلیغات صرف داذهانو دتیرایستلوپه خاطر کوم مهم مجبوریت له مخي !

په هرحال افغانستان ته داوباما۴ ساعته سفراوله کرزي سره یې نه لیدني په ډاګه کړه چې نورامریکاکرزي ته کوم اهمیت نه ور کوي اوپه هیڅ مهم سیاسي موقف کې یې لیدل نه غواړي ، ضمنااوباما داخبره هم ښکاره کړه چې له کرزي ورسته راروان ولسمشر ! که هرڅومره امریکایانو ته ټیټ اوپاس شي اودغلامی ډول ډول نغاري وغږوي اویاهم بې شمیره تړونونه ورسره لاسلیک کړي اخیرنی انجام او برخلیک به یې ګټ مټ دکرزي اودهغه دټیم په څیروي ، چې نه یې ملت راضي کړ اونه یې هم امریکا ؟ ډول اګاهي اواجازي ته ضرورت نه ویني اوپه اصطلاح ولسمشر یې یوې پوځي اډې ته جلبوي نوایاهغوی به دخپل حضوراوپراخ شتون لپاره دهغه هیواددلوړومصالحواوګټوخیال په ذهن کې ولري اوپه رښتیابه هم دکوم امنیتي سندلاسلیک اوهو کړي ته اړ تیاولري ؟زماپه فکراوباماچې دراتلونکي ولسمشر لپاره کومه خوشبیني ښکاره کوي داهسي یونمایش دي ،

هو!

افغانستان یرغلګرو ته بد ځای دی!!

سجاد

له امریکانه په شپه کې بګرام هوايي ډګرته د امریکا دولسمشر اوباما پټ اونا اعلان شوی سفر ددې ثرګند دلیل دی، چې امریکا دجګړې ډګر بايللی اوپکې برلاسې نده ،نور پکار دی امریکا یې پالیسې جوړونکې اوسیاستوال د افغانستان دننه رانه واقعیتونه درک کړي او دحقايقو د پټولو هڅې ونکړي هم ژرترژره د ظالمانه جنګ په پای ته رسولو غور وکړي!

بګرام کې اوباما چې دامریکا عسکروته د هغوئ داعلی قومندان په حیث وینا او روله، په لهجه کې یې دبري احساس کم او دشکست نښې ډېرې ترسترګو کېدې!

دهغه د وینا په غبرګون کې داسلامي امارت په دريځ کې دبرترۍ احساس او په جنګ کې دبري روحیه لیدل کېږې ،هرڅوک چې په دې نازک توپیر پوهېږي، هغوئ ته ښکاري چې کوم لوری دشکست اوکوم دبري په لور درومي؟

دامریکا اوافغانستان د چارو څېړونکي کاږې: اوباما له بګرام نه نا امیده ستون شو، دهغه دسفر موخه داوه چې له نژدې دجګړې دلومړۍ کرښې قومندانانو سره دجنګي وضعیت په باب خبرې اترې وکړي،ورسره په راتلونکو پلانونو وغږیږي ،خو دجنرلانو ساړه هرکلي اومړاوې رویې مایوسه کړ، هغوئ له افغانستانه په پوځي انخلاء ټینګاردرلود، اوباما ته هغوئ په څرګندو ټکیو کې دا وویل: دوئ نور دجګړې اوږدولو توان نلري !باید دجګړې په ځای په نورو لارو فکروکړو !دلومړۍ کرښې دقومندانانو دا نظر حیرانوونکي و، هغه په ستومانه نظر له امریکا نه ورسره دراغلي لوړرتبه ټیم غړوته ته کتل! او په مرموزه موسکه یې د هغوئ نه د۲۰۱۴ز کال وروسته افغانستان کې دامریکا دپلان شوې ستراتیژۍ حشر پوښته! اوباما خواشینی شو، غوښتل یې چې دلته میشت امریکايي عسکروته داوږدمهالې میشتېدنې روحیه او مورال ورکړې !خو سرچپه هغه پخپله مورال له لاسه ورکړ.

که څوهم اوباما افغانستان کې میشت امریکا یې عسکر او دهغوئ قومندانان بیا، بیا ستایل، په غوړو او چربو القابوسره یې یادول،ورته یې ددې انګیرنې ورکولوکوښښ کاوه ،چې دلته (افغانستان) هغوئ یوه لویه جګړه پرمخ بیایې... !دامریکا په دفاعي کرښه کې جنګېږي... امریکا ژغورئ.... دامریکا دښمنان وژنئ... خو دهغوئ روحیات لوړ نشول،نه دجنګ په دوام قانع نشول، میډیا افغانستان ته دغله په څېر شپه کې داوباما سفر داسې توجیه کړ، چې ګوندې اوباما د امریکا پوځیان وستایل دهغوئ مورالونه یې لوړکړل هغوئ یې دجګړې ګټونکي اوقهرمانان ونومول،خو حقیقت دادی چې اوباما پخپل سفرکې دجګړې په دوام جنګي قومندانان قانع نکړای شول، هم دا وجه وه چې دزیاتې غوسې له امله د ارګ هغو مراسمو کې شریک نشو کوم چې دهغه داحترام لپاره جوړشوي وو.

سپیني ماڼۍ ته د ستنیدو څوساعته وروسته یې یوه وینا کې له افغانستانه دټولو امریکایې عسکرو ویستلو لپاره مهالویش اعلان کړ او اعتراف یې وکړ، چې جنګ دستونزو اومسایلو حل ندی،: افغانستان ښه ځای ندی،هم یې دامریکا په بهر نۍ تګلاره کې ځینو بدلونو ته په اشاره وویل:چې نور وخت بدل دی، دامن او ازادۍ تشریح بدلیدونکې ده، هره ستونزه پوځي حل نلري،له خپل هغه دریځ نه یې دفاع وکړه: چې څلور کاله دمخه یې افغانستان ته نور عسکر را و لیږل، هغه پریکړه یې یې دامریکا دسلامتیا لپاره ضروري یاده کړه همدا راز اوس له افغانستانه بیرته دعسکرو ویستل دامریکا سلامتیا لپاره مهم پړاو وباله ، عراق ته په اشاره اوباما اعتراف وکړ، چې له عراق وروسته له افغانستانه هم دځواکونو ویستلو اړتیا ده، باید نور امریکا په

جنګونو کې له ونډې لرلو نه ډډه وکړي، اوباما وویل:نړۍ په چټکۍ سره دبدلون په لور درومي، ایران له امریکا سره اتومي تړون کولی شي ! په دې خبره یې ترکیز بیا بیا کاوه چې افغانستان مونږ (امریکایانو) لپاره بد ځای دی... افغانستان ښه ځای ندی... امریکا دا مسولیت نلري چې افغانستان کې امنیت راولي ! !

دکتونکو په نظر: امریکا یې پوځیانو کې خورې ستومانۍ او په مقابل کې کلک پولادي مقاومت دامریکایانو په روحیاتو منفي اغیز دومره ډېر کړی دی چې آن داولسمشر په سویه یې تراخه حسوي ، ولې بیا بیا دا ویل: چې افغانستان... بد ځای دی... افغانستان... ښه ندی ! افغانستان کې امنیت ټینګول د دوئ دنده نده.... دامعنی لري چې هغه نور له جنګه تر سپوږمو راغلی دی...او لومړی ځل دی چې دامریکا ولسمشر دومره په ستوغه لهجه افغانستان یادوي... ښکاري چې دجګړې تراخه سپیني ماڼۍ هم ځکلي...، دلته په تیرو دیارلس کلوکې د زرګونو امریکایې پوځیان وژل کیدل اومعلولیدل ،په تریلینونو ډالر ښندل... او بیا هم جګړه بایلل... هغه ترخه حقایق دي چې داباما په مغزو او روحیه یې منفي اغیز کړی دی، چې آخر ترڅو به دوئ(امریکایان) جګړه کوي؟ ترڅو به له خپل هېواد نه په ملیاردو ډالر افغانستان ته لیږي؟ بل امریکایي سیاستوالو هم درک کړیده که امریکا دلته یوه پیړۍ هم جګړه وکړي، بیا به هم بری ور په برخه نشي او یوه نه یوه ورځ به ټیټ سر وتلو ته اړکېږي، نو ښه داده چې سر له اوس نه جنګ ته ددوام ورکولو په ځای په انخلاء غور وکړي، ښکاري اوباما دسپیني ماڼۍ او پنټګان دننه جنګ پلوي ماغزه هم ساړه کړي وي،دهغوئ قانع کولو وروسته یې د ځواکونو ویستلو مهالویش اعلان کړی وي، دکوم له مخې به چې تر

۲۰۱۴ زکال ترپایه دامریکا ټول عسکر له افغانستانه ووځي، یوائې لس زره شاوخوا عسکر به یې تر ۲۰۱۲زکال پورې پاتې وي. چې هغه به همدغه کال کال



تر پایه وویستل شي.

افغانستان اسلامي امارت چې دامریکا په وړاندې روان جنګ کې د افغان لوري مقاومت رهبري کوي، پخپل غبرګون کې د امریکا بشپړ شکست ته په اشاره ویلي: د مهالویش ټاکل په شکست اعتراف دی، بګرام ته داوباما دناڅاپي سفر په اړه د امارت مطبوعاتي دریځ کې راغلي چې: داوباما لخوا دځواکونو دانخلاء لپاره مهالویش ټاکل که څه هم ښه زیری دی، چې امریکا دکومې لاسته راوړنې پرته دیته اړشوه چې له افغانستانه دعسکرو ویستلو لپاره مهالویش وټاکه، خو امریکا باید له افغان ولس نه دهغه وحشتونو په سر ښښنه وغواړي، کوم چې په دیارلس کلو کې په مظلوموافغانانووکړل، امریکا ته پکار دی نور دافغانانوله دوکه کولو ډډه وکړي او تیر اشتباهات تکرارنکړي، په غبرګون کې اسلامي امارت یو وار بیا خپل پخوانی دریځ ښکاره کړی دکوم له مخې چې څو له افغانستانه ټول خارجي عسکر وتلي نه وي ترهغه به جهاد او مقاومت پای ته ونه رسي او تر وروستي خارجي عسکره به جهاد دوام ولري ،اسلامي امارت پخپله وینا کې تر ۲۰۱۲ زکال پورې دامریکا دلس زره عسکرو پاتې کیدو پرېکړه په کلکه غندلې،داکاریې دجګړې دغځولو دسیسه اوپه ازادۍ باندې دمین افغان ولس لپاره په جدي ګواښ سره تعبیر کړی او په امریکا یې غږ کړی دی چې کوم کار دوه کاله وروسته کول غواړي، ښه داده چې هغه هم دا نن وکړي او ژرترژره خپل ټول عسکر ور وغواړي، هېڅ افغان ته پخپل هېواد کې دپردیو شتون د زغملو وړندی

داوباما داخبره چې افغانستان ښه ځای نه... بد ځای دی...رښتیا هم افغانستان یرغلګرو ته بدځای ، دیرغلګرو هدیره... او پردیو ته دوزخ دی... افغانستان پردیو ته په بد نظر ګوري، پخپله سینه داغیار ناولې پښې نه زغمي ،تاریخ ګواه دی دلته تل د لویو لښکرو سرونه په وینو کې رغړیدلي، چنګیزیان ، انګریزان او روسان مات شول، امریکا ته هم ډېر ویل دیرغل حماقت مه کوه، خو امریکا د خپل ځواک په غرور اونشه کې دومره مسته وه چې یوه یې نه اورېده،نن چې پوځونه یې دکلابندۍ په حالت کې دي ایله اوباما ته وریاد شول چې افغانستان بد ځای دی... افغانستان کې امنیت ټینګول دامریکا دنده نده... ایا ستا پرون دیته فکر نه و چې افغانستان ستاسو نه ؛ دافغانانو دی.... سوله او امنیت پکې ټینګول هم دافغانانو کار دی... ښه پوشئ ! تاریخ تکرارېدونکی دی... ، نړیوالو ته به ژر څرګنده شي چې افغانستان ته دخارجي لښکرو ننوتل اسان دي،خو پکې برې ورته ګران دی، دلته دیونانیانو ،چنګیزیانو اوایرانیانو ککرۍ خاورې شوې د ، انګریزیانو او روسانوهډوکې وراسته شوي دادی دامریکا ټول غرور هم او به شو او فرعوني کبر یې له خاورو سره خاورې شو.

دهېواد په مطبوعاتو کې دعالمانو ونډه

ليکنه
مفتي حبيب الله قاسمي
ددينې علومو مدرس او څېړونکی

دوهمه برخه

دسراج الاخبار دوهمه دوره:

د((سراج الاخبار)) دوهمه دوره د زيارکښو درمندو پوهانو اوپه ځانګړې ډول ددينې عالمانو دهڅواوهلوځلو له برکته له شپږکلن ځنډ وروسته بيا پيل شوه او د١٢٨٩ل په مرغومي کې چې د ١٩١١م کال دجنوري مياشت وه ددوهمې دورې لومړنۍ ګڼه يې په کابل کې چاپ شوه .

عالمانود((سراج الاخبار)) دبېرته فعاليدا له پاره ځکه زياريوست چې هغوی دمطبوعاتوله ارزښت اواغېزڅخه خبرو، لکه چې اوس داسلام دښمنان دمسلمانانوپرخلاف دهمدې مطبوعاتو اورسنيوله لارې دعامه ذهنيت خرابولو له پاره څومره کارکوي ! هغه دومره زيات اغېزمن او موثر دی چې زه يې تعبيرنه شم کولای ، ځکه خوبايد دمطبوعاتو اورسنيو اغېزاوارزښت له پامه ونه غورځوو .

همدې رسنيوزموږ نوی نسل په ډېره ناوړه لاره روان کړی دی، استاد حبيبي له نن نه پنځوس کاله دمخه دمطبوعاتو اوجرايدو په ارزښت او اغېز ډېره ارزښناکه ليکنه په ((طلوع افغان)) جريده کې خپره کړې چې دلته يې يوڅه اقتباسونه دموضوع ارزښت ته په پام سره را اخلو او بيا بېرته خپلې موضوع ته ورګرځو.

استاد حبيبي مرحوم ليکي : ((عزيزهموطنان پوهېږي چې جرايد په اوسنۍ دنيا کې څومره اهميت لري؟ او څومره دروند اندې دمسؤليت په جامعه کې پراوږو دليکونکو پروت دی؟ که وويل شي چې يومهم اولوی عامل داجتماعي اوسياسي اواصلاحي نهضتونو او انقلابونو داوسني دنيا جرايد دي له حقيقته به لېرې نه وي . ..... داښکاره ده چې مهمه وسيله اوصحيحه ذريعه دپاره دداسې اصلاحي تبليغاتو جرايد اومطبوعات دهغه مملکت دي اوبس .... هغومره ولوله اوها هوی چې جرايد او مطبوعات يې په اطراف کې ديوې چارې اچوي په بله ذريعه نه ميسريږي .... خلاصه يوه لويه وسيله دوېښتوب اونهضت اوپوهنې د ملتو همدغه مطبوعات اوجرايد دي.))[1]

دسراج الاخبار د دوهمې دورې قلمي همکار عالمان:

((سراج الاخبار)) که څه هم واکمنو ديوڅه وخت له پاره وتړاه ؛خوکار

کوونکو يې له کاره لاس وانه خېست ،خپلې هلې ځلې يې جاري اوګرندی وساتلې تردې چې د((سراج الاخبار)) تولنې څخه يې دآزادۍ ستر غورځنګ جوړ شوی و. زموږ مؤرخين اوپه تېره بيا استاد حبيبي په خپل ارزښناک او وروستي اثر((جنبش مشروطيت)) کې په ځانګړې پاملرنه

١ دغه مضمون استاد حبيبي د طلوع افغان دکالنۍ ١٣٢١ل په ګڼه کې خپور شوی و او ښاغلي زرين انځوردخپل کتاب د((ژورناليزم مخکښان)) ٢٧٧مخ کې خوندي کړی

دهغو عالمانو یادونه اوپېژندنه کوي[۲] چې له ((سراج الاخبار)) سره یې قلمي همکاری لرله. اودلته موږ تاسو ته پېژندنه دمستندو مراجعو په مرسته وړاندې کوو چې دې راتبولنې زیات وکړولم .

دسراج الاخبارلومړنی قلمي همکارعالم:

مولوي صاحب محمد سرور خان ((واصف)) ۳

مولوي صاحب محمد سرور خان د((سراج الاخبار)) له مهموغړو اولیکوالو څخه و، پلاریې مولوي احمد جان سوداګروچې نامتو عالم اودافغانستان داداري اوقضایي نظام مؤسس اونوښتګرګڼل کیږي.

مولوي صاحب واصف د((سراج الاخبار))[٤] په لومړی تاسیس کې ددې جریدې محرر او په اوسنی اصطلاح مسؤل مدیرو ،وروسته بیا د ((سراج الاخبار)) ټولنې غړی و.په هڅاندو اوزیارکښو مشرانو کې یاد شو[۵] دهمدې ملا په هڅو اوهاند د((سراج الاخبار)) ټولنې ډېوه نه یوازې ځلانده اوژوندۍ پاتې شوه بلکې دازادۍ سترغورځنګ ترې جوړشو راځۍ! همدا خبرې د استاد حبیبي له خولې واورو چې دهېواد نامتو مؤرخ اودپېښو کره شاهدي بلل کیږي.

استاد لیکي : ((دسراج الاخبار)) انجمن کارکه څه هم په ظاهره دهغو خندونوله امله دکم وخت له پاره ودرېد چې یرغلګرو انګریزانو ایجادول ؛خوله درې کلن ځنډ وروسته دغه ټولنه دیوه منظم غورځنګ په بڼه میدان ته راووت چې نوی پوهه ملګري یې هم موندلي وو..... ددې غورځنګ مخکښ اوسروال مولوي محمدسرور خان واصف و))[٦] .

مولوي صاحب نه یوازې دصحافت میړنی و ؛بلکې ددیني علومو ښکلي مدرس هم و، پرکال (۱۳۳۳هـ)دحبیبه مدرسې مدرس وټاکل شو، دشاګردانوپه روزنه کې زیات مخلص و، لکه چې استاد حبیبي د میرقاسم له خوله لیکي :((مولوي صاحب دحبیبه مدرسې یوداسې زیارکښ مخلص مدرس وچې دغسې مدرس بیاحبیبه مدرسې ونه موند)) .[٧]

دتدریس ترڅنګ مولوی سرورواصف دقضا په چاروکې هم ماهرو د قاضایانوله پاره یې ((اساس القضات)) کتاب ولیکه چې هغوی ته یې دیوې اساسنامې حیثت درلود[٨] .ددې کتاب له مطالعې نه دنوموړي علمي مقام په علم الفقه کې ښه ځلیږي ، نوموړي له ځواني څخه په علم الفقه کې دښې مطالعې خاوند و اودنامتو عالمانوترنګراني لاندې یې دفتوا په فن کې عملي کار د((سراج الاحکام)) په ټولنه کې کړې و چې په اوسني اصلاح ورته د((فقهې اوفتوا تخصص)) وایي .

---

۲ دغه راز استاد لیکي : ((هغه مهال په کابل کې دریو کورنیو دمولوي په لقب یآدیدلې : لومړی :مولوي عبدالروف خاکي دشاهي مدرسې موسس اود((سراج الاخبار))لومړنی موسس له دوه زامنوسره هریو : مولوي عبدالواسع اومولوي عبدالرب .

۳ جنبش مشروطیت ۹۹مخ .

۴ سراج په عربي ژبې کې ډیوې اوچراغ ته وایي دامیر حبیب الله په زمانه کې دغې کلمې زیات دودو موند، نوموړي هم د((سراج الملة والدین))لقب ورکړل شو اخباریې هم د((سراج الاخبار)) په نامه یاد شو او هغه فتاوی چې دنوموړي په عصر کې ولیکل هم د((سراج الاحکام))په نامه یاده شوه اوآن چې هغه شاهي ماڼۍ چې په جلال اباد کې دنوموړي ودانه کړې د((سراج العمارت))په نامه یاده شوه.هندیان زموږ په اړه وایي : افغانان دیوه شي په مینه کې زیات افراط کوي اودغه راز دوی تقلیدي ذهن لري ، هره شي چې له مخکې روان وي هغه ته خلک هڅوي اونوی اومتبادل شي ته کم میلان ښکاره کوي ،په دوی کې هر نوی شي په ډېر په وخت سره دود مومی اوکله چې دود شي بیایې له منځه تګ هم هغومره وخت غواړي څومره یې دود کولو غوښت.

۵ مخکنۍ اثر اودژورنالیزم مخکښان ۲۸۷مخ .

٦ جنبش مشروطیت ۳۴مخ .

۷ جنبش مشروطیت ۳۷مخ

۸ ملي مبارزې ۹۷مخ .

استادحبیبي دمولوي واصف په اړه لیکي : ((نوموړی د((سراج الاحکام فتاوی)) په ترتیب اولیکنه کې هم شمولیت درلود ، ده او مولوي قیام الدین نیازي په ښکته درجه دمفتي دنده لرله))[9]

د((سراج الاحکام فتاوی)) په اړه استاد حبیبي لیکي : ((دامیر حبیب الله خان په عصرکې یو جمعیت العلماء شتون درلود چې د ((جمعیت تالیف فتاوی سراج الاحکام))په نامه یادیده ،ددې فتاوی دترتیب ،لیکنې، احکامو اومسایلو داستخراجولو ،څېړنې اوژباړې کارپنځوسو(۵۰) علماوو ته سپارل شوی و چې بیلې علمي درجې یې لرلې.

د((سراج الاحکام)) دفتاوی کار دهېواد لس متبحرو علماوو ترنظارت اوڅارنې لاندې سرته رسیده ، په دې متبحرو عالمانو کې ګل اخنزاده احمدزی ، دچهار باغ میر صاحب مولوی غلام محمد(دمیر قاسم پلار[10]) مولوي عبدالروف اخنزاده خاکي[11]، مولوي عبدالرزاق اندړ، مولوي احمد جان اخندزاده توخی ملا لالاګل اخنزاده ارغندیوال یادیدل))[12]

له دومره علمیت پوهې اوسترو خدمتونو سره سره بیاهم دغه عالم ونه بښل شو اوامیر حبیب الله خان ونیو، اوپه شیرپورکلاکې په توپ پورې وتړل شو او والوزل شو.[13] ده ورته ډیر عالمان اودکارخلک واکمنو بې موجبه په تېروخت کې په توپ پورې تړلي اوبیایي په ډیره بې رحمي الوزولي دي څکه زموږ په ټولنه کې دواکمنو تعامل له پخوا راهیسې همداسې پاتې شوی دی اودکاردخلکو موبیا په حکومتي چاروکې له څه ناڅه لاسوهنې زړه صبر شوی نه دی چې دګټې په ځای ورته زیان اړولی دی او واکمنو هغه لاسوهنه ددرباریاي چاپلوسانوپه لمسون نه ده زغملې اوتورن ته به یې له کچې زیاته سزا ورکړه.

مولوي صاحب هم خپل مرګ بې موجبه ګانه. وایي چې کله مولوي صاحب دتوپ خولې ته تړل کېده نوپه یوه

---

۹ جنبش مشروطیت : ۳۷

۱۰ میر صاحب محمدقاسم دهېواد نامتو علمي اوتاریخي شخصیت و، په سراج الاحکام فتاوی کې یې دمحرر دنده لرله. دحبیبیه مدرسې مدرس هم و، د زیاتې تجربې اوسیاسي بصیرت خاوند و ،دمطبوعاتو لومړنی رئیس و، د علم اومعرفت علاوه یې دهېواد داجتماعي اوسیاسي چاروپه سمون کې لوی لاس درلود ، دخپل دهسک روحاني اوعلمي منزلت له امله واکمنو په ځینو چارو کې دی اوده قدرمن پلار خپل همکار ګرځولی و، پلار یې دامیر جبیب الله خان اودهغه دکورنۍ دغړو استاد اوهغه مهال نامتو عالم و، میر قاسم دوخت دواکمنو له لوري ډول ډول فشارونه او تکلیفونه لیدلي وو اوپه وار وار زندان ته استول شوی هم و.

میر صاحب په کابل کې یې دشیخ الهند د((وریښمین دسمال غورځنګ))له ملګرو سره هم نږدې اړیکې لرلې چې د ((جنودربانیه)) په نامه یاید ه ، میر صاحب دنادرخان په وژنه کې تورن وبلل شو، شپاړس کاله په ارګ کې زندان تېر کړ ،له خوشې کېدو وروسته دشاه محمودخان په کابینه کې دعدلیې وزیر و .له ځور او ناورنینو ډک ژوند یې تېر کړ . دخپل ژوند خلاصه به یې په لاندې شعر کې وړاندې کوله :

عشق شور انګیز مارا بر سر کوی تو برد
بر تلاش خود چه مي نازم که ره سوی تو برد

دغه نامتو سیاستوال د ۱۳۵۷ل دحوت په ۲۲مه دکابل په څلورمه کارته ومړ . د نوموړي تاریخي معلومات استاد حبیبي په ((جبنش مشروطیت)) کې خوندي کړي دي اوله نوموړي څخه زیات اغېزمن ښکاري .اخذونه : جنبش مشروطیت مخونه ۴۸نه تر۵۱ پورې مخونه ، ملي مبارزې : ۱۰۸تر۱۱۳مخ پورې

۱۱ ددې نامتو عالم پیژندنه موږ ددې مضمون په لومړی سر کې کړې وه .

۱۲ جنبش مشروطیت ۴۵مخ ،افغانستان درمسیر تاریخ ۷۰۹مخ ملي مبارزې: ۹۷مخ

۱۳ مخکنی اثر ۴۵مخ

پانه يې دغه وروستي توري وليکل: ((په داسې حال کې چې پرخدای اوپه امنت بالله وملايکته وکتبه ...تراخره بشپړ ايمان لرم ، پاچااواسلام منم ؛خودخواشيني ځای دی چې دهغه په مخالفت قرباني کېږم))[١٤]

مرحوم پوهاند رشاد يې داعدامولو لاملونه داسې په ګوته کوي : ((حبيبه دارالعلوم په افغانستان کې دسياسي مفکورې د رشد اوحزبي تنظيم زانګوه ،په دې دارالعلوم کې ... مولوي محمدسرورخان واصف ، مولوي غلام محی الدين افغان... غوندې حساس اودراک استادان وو، دوی استعمار اواستعمارچيانو ته په بده سترګه کتل، له ظلمه يې کرکه کوله . دافغانستان دبشپړې خپلواکي دسم اداري نظام اوعلمي او تخنيکي ودې اوقوت په هڅه کې وو، داجتماعي درد ښتنان پرې را ټولېدل ځوې کرار ديوې سياسي ډلې بنه غوره کړه ....دوی دپاچاپه قهر اخته شول دغلام محمد غبار په قول نهه تنه يې ووژل شول يو په هغوکې (مولوي) واصف و ١٥))

په ((سراج الاخبار)) کې دمولوي واصف زياتې ليکنې نه ترسترګو ځکه دنومورې بشپړه پاملرنه دسراج الاخبار ټولنې دملګرو په پالنې اوروزنې اودنيولو ځيرکوخلکو راجلبولو ته اوښتې وه ځکه د((سراج الاخبار)) په لومړي ګڼه کې دمولوي واصف يوه غزله خپره شوې ده چې دلته يې مطلع را اخلو اوبشپړ متن استاد حبيبي په خپل کتاب جنبش مشروطيت کې خوندی کړی دی :

بحمد الله که از آثاررحمت يزداني ـ خديو داد گر مر بنای عدل را باني[١٦]

مولوي احمدجان الکوزی دافغانستان داداري اوقضايي نظام موسس او بنسټګر

مولوي صاحب احمدجان دمولوی سرورواصف پلار و داچې نوموړی دهېواد په کچه يې سترعلمي خدمتونه کړي دلته لنډه پيژندنه او تاريخي کارنامې ليکو.

مولوي احمد جان په قام الکوزی د آزادخان زوی اودکندهارارغستان دبالاژړی استوګن و، داميرعبدالرحمن خان ددربار له مقربينو څخه و، په اداري او علمي چارو کې يې لوی لاس درلود ،په ځانګړې ډول يې دانګريزانو له دوهمې ماتې اووتلو وروسته د قاضيانو په روزنه کې يې زياته ونډه لرله .

دقاضيانو اومحاکمو دلارښوونې له پاره يې يوښکلی کتاب د ((اساس القضات)) په نامه وليکه چې په ١٣۶ قاعدې اواصول يې لرل اودوه ځله چاپ شو، تردې دمخه يې پرکال ١٣٠٩هـ ددولتي ادارو د تنظيم له پاره يوبل کتاب د(قواعد دولتي) په نامه په ۶٣فقروکې وليکه ،چې هغه مهال چاپ هم شوی . مولوي صاحب دپښتو اودري ژبو ډير ښکلي شاعرهم و ښکلي ديوان هم لري.دغه نامتو عالم په ١٩٠٢ م کې ومړ اوبيا په کندهارکې دصوفي دمزاز ترڅنګ خاوروته وسپارل شو[١٧]))

دسراج الاخباردوهم قلمي همکارعالم مولوي عبدالرب

مولوي عبدالرب دهېواد له هغونامتو علماوو څخه و ، چې په افغانستان کې يې دعلم اومعارف دپراختيا له پاره زيات زياراېستلی او له واکمنوسره يې دنويو ښوونځيو په تاسيسولوکې زيات دقدروړ خدمتونه کړي دي [١٨].

دغه نامتو عالم د مولوي عبدالروف خاکی کشرزوی و چې د((سراج الاخبار)) قلمي همکارو، دغه نامتو عالم

---

١۴ جنبش مشروطيت ۵۵مخ او ملي مبارزې : ١٠١مخ داستاد محمدولي زلمي ليکنه .

١۵ جمرياني افغان دپوهان رشاد مقاله دافغان ياد ٢٣مخ .

١٦ جنبش مشروطيت ۴۵مخ اودشعر متن په ملي مبارزي کې هم خوندی دی .

١٧ جنبش مشروطيت ٣۵مخ . ملي مبارزې ٩٧مخ .

١٨ دکندهار مشاهير : ٨٠ مخ داستاد محمدولي زلمي ليکنه .

دافغانستان لومړنی ملا وچې نوي قوانین یې وه ابستل اوهغه یې داسلامي شریعت اوحنفي مذهب سره برابرکړل اوپه افغانستان کې یې وچلول [19] اوپه اماني دوره کې دتمیز رئیس هم و [20]، قرانکریم به یې په ډیرښکلی آواز دتجوید له قواعد سره سم تلاوت کاوه .

مولوی عبدالرب دمولوي عبدالروف دوهم زوی وچې د ۱۲۹۵ هـ په کندهارکې زیږیدلی و ، دیني زده کړې یې له خپل درانه پلاره اوله نوروعالمانو څخه په خصوصي مدرسوکې ترلاسه کړې وې ، نوموړی دامیرحبیب الله خان په عصرکې په حبیبیه مدرسه کې د دینیاتو او اسلامي فلسفې مدرس و، په شاهي مدرسه کې به یې طالبانو ته دملایي کتابونه هم درس کول ... ده دنویو ښوونځیو په تاسیس اودنویو معارفو په پراخولو کې لوی لاس درلود ، دمعارف دشوار غړی و د۱۳۳۳ هـ کلونو په شااوخواکې د کابل دلومړنیو ښوونځیو اودکابل د دارالمعلمین مشرهم و)) [21]

په سراج الاخبارکې دمولوی عبدالرب قلمي همکاري

استاد حبیبي لیکي : ((مولوي عبدالرب دسراج الاخبار له قلمي همکارنوڅخه و، دیني مضامین په نوي علمي سبک ولیکل ، د۱۳۳۳ل کې دخپل درانه پلارمولوي عبدالروف له وفات وروسته دربارته وغوښتل شواوپه شاهي دربارکې یې د((ریاست شریعت)) مقام یې درلود اوآن چې ښاغلي عبدالهادي وایي : دنوموړي له وفات وروسته داسې څوک پیدا نه شول چې دغه تشه ډکه کړي [22] .له امیرحبیب الله خان سره دمشرقي په سفرکې ملګری واوپه هغه شپه دمحرقې (وچکی) له امله په جلال اباد کې ساه ورکړه په کومه شپه چې امیر دلغمان دلغمان په ((کله ګوش)) کې ووژل شو اوبیا هوری خاور ته وسپارول شو)) [23] خدای پاک دې وبښي .

د مولوي عبدالرب تالیفات

دمولوي عبدالرب تالیفات زیاتره درسي کتابونه وو چې دښوونځیو د نصاب له پاره په دري ژبه لیکل شوي اوچاپ شوي دی چې د((حبیبیه مدرسه)) په ((بیت العلوم)) کې اونوروعصري ښوونځیوکې تدریس شول استاد حبیبي دمرحوم عبدالرب ټول تالیفات اوه (۷)یاد کړې چې په دې کې یې ارزښناک اثارد((سراج الفقه)) په نامه وچې په دوه ټوکه کې په کابل کې پرکال ۱۳۳۱ل کې خپور شوی و ،بل کتاب یې ((سراج القضات)) دی چې ناچاپ پاتې شوی دی اودکابل په ملي ارشیف کې یې نسخه خوندي ده. [24]

دمولوي عبدالواسع پیژندنه

دمولوي عبدالرب مشرمولوي عبدالواسع نومېده دی چې د هېواد په کچه یې زیات علمي اودیني خدمتونه لري ،دهېواد په اداره اوقضایي نظام کې یې ډیرې خواری ګاللې دي ، دقاضیانو دروزنې له پاره یې ښوونځي پرانېستل ، د قضایي نظام له پاره یې ګټور کتابونه ولیکل،داساسي قانون په جوړونه اوله شرعي اصولو سره دهغوپه پرتله کولو کې یې هم زیات زیارو ګاله ،دغه راز دپښتو ژبې دعلمي کولو اودبډاوي ژبې ګرځولو له پاره لومړنی بنستونه ایښي دي .

دهېواد نامتو مؤرخ استاد حبیبي په (جنبش مشروطیت) کې نوموړی زیات ستایي اوښه پیژندنه یې کوي ده اودمرحوم میرقاسم له خولې لیکي: ((مولوي عبدالواسع

---

۱۹ جنبش مشروطیت ۳۵مخ . ملي مبارزې ۹۷مخ .
۲۰ چراغ انجمن ۱۴۴مخ .
۲۱ جنبش مشروطیت ۵۵مخ ،دکندهار مشاهیر ۸۰مخ اوخپل یاداښتونه .
۲۲ جنبش مشروطیت دعبدالهادي داوی له مقالې څخه چې د((امان افغان جریدې)) په ۱۰مخ لومړی ګڼه دکال ۱۲۹۸ل کې دوری په ۲۲مه نېټه خپره شوې وه .
۲۳ مخکنی اثر ۵۶مخ .
۲۴ مخکنی اثر ۵۶او ۵۷مخونه .

د مولـوي عبـدالروف خـاکي مشـرزوی او متبحـر عـالم و، زوکړه يې په کندهارکې د ۱۲۹۰ هـ کلونو په شااوخوا کې شوې وه. دامير حبيب الله خان دامارت په وروستيو وختونوکې د کندهار دلومړنيو ښوونځينو سروال اومشرو ، دمجاهدينو په ليکوکې د ازادۍ بيرغ وړونکی و.

دپاچا امان الله خان په دوره کې کابل ته غوښتل شـو اوداساسي قانون په جوړونه کې يې له ترکي پوهاند ((بدري بيـک)) سـره يـې يوځـای کـارکـاوه . نومـوړي دقـوانين پـه جوړونـه اودهغـوی پـه پلي کولـو اولـه شـرعي احکامو سـره دهغوپه پرتله کولوکې زيات خدمتونه وکړل ،څکه خـو لـه کال ۱۲۹۹ل کال وروسته چې کوم قوانين اوفرمانونه خپاره شول دپاچا له لاسليک سره دنوموړي لاسليک هم ترسترګو کيږي چې توري يې داسې دي : خادم العلماء محمدعبدالواسع کندهاری))[۲۵] .

مولـوي عبدالواسـع پـه کابـل کې دقاضـيانودروزنې مرکزونه پرانيستل اوهغوی ته به يې تدريس هم کاوه استاد حبيبي ليکي : ((نوموړي دغه رازپه کابل کې دقضايانوله پاره دابتدايي ښوونځيو په جوړونه کې زياروکاله اوهغوی ته يې دفقهې درسونه ورکول [۲۶].))

دمولـوي صـاحب د تاليفاتوشمېر اوه (۷) کتـابونو تـه رسيږي او ترټولـو ارزښـناک اثـريې اسـتاد حبيبي ((تمسـک القضـات)) بـولي چې دمحـاکمو لـه پـاره يې ليکلی و، دغـه کتاب پرکال ۱۳۰۰ل په کابل کې خپور شـو. چې ټولې ۱۱۱۳ مادې لرلي ،لومړی ټوک دحقوقوله احکامو څخه بحث کاوه او دوهم ټوک يې بيا دجزا احکام لري [۲۷].

پښتوژبې ته دمولوي عبدالواسع خدمتونه

دامان الله خان په وختونوکې دکابل په شاهي ارګ کې دپښـتنو پوهـانو يـوه علمي اوتحقيقي ټولنـه (مرکه دپښـتو) ددې له پاره جوړه شوه چې پښتوژبه بډايه اوعلمي کړل شي ،دغې ټولنې ګټور علمي اثارخپاره کړل ،ددې ټولنې مشـري دمولـوي عبدالواسـع پرغـاړه وه[۲۸] اسـتاد حبيبي ليکي: ((پـه کابل کې د ((مرکه د پښتو)) ټولنه چې دکال ۱۳۰۱ل په عقرب کې اکتـوبر ۱۹۲۲ م کې دارګ پـه شـمالي بـرج کې دمولـوي عبدالواسع ترمشري لاندې پرانيستل شـو، نوموړي دپښـتو ګرامردوه ګټوره کتابونه د ((يوازنۍ پښتو)) او ((پښتويه)) هم خپاره کړل))[۲۹]

دغـه نـامتو عـالم د۱۳۰۲ل لـه دعقـرب وروسـته ترکال ۱۳۰۵ل پـورې قاضـي القضـات اودمحـاکمو ريـس هـم و، سـره لـه دې چې نومـوړي پـه هغـه دوره کې زيـات خدمتونـه کړي وو ؛خوبياهم دامان الله خان درباريانو لـه لاسـه پـه دې تـور کال يوکال بنـدي شـو چې دپاچا پرخلاف توطئه جـوړه کړې وه ،پـه سـقوي دوره کې پـه دې ګناه پـه شيرپور کلا کې پر کال ۱۳۰۸ل دجـوزا پـه مياشـت کې پـه شـهادت ورسـول چې دامـان الله خـان پـه تاييـد کې يې دسـقاوې نظـام پـرخلاف خلاف فتـوا ورکـړې وه اوپـه امـاني دوره کې يې پـه حکـومتي چوکيو يې کارکړی دی. [۳۰]

نور په بله ګڼه کې....

---

۲۵ جنبش مشروطيت ۴۵مخ
۲۶ مخکنی اثر
۲۷ مخکنی اثر

۲۸ دپښتو ادبياتو اوسنۍ دوره ۲۶مخ . دپوهاند زيور ليکنه .
۲۹ جنبش مشروطيت ۵۳مخ .
۳۰ مخکنی اثر ۵۴مخ .



د اسلامي امارت د اقتصادي او مالي چارو دکمیسیون له مشر سره مرکه

مرکه کوونکی : حبیب مجاهد

درنو لوستونکو !

دافغانستان اسلامي امارت چې دیوه برحال نظام په حیث دافغانستان په نږدې اتیا فیصده خاوره باندې حاکمیت لري د مختلفو نظامي او ملکي اداراتوترڅنګ یې یوه مهمه اداره د اقتصادي او مالي چارو کمیسیون دی، چې داسلامي امارت په تشکیل کې دمالیې وزارت یا مرکزي بانک په حیث د ټولو مالي امورو متصرف بلل کیږي، ددې لپاره چې ددې کمیسیون د چارو په اړه مو معلومات درسره شریک کړي وي د اسلامي امارت د کمیسیونونو له مشرانو سره د مرکو په لړ کې مو دا ځل د اقتصادي او مالي چارو دکمیسیون له مسؤل محترم ملا أبواحمد سره مرکه کړې ده چې ستاسو توجه ورته راګرځوو.

حبیب مجاهد : له هرڅه مخکې درته هرکلی وایو، که لومړی خپل ځان زموږ لوستونکو ته معرفي کړئ؟

أبواحمد: نوم مې ملا أبواحمد دی دکندهار ولایت اوسیدونکی یم، د اسلامي امارت د تاسیس له وخته بیا تراوسه پورې مې په امارت کې بیلابیل خدمتونه سرته رسولي او فی الحال د اسلامي امارت د مالي او اقتصادي چارو دکمیسیون دمسؤل په حیث خدمت کوم.

حبیب مجاهد: دمالي او اقتصادي چارو دکمیسیون په اړه که معلومات راکړئ، دغه راز یې که د فعالیت په څرنګوالي باندې هم رڼا واچوئ؟

أبواحمد : د مالي او اقتصادي چارو کمیسیون داسلامي امارت په تشکیلاتو کې د ټولو مالي چارو مسؤل کمیسیون دی، دا کمیسیون هم د مرستو، اعانواونوروعوایدو د راټولولو او تسلیمولو مسؤلیت لري او هم له دې لارې د اسلامي امارت ټولو اداراتو او اورګانونو ته پیسې ورکول کیږي ترڅو یې له اړتیا سره سم په اصولي توګه مصرف کړي.

د مالي چارو کمیسیون په ماهوار شکل ټولو کمیسیونونو ته د ټاکلیو مقرراتو له مخې د اړتیا وړ بودیجه ورکوي، دمیاشتې په پای کې دتېرې میاشتې د بودیجې لیکلی راپور له ټولو جزیاتو سره ترې غواړي، په دې برخه کې اصول دادي چې باید دهرې روپۍ د مصرف وجه او ټول مشخصات معلوم وي، ترڅو د پیسو د ورکیدو او اختلاس مخه ونیول شي، کله چې د اړونده کمیسیونونو له خوا دتیرې میاشتې د ورکړل شویو پیسو د مصرف راپور وړاندې شي بیا د راتلونکې میاشتې لپاره بودیجه ورکول کیږي، په دې برخه کې ټاکل شوی شفاف میکانیزم ددې باعث شوی چې داسلامي امارت دننه سل فیصده شفافیت نافذ شي، اسلامي امارت لله الحمد لکه څنګه چې په افغانستان دخپلې بشپړې واکمنۍ په مهال یې د شفافیت کارنامه درلوده اوس هم هماغو اصولو ته د وفادارۍ له امله په ډېر شفافه توګه خپلې مالي چارې تنظیموي.

حبیب مجاهد : تاسو د اسلامي امارت د تشکیلاتو او کمیسیونو خبره وکړه، ددې لپاره چې د اسلامي امارت دمصرفي اورګانونو په اړه راته معلومات شوي وي هیله ده که ددې کمیسیونونو په اړه لنډ معلومات راکړئ؟

أبواحمد : همدا اوس داسلامي امارت عالي کمیسیونونه په لاندې ډول دي چې البته هر یو بیا په خپل کور کې پراخ تشکیلات لري، داسلامي امارت محاکم، نظامي کمیسیون، د فرهنګي چارو کمیسیون، د تعلیم او تربیې کمیسیون، ددعوت او ارشاد کمیسیون، د صحت کمیسیون، دملکي تلفاتو دمخنیوي اداره، د بندیانود چارو کمیسیون، د شهیدانو، یتیمانو او معلولینو د چارو اداره، د سیاسي امورو کمیسیون، د مؤسساتو دچارو کمیسیون.

ددې کمیسیونونو دفعالیت په اړه که وواېو دېیلګې په توګه د صحت دچارو کمیسیون د زخمیانو، فلج شویو، معلولینو او راخلاصو شویو بندیانو د علاج مسؤلیت په غاړه لري، تاسو ته بهتره معلومه ده چې په افغانستان کې د جګړې د

ټپيانو اومعلولينو تعداد خورا زيات دی او هرکال په زرګونو نور وربانديږ اضافه کيږي،د صحت کميسيون د اندازه ګيری له مخې د هر زخمي، معلول يا فلج شوي د علاج متوسط مصرف دوه لکه افغانيو ته رسيږي چې معادل يې تر څلور زره ډالرو زياتې پيسې کيږي، په دې منځ کې داسې مريضان او ټپيان هم وي چې مصرف يې شايد ددې څو برابره زيات شي، دبنديانو د چارو کميسيون دافغانستان په ټولو بنديخانو کې له بنديانوسره د پيسو کومک کوي، تاسوته معلومه ده چې په افغانستان کې په لسګونو زره مسلمانان پرته له جرمه په بنديخانو کې پراته دي، اسلامي امارت د افغانستان د يوه مسؤل او متعهد اسلامي خوځښت په حيث دا خپله اسلامي دنده بولي چې د زنداني مسلمانانو سره دخپل توان په اندازه مرسته وکړي دهمدې لپاره يې د بنديانو چارو دکميسون په نامه مستقله اداره تاسيس کړي چې له مظلومو زندانيانو سره د علاج او په زندان کې دورځنيو مصارفو لپاره مرسته کوي.

د شهيدانو، يتيمانو او معلولينو دچارو کميسيون له امريکايي يرغل راوروسته چې کوم ماشومان يتيمان شوي دي دافغانستان له ۳۴ ولا ياتو څخه د ددوی ليستونه يې له ټولو مشخصاتو سره راټول کړي او مرستې ورسره کيږي،دغه راز د فلج شويو او هغو معلولو افرادو سره هم مرستې کيږي چې معيوبيت يې زيات وي د کار کولو وړ نه وي، دغسې ډير افراد زموږ په ټولنه کې شته چې دواړه پښې، دواړه لاسه يا دواړه سترګې يې له لاسه ورکړي وي،چې اوس کورنۍ او اولادونه ورلغاړي دي او داسلامي امارت له مرستې پرته بل هيڅ مدرک نلري، د يتيمانو سره د نقدي مرستو نه علاوه داسلامي امارت د معارف کميسيون لخوا ددوی لپاره دارالا يتامونه هم جوړ شوي دي ترڅو دغه بې سرپرسته قشر په کې ديني زده کړې وکړي او راتلونکې يې روښانه شي،همچنان د دعوت او ارشاد يا جلب او جذب کميسيون بيا دهغو کسانو د ارشاد او لارښودنې مسؤليت په غاړه لري چې دامريکايي کفارو په صف کې ولاړ دي،دغه کميسيون کوښښ کوي چې دغه ډول غوليدلي مسلمانان ددښمن له صف څخه راجلا کړي ، دملکي تلفاتو دمخنيوي کميسيون ټول کوښښ کوي ترڅو ملکي او بې دفا ع افغانان له اذيت څخه وژغوري، دملکي تلفاتو د وقوع په مهال دغه کميسيون د متاثرو کورنيو سره مالي او نقدي مرستې کوي،همداسي دانور کميسيونونه هريو په خپله برخه کې دروند خدمت کوي اودرانه مصارف لري .

څرنګه چې ددې ټولو يادو شويو کميسيونو مالي اکمال د اقتصادي چارود کميسيون په غاړه دی نو ذکرشويو مواردو ته په پام سره ويلی شوچې اقتصادي کميسيون په بالواسطه توګه دافغانستان د مظلوم ملت د زرهاوو، مجاهدينو، مهاجرينو،کونډو، يتيمانو، معلولينو، زخميانو، بنديانو او معيوبو وګړيو متکفل او مرستندوی دی،چې د زياترو امرار معاش په همدې مرستو پورې تړلی دی .

حبيب مجاهد : لکه تاسو چې ورته اشاره وکړه رښتيا هم داسلامي امارت د اقتصادي چارو دکميسيون له لارې د نورو کميسيونونو په توسط له زرګونو يتيمانو،معيوبينو ،بنديانو او نورو مظلومو مسلمانانو سره مرستې کيږي، څرنګه چې مسلمانان ټول سره وروڼه ، يو تن او يو وجود بلل شوي دي، چې د ايمان په تقاضا بايد هرڅوک دبل مسلمان درد خپل درد وبولي او دخپل توان په اندازه ورسره مرسته وکړي،بې له شکه په هيواد، ګاونډيو هيوادونو او دنړۍ په نورو هيوادونو کې زموږ مسلمان وروڼه خپل ځان زموږ په درد راشريک بولي او هڅه کوي زموږ داولس له مظلومو او بې کسه يتيمانو، کونډو ، معيوبينو او زخميانو سره مرسته وکړي، که دوی وغواړي داسلامي امارت له لارې له دغو مظلومانو سره مرسته وکړي څرنګه کولای شي خپلې نقدي مرستې تاسو ته وسپاري او ستاسو له طريقه يې په دې مظلومو مسلمانانو مصرف کړي ؟

أبواحمد : که مسلمان اهل خير وروڼه غواړي له خپلو محتاجو او مستضعفو مؤمنو وروڼو سره همکاري وکړي او دهغوی احتياجات رفع دفع کړي ، نو بايد خپلې مرستې داسلامي امارت د مالي او اقتصادي چارو کميسيون ته وسپاري ترڅو په شفافه او اصولي توګه په خپل ځای ولګيږي ددې لپاره د افغانستان په داخل ، ګاونډيو هيوادونو کې يا دنړۍ په نورو هيوادونو کې دوی کولای شي د اقتصادي چارو دکميسيون د مسؤلينو او مرستو راټولوونکو نمايندګانو پوښتنه وکړي، ددې لپاره چې په پوره دقت او سهولت مرستې کميسيون ته وسپاري،زموږ په عمومي تيلفوني شميرو،۰۰۹۳۷۷۷۴۷۶۲۸۷ـ۰۰۹۳۷۰۵۷۹۰۰۹۶ دې تماس ونيسي، د همدې شميرو له لارې دي داقتصادي کميسيون د چارواکو له موندلو وروسته هغوی ته خپلې مرستې وسپاري، دغه راز د ايميل ادرس له لارې کولای شي په دې ادرسونو iea_donation@outlook.com ـــــ Financecm.iea@gmail.com رابطه وکړي او له مسؤلينو سره د مرستو درسولو په اړه او طريقه خبره وکړي.

دغه راز د هغو مسلمانانو لپاره چې په لرې هيوادونو خصوصا اروپايي او امريکايي هيوادونو کې اوسي،او په عمومي ايميل ادرسونو باندې له رابطې څخه خطر محسوسوي، کولای شي داسلامي امارت په رسمي ويب پاڼه http://shahamat.info/ کې داقتصادي کميسيون سره داړيکو دځانګړې صفحې له لارې دايميل رابطه وکړي، دغه لاره ځکه ډيره محفوظه ده،

چې داسلامي امارت د ویب پاڼې دننه یوازې زموږ مسؤلین تصرفات لري او بل څوک نه شي کولای دغه ایمیلونه وګوري،ددې لارې دوی کولای شي، داقتصادي کمیسیون له چارواکو سره له رابطې وروسته په محفوظه توګه د مرستو رسولو کار برابر کړي.

یوه خبره چې دیادولو وړ یې بولم داده چې ددښمن لخوا داسې ډیر تبلیغات کیږي چې د اسلامي امارت سره د خلکو په مرستو یې بندیز لګولی دی، او د پیسو دانتقال هغه لارې یې په بشپړ ډول بندې کړې دي چې له طریقه یې اسلامي امارت ته پیسې انتقالیږي، باید ووایم چې دا یوازې یو پوچ تبلیغ دی او زموږ دښمنان په داسې دروغجنو تبلیغاتو کې خورا مهارت لري، دوی د یرغل د پیل په مهال تبلیغات کول چې حتی د ځمکې په سر دوه اینچه شی هم وینو مګر وروسته ولیدل شول چې ددوی ترټولو حساسو مراکزو ته مجاهدینو له لویو موټرو او وسلو سره ننوتل، نو اوس دا ډول تبلیغات هم بشپړ دروغ دي که مسلمانان ورونه وغواړي له مجاهدینو سره مالي مرسته وکړي الله تعالی ورته محفوظې لارې برابروي، ځکه همدا الهي وعده ده الله تعالی فرمایي والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا – هغه کسان چې زموږ په لاره کې جهاد کوي موږ به خامخا ورته لارې وښیو، دا وعده یوازې بالنفس جهاد ته نه بلکې بالمال جهاد ته هم شامله ده، نو باید ووایم چې لکه څرنګه چې بالنفس مجاهدین ددښمن په وړاندې په میړانه مقاومت کوي زموږ مالدار ورونه هغوی چې غواړي په بالمال جهاد کې شرکت وکړي باید بې ځایه ونه ویریږي.

حبیب مجاهد: محترم أبواحمد صاحب ! که دا راته وویاست چې اسلامي امارت له اقتصادي اړخه په کومو منابعو تکیه دی؟

أبواحمد: دا پوښتنه ډیره مهمه ده اکثره خلک دا پوښتنه کوي چې اسلامي امارت دا دومره زیات مصارف څنګه پوره کوي، باید ووایم چې اسلامي امارت که څه هم ښکاره مالي منابع نلري خو ددرست اسلامي امت همکاري له اسلامي امارت سره ده، دنړۍ مظلوم مسلمانان چې له پیړیو راهیسې دیوه واقعي اسلامي امارت ارمانجن پاتـه شوي دي، لـه اسلامي امارت سـره مرسـته او همکاري خپله ایماني وجیبه بولي، همدا لامل دی چې په افغانستان کې دننه، ګاونډیو هیوادونو او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې مسلمانان له موږ سره مرسته کوي، دمسلمانانو دمرستې موږ خورا جالب مثالونه لرو چې دامنیتي ملحوظاتو او موضوع د اوږدیدو له امله نه غواړم دلته یې یادونه وکړم، خو په ټوله کې ویلای شم چې اسلامي امارت دعامو اهل خیر مسلمانانو لـه مرسـتو تمویلیږي، څرنګـه چې دامارت په دننه کې بشپړه داخلاص، قرباني او تقوی حالت حاکم دی، بشپړ مالي شفافیت شتون لري نوځکه دغه مرستې په ډیره شفافه توګه مصرفیږي او بې ځایه نه ضایع کیږي او په لیږو پیسوډیر کار کیږي.

حبیب مجاهد: په پای کې د عامو مسلمانانوخصوصا مالدارو مسلمانانو په نامه که څه پیغام لرئ هیله ده راسره شریک یې کړئ؟

أبواحمد: خپلو مسلمانانو وروڼو ته مې پیغام دادی، چې دا باید دوی د اجر او ثواب موندلو او خپل دیني مکلفیت اداء کولو یو فرصت وبولي، په افغانستان کې دنړۍ تر ټولو لـه ستر کفري طاقت او رأس الشیاطین څواک امریکا سره مقابله روانه ده، د افغانستان مجاهدین بنا یې د نړۍ په سطحه منظم ، پاک او له افراط او تفریط نه لري مجاهدین وي چې یوازې د اسلام په ننګ را پورته شوي او کفر یې له شکست سره مخ کړی دی، دا دمسلمانانو لپاره فرصت دی چې په دې ستره کارنامه او داسلامي تاریخ په زرینه بریا کې ځانونه برخوال کړي، که وګورو دافغانستان اوسنی معرکه په یوه شکل د صدر اسلام د بدر له غزوې سره مشابهت لري ځکه کفار ډیر قوي او مسلمانان نهایت ضعیف دي، دداسې ضعف په حالت کې د اسلام دفاع کول او له مجاهدینو سره مرسته کول په یقین سره له عادي حالاتو ډیر اجر لري لکه څنګه چې د بدر د غزا برخوال صحابه له عادي صحابه کرامو څخه ډیر افضل دي.

زه له مسلمانانووروڼو غواړم چې په مالي جهاد کولو سره له دې ستر اجر څخه ځانونه برخمن کړي، د جهاد لـه ذکر نـه علاوه اسلامي امارت تـه ددوو جهادونو کونډې، معیوبین، معلولین او مهاجرین وړ پاتـه دي چې کفالت یې داسلامي امارت په مرستو کیږي، دغه کسان زموږ د ټولنې ترټولو مظلوم قشر دی چې داسلام په ننګ یې قرباني ورکړې، کـه پرون یې په خپلو قربانیو سره مسلمانانو تـه له کمونیستي ښامار څخه نجات ورکړی، نن یې دادی امریکایي طاغوت ته په شکست ورکولو سره دمسلمانانو یو بل دښمن په ګونډو کړی دی، د اسلامي امت ددې مستضعفو اتلانو سره مرسته زموږ هریوه دیني وجیبه ده، چې باید مرسته ورسره وکړو او هیر یې نه کړو.

هیله ده چې مالدار مسلمانان چې په اوس وخت کې په ډیرو بې ځایه لارو پیسې مصرفوي باید لـه مال څخه د اخرت جوړولو لپاره استفاده وکړي او پـه روان جهاد کې دشرکت ویاړ ترلاسه کړي.

انکشافات تاریخ تیرشده امنیت ملی !؟

موفق افغان

در جهان استخبارات معمول اینست که ادارات امنیتی خطرات مواجه به نظام و کشور خودرا قبل از انجام کشف کرده و آنرا خنثی می سازند و این مسئولیت این ادارات است مگر بعید نیست که مخالفین وسایلی را روی کار آورد که احیانا این ادارات از کشف برنامه های آن عاجز بمانند و حادثهء بزرگ و یا کوچکی رونما گردد مگر در این حالت نیز انجام این چنین رویدادها به دور از رسد ذره بین های حساس ادارات امنیتی ناکامی آنان پنداشته میشود و بارها رخ داده است که مسئولین امنیتی بر این اساس استعفی داده اند.

در افغانستان حالات عکس آنچه است که در بالا ذکر شد. در اینجا با وجود موجودیت ادارات استخباراتی بیشتر از ۵۰ کشور، همکاری تنگاتنگ با ادارات امنیتی ادارهء کابل، تربیهء کارمندان این ادارات توسط جاسوسان خارجی، سرازیر شدن مليون ها دالر برای فعالیت های اوپراتیفی و عادی این ادارات، دست باز و بدون پرسش و عدم جوابدهی به هیچ مرجعی، بالا بودن از هر قانون و دستور و روا داشتن هر نوع ظلم و ستم بالای زندانیان مخالفین، مگر باز هم این اداره تنها آنگاه رویدادها را کشف می کند که تاریخ آن گذشته و تیغ به استخوان رژیم رسیده باشد.

در جریان سیزده سال گذشته همه مشاهده کردند که وظیفهء این اداره تنها کشف بعد از انجام حوادث است گویا این اداره امنیت نه بلکه شاروالی بوده و جهت صفایی محل بعد از وقوع آن در محل حادثه ظاهر می گردند. این اداره بارها توسط مجاهدین فریب داده شده است و رویدادهای بزرگی در محفوظ ترین اماکن شان انجام داده شده است بلکه ارگ و ریاست جمهوری، وزارتخانه ها، پایگاههای استخباراتی خارجی، دفاتر ادارهء نامنهاد امنیت و حتی رئیس عمومی امنیت نیز دستخورد حملات مجاهدین گردیده اند اما این ادارات بی شرمانه بعد از انجام رویدادها اعلان کرده اند که در این حملات استخبارات خارجی و یا گروههای خارجی دست داشته اند و یا این حملات در خارج از مرز پلان گذاری شده است.

سوال در اینجا است که وظیفهء ادارهء امنیت چیست؟ آیا کشف های تاریخ تیر شده و بعد از وقوع حادثه است و یا کشف قبل از حادثه؟ سپس اگر بپذیریم که گروههای خارجی و یا استخبارات خارجی در وقوع این حوادث دست دارند پس آیا اگر این چنین رویدادها همیشه رخ دهند و گروههای خارجی در آن دست داشته باشند ادارهء امنیت از ادای وظیفه و مسئولیت خود بری الذمه پنداشته میشود؟ آیا ریاست

خاصی برای استخبارات برون مرزی وجود ندارد؟ اگر حملات در خارج از مرز پلان گذاری گردد آیا تعمیل ان نیز خارج از مرز صورت می گیرد که این ادارات آن را بعد از رویداد کشف می کنند؟

اینهمه سوالاتی است که ادارهء استخبارات اجیر کابل جواب آنرا ندارد، زیرا آنان در مقابل حملات شدید و پلان شدهء مجاهدین آنچنان بی بس شده اند که دیگر چاره یی بجز هزیان گویی ندارند. مجاهدین امارت اسلامی آنچنان در این ادارات نفوذ کرده اند که نه تنها مهمترین برنامه های شان افشا می گردد بلکه محفوظ ترین ادارات، پایگاهها و افراد شان نیز مورد حملات مسلسل و پی در پی مجاهدین قرار می گیرند مگر این ادارات آنگاه از وقوع حادثه اطلاع می یابند که تلویزیون ها و مطبوعات خبر آن را نشر می کنند.

سپس بدون اندك درنگ و بدون احساس شرم کاپی همان بیان کهنه یی خودرا از آرشیف خارج کرده و به مطبوعات ارسال می دارند و یکبار دیگر خودرا شرمنده تاریخ ساخته و مسئولیت ناکامی خودرا بدوش استخبارات خارجی و گروههای خارجی و خارج از مرز می اندازند.



مجاهدین امارت اسلامی در این اواخر، حملات خویش را چنان برنامه ریزی می کنند که استخبارات جهانی از درك آن قاصر مانده است اینکه غلامان به آن پی برند خیلی بدور از امکان است. حملات گسترده و پی در پی در خلال چندین ساعت و احیانا در یك شهر کار ساده و آسانی نیست و هیچ شخص بیرون از مرز نمیتواند در کشور اجنبی این چنین حملات را انجام دهد. یگانه چیزی که ضامن این کامیابی و تسلسل در حملات شدید و کوبنده و ناکامی پی ناکامی دشمن تا به دندان مسلح با مدرن ترین وسیله و تکنالوژی، همانا جذبهء سرشار از ایمان جهادی است ورنه بعد از اینکه غلامان حلقه بگوش در ادارات امنیتی هزاران تن را به زندان های تاریك و گمنام خود کشانیدند، هزاران دیگر را به شهادت رسانیدند، صدها هزار مرتزقه را در قریه جات و قصبات و شهرها جاسوس گماشتند، مساجد را نیز از فعالیت های جاسوسی خود مورد استثنی قرار ندادند پس راهی وجود ندارد بجز اتکا به پروردگار مجاهدین که حقا چنانچه وعده فرموده است مجاهدین را بسوی راههایی رهنمایی می کند که عقل بشر، توانمندی استخبارات، تکنالوژی پیشرفته، پشت پناهی اشغالگران صلیبی وغیره وسایل دنیوی قاصر از درك آن اند.

پس زمان آن فرا رسیده است که بردگان صلیب در ادارات امنیتی به عجز و ناتوانی خود اعتراف کنند و به یکبارگی ملت را از تاریکی خارج کنند و علنا و به صراحت بیان کنند که دیگر توان مقابله و مبارزه با نیروی دست خالی اما قلب های سرشار از ایمان را ندارند. و بهتر است اعلان کنند که دیگر توان کشف و خنثی ساختن پلان هایی را ندارند که خداوند متعال مجاهدین را به آنسو رهنمایی کرده است ورنه برنامه های انسانی را اگرچه بیرون مرزی باشد نمیتوان از چشمان تکنالوژی پنهان ساخت.

دملي اردو! !
دپایښت دوه بنسټونه

سید سعید

پوځ دهیواد
او ملـــــت
دملاتړ ګڼل کیږي خو که په کوم پوځ کي ددیني اوملي ګټوپه پرتله دنس وفرج اشباع ته میلان ډیر ؤ، نو نه یوازي داچي دولس په دردبه و نه خوري، بلکي تر همدي دوو ارښتونو (نس وفرج)به دین، هیواد، ولس، منافع، نوامیس او.... قربانوي، دهمدغه ډول پوځونو بیلګي زموږ دهیواد په ګډون په سیمه اونړۍ کي ډیري دي .

په تېره دکابل اداري پوځ چي - ځیني یې ملي اردو بولي - نه په اسلامي روحیه اونه هم په ملي جذبه روزل شوی اوجوړشوی، یرغلګرویوازي په دې موخه جوړ کړی چي خپل اودلاس پوځي رژیم پایښت په تضمین کړي نوولس اوهیوادته به ددغه ډول پوځونو څه ګټه ورسیږي،ښکاره ده چي ګټه خو یې نشته تاوان یې دادی چي دبیت المال اودولس له جیبه مړیږي ،اوبیږي اوپالل کیږي ،خوچوپړپردیو ته کوي .

په اصطلاح دملي اردوپوځ خرابي یوازي دانه ده چي سمه روزنه یې نشته ،دې پوځ ته چي کوم کسان ورځي لویه برخه یې دکوروکلي لوپران ،غله ،بداخلاقه اونشه یان تشکیلوي ،کم کسان به داسي هم پکي وي چي دکاردنشتوالي له امله همدې لښکرکي داخل شوي وي یعني داسي کسان به پکي ونه موندل شي چي دهیواداوولس دخیر خواهۍ په موخه یې دملي !! اردویونیفورم غاړي ته اچولی وي .

دافغان عسکرودبداخلاقۍ اونااهلۍ ګراف تردې حده اوچت دی چي روزونکي اوپالونکي یې شکایت ځني کوي ،په دې وروستیوکي دبرتانوي پوځ ځینوافسرانوچي هلمندولایت کي دنده ترسره کړې خپل دفاع وزارت ته په یوې شکایت پاڼي کي لیکلي چي :افغان عسکر نشه یې توکي کاروي او د کم عمره هلکانو سره جنسي اړیکي پالي، دوی ویلي چي کله په شپنیو ګزمو کي دافغان عسکرو پوستو ته ورغلي، په څلونو یې لیدلي چي هغوی چرس ،تاریاک اوهیروین څکوي اوهمدا راز یې دخوب په یونفریزو چپرکټونو او بستروکي کم عمره هلکان ورسره لیدلي دي .

په دغه اعتراضیه لیک کي راغلي چي دوی په افغان عسکرو کي همدا د نشه یې موادو او اخلاقي فساد دکاروني اندېښنه دافغان اردو اوپولیسوله جګپوړو چارواکو سره شریکه کړې خوافغان چارواکو ورته ویلي چي :«که خپلو عسکروباندي محدودیتونه ولګوي بیاداردولیکي پرېږدي، نوله بداخلاقۍ اومخدراتوڅخه یې په همدې خاطر نه منع کوي چي دسختي جګړې له ډګره ونه تښتي» .

همدا رازدیو افغان ،پوځي له خولي هم ویل شوي چي :عسکر په عادي توګه هره ورځ په خپلوپوستو کي مخدره مواداستعمالوي او اخلاقي فساد تکرار وي .یوبل بیا ویلي چي که تاسي دافغان عسکر له کتار سره نژدې تېرېږئ نو دتاریاکو او هیرئینو بویونه به هرو مروحس کړئ .

دېري اندېښني وړ داچي دنشه یې توکو اواخلاقي فساد معتادین په همدې علت اوسبب ډیرو نورونااوړه کارونو ته لاس اچوي، ډیر څله به مولیدلي اواوریدلي وي چي په مخدره موادو او اخلاقي فسادروږد وکسانولویې لاري نیولي ،دخلګو کورونوته اوښتي ،خلګ یې تښتولي ان وژلي وي چي دهمدې ټولوعلت نشه اوبداخلاقي ده .

افغان عسکرو چي په کومو چاپواوعملیاتوکي ديرغلګرو ځواکونو سره په ګډه اوياځانګړې توګه برخه اخيستې، خلګو شکايتونه کړي چي دښځوګڼې، قيمتي شيان اونغدي پيسې يې غيبې شوي دي اوډيرځله به مو له مسافروداسي هم اوريدلي وي چي پر لويو لارودشپې له خواغله همدغه عسکر دی چي دورځي دملي اردوپه يونيفورم کي په پوستواوبيسونو کي پراته وي .

په ټولنه کي معمولا څوک په معتادو کسانوباندي باورنه کوي ،حتی دکوراودوکان يوکوچنی کارهم نه ورته سپاري ، خوتعجب دادی چي دکابل اداره دځان ،هيواداوملت دساتني چاري معتادينوته حواله کوي .دکوم پوځ چي سرلښکريان نشه يان وي له سپاهيانويې څه ګيله ،ويل کيږي چي دکابل ادارې لومړی کس (کرزی)دچرسو سګريټی وهي ، دمشاورينو، وزيرانو، قوماندانانو او واليانويې خويې پوښتنه مه کوئ چي دمخدراتو په دودونو او بويونو غرق اوداخلاقي فسادپه ډنډونوکي غوپه وي .

که دکرزي ادارې داردو، پوليسو، او اربکيانوپه ليکو اواياپه ټوليزه توګه ددغه رژيم په ملکي اوپوځي بخشونوکي وکتل شي دورايه معلوميږي چي دچارواکو ترټولولومړی اومهمه مشغله مخدرات اواخلاقي فساد دی، داخلاقي فساداونشه يي توکو په استعمال کي دپاټکسالارۍ اواوسني دور فقط دومره توپيرشته چي هغه مهال هر څه دسرک پر سرو، مګر اوس که هرارخيزفسادتر هماغه وخت زيات وي کم نه دی ،خومفسدين له سړکونو څخه دادارې فساد او جاسوسۍ په مټ دنګوشوومانيوته کوچيدلي اودخلګو له سترګو يې ځانونه پناکړي دي کنه هماغه اش اوکاسه ده.

داوسنيوچارواکود اخلاقي فسادد نه يادېدلويوه بله وجه داده چي اوس دټوپکسالارۍ ددورۍ برعکس ټوپکماردقلم مار سره غاړه غړۍ شوی اوپاټکسالار دفتر سالار ته ديارانې لاسونه ورکړي ،تردې اندازې يې دیارۍ تار مضبوط دی چي پرمخدراتو او اخلاقي فساد سربيره د دولتي اوملي شتمنيوپه چور اوتالان کي هم نيم په نيمه سره شريکان دي ،يوه لويه اونوې بېلګه يې داده چي، دنړۍ اوله درجه مفکر!!ولومړي نمبر قاتل ته دانډيوالۍ لاس ورکړاودامريکا ږغ يوپخواني مخلوع نطاق بياچي مريدانو يې دشيکسپير!! په لقب نازولی په دې عنوان چي «دوستم که مردار،رايه يې حلاله ده» ملاتړ اعلان کړ.

ددين دفاع

راشـــد

ايمـانه ! بيا مو زلمي تاته قصيـدې پخوي
د توکل او د نصرت منځ کې کتـــار ولاړ يـو

چې يوه خبښته يې پيلان د ابرهـــه شني وړی
بلې مکه کې ، څنګ په څنګ لکه يو ښار ولاړ يو

دوی يې جنون ، مونږ ه پرې پل د جنت لاره بولو
کتار کتار فدايي برید ته انتظار ولاړ يو

ډېرو قومونو الله پرېښود ، په زوړ ښول بل ته
مونږ لا په سره اور کې سجدې ته د باداړ ولاړ يو

رسول الله به رانه خوښ شي په همدې عمل چې
د دين دفاع ته په سختيو کې تيار ولاړ يو

خدای له ازله زمونږ په خټه حماسې ګډې کړې
اوس هر طاغوت ته پدې لاره لکه دار ولاړ يو

له کړاوونو را تېر شوي يو تازه پاځون کې
تورې په لاس،هر ځای زلمي په سر د مار ولاړ يو



بسم الله الرحمن الرحیم

بشـریت ګـام پـه ګـام ټوکرونـه خـوري ، کلـه د نفسـي خواهشـاتو لـه لارې او کله د عَدُو مبین شـیطان لعین د فرېب او تلبـیس لـه لارې ، او کلـه بیـا د شـیاطین الاِنْـس (انسـاني شیطانانو) د وسوسـو او د غلطې ټولنې د غلطو اثراتو لـه لارې ، لیکن د ارحم الراحمین کامل رحمت هرځای دې ضعیف الفطـرت انسـان تـه د مرسـتې لاس ورکـړی وي ، د عقـل غوندې سـتر نعمت یې ورکړ، بیایې د عقل د لارښوونې لپاره د انبیـاوو د را لېږلـو او د آسـماني تعلیمـاتو نظـام پیـل کـړ، پـه ځـانګړي ډول بیـا د محمد رسـول الله ﷺ د امـت لپـاره د دې رحمـت کاملـه مَظـاهِر دومـره پراخـه دي چې لیـدل یې سـړی حیرانوي .

د عبادت په ټولـو اړخونـو کې بې دربغـه آسـانتیاوې بیا په همدې عبادت باندې بې شمېره اجر او ثواب ، او ګام پر ګام د قبولیت او خوښۍ زېري ، په همدې سترو نعمتونو کې یو عظیم نعمت د روژې مبارکه میاشت هم ده، چې له سره ترپایه رحمت ، او د برکت میاشت ده ، داسې میاشت چې د الله د رحمتونو باران وي پکې .

د حضـرت سـلمان فارسـي ﷺ پـه یـوه لـوی روایـت کې راغلي چې رسـول الله ﷺ یـوواري د شـعبان د میاشـتې پـه وروستیو کې وینا وکړه داې اوویل:

"ای خلکو! پرتاسـو یـوه سـتره لـه برکتونـو ډکـه میاشت راتلونکې ده چې :

- ✓ یـوه شـپه ده پکې (لیلـة القـدر) چې د دې شـپې عبادت د زرو ۱۰۰۰ میاشتو له عبادت څخه غوره دی .
- ✓ د دې میاشـتې د ورځـو روژې نیـول فـرض دي ، او د دې په شپو کې لمونځ کول د ډېر ثواب او برکت لامل ګرځي .
- ✓ پدې میاشت کې د نفلو ثواب د فرضو هومره وي .
- ✓ او د فرضو ثواب په اویا ۷۰ چنده وي .
- ✓ دا دصبر میاشت ده او د صبر بدل جنت دی .
- ✓ لـه مسـلمانانو او خصوصـا لـه غریبـانو سـره د پېرزوینې او همدردۍ میاشت ده.
- ✓ پدې میاشت کې د مؤمن رزق زیاتېږي .
- ✓ یـوه روژه نیـوونکي تـه د روژه مـاتي ورکـوونکي ډېـر ګناهونه ښښل کېږي ، د دوزخ له اوره خلاصېږي ، په خپله روژه نیوونکي ته هم پوره اجر ښېل ورکول کېږي ، او (د الله) مهرباني داده چې د روژه نیوونکي ثواب ښخي نه کمېږي ، بیا رسـول الله ﷺ د دې تشریح هم وکړه چې برابره خبره ده که دا روژه مـاتی شـودې وي ، یـا یـوه دانـه خورمـا یـا یـو غـوړپ اوبه . پدې دربواړو پورتنی ثواب تر لاسه کولی شي .
- ✓ کـه کـوم کـس روژه نیـوونکي تـه داسـې روژه مـاتی ورکړي چې هغه پوره موړ شي نو په بدل کې به یې د حوض کوثر هغه اوبه ورکړل شي چې لـه څښـلو نـه وروسته یې بیا ځوک نه تږي کېږي .
- ✓ د دې میاشـتې وړومبی لـس ورځې د الله تعالی رحمـت دی ، منځنی لس یې د الله مغفرت (ښښنه) ده ، او وروستی لس یې د روزخ له اور نه د خلاصون پیغام .

✓ کوم روژه نیوونکی چې د خپل غلام ، (مزدور یا نوکر) کارسپک کړي ، نو د ده ګناهونه به و بښل شي" .

په نبوي ارشاداتو کې د روژې د میاشتې د ثوابونو او برکتونو یوه لویه ذخیره شته ، چې زمونږه د ا مخونه ورته کم دي ، پدې یوه روایت اکتفا کوو .

د کامل ولیتوب لپاره أسماني نسخه :

د روژې میاشت په حقیقت کې له یوه مؤمن نه د کامل ولي جوړولو – یوه خوندوره آسماني نسخه ده ، په قرآن شریف کې دا فرمان ده چې: { أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ } (یونس : ۶۲)

ژباړه : ګورئ ! بې شکه د الله ولیان او دوستان هغه دي چې نه کومه وېره وي پرې او نه هغه غمجن وي ، دوی هغه خلک دی چې ایمان یې راوړی او تقوا کوي .

لدې مبارک آیت نه را معلومه شوه چې د الله ولي چې له هرې وېرې او غم نه بچ وي هرهغه کس دی چې دا دوه صفات پکې موجود وي : ۱ ـ ایمان ، ۲ - تقوا . ګویا چې د کاملې تقوا دوهم نوم ولایت دی ، لدې آیت نه ورسته دې آیت ته اوګورئ : {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ } (البقرة : ۱۸۳)

ژباړه : ای ایمان والو ! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې لکه له تاسو نه په مخکنیو امتونو چې فرض کړی شوې وه ، د دې لپاره چې تاسو تقوا داره شی .

پدې آیت کې یې د تقوا د لاسته راوړلو وسیله روژه ګڼلې، د دواړو آیتونو له یو ځای کولو څخه دا ښکاره نتیجه را اوځي چې روژه د خدای د دوستی او ولیتوب لپاره وسیله ده .

د تقوا حاصلولو وسیله :

اوس دې ته لږ متوجه شئ چې تقوا پرهېزګاري څنګه حاصلېږي؟

ښکاره خبره ده چې روژه نیول د خدای د یوه فرض شوي حکم تعمیل دی ، د روژې په نیولو سره له مَنْهِيّاتُو او بدو کارونو نه ځان ساتل آسانه شي .

ګناهونه خو ځنې داسې دي چې له ژبې سره تړاو لري ، ځینې یې له خېټې سره ، او ځینې یې له شرمګاه عورت سره دا تړول بیا د انساني نفس له خواهشاتو سره تړلي دي، نفساني خواهشات هم ګڼ قسمونه لري، ځینې خصلتونه خو په انسان کې د داړونکو ځناورو دي، لکه یو څوک وهل ، تړل ، ماتول ، شکول ، د قهر او غصې غوښتنې پوره کول.

ځینې خصلتونه پکې د ځناورو دي : شکم پروري د خېټې تابعیت ، تن پروري صرف شخصی ګټې په نظر کې نیول ، ځینې د نفسي خواهشاتو غوښتنې له عورت سره تړاو لري چې مونږه یې جنسي خواهشات بولو ، دا درې واړه نفساني قوتونه چې تر څو پوري په خپل واک کې ونه نیول شي – ترهغې پورې تقوا حاصلول امکان نه لري .

اسلام دا غواړي او د اخلاقو تړول پوهان هم همدا وایي چې د دې درېواړو قوتونو اصلاح دې د ښه کوښښ مجاهدې او ریاضت په ذریعه ترسره شي ، یعنې د دوی حرکت لوری دې سم وي ، په خپل وخت او خپل ځای دې استعمال شي ، له بې ځایه او بې وخته استعمال نه دې ډډه وشي .

د دې مطلب ترلاسه کولو لپاره د هوښیارانو او حُکَماوو ترمنځ تل په یو څو اساسی خبرو اتفاق دی :

۱ . تقلیل طعام ، (کم خوراک کول) ۲ . تقلیل کلام (کمې خبرې کول) ۳ . تقلیل منام (کم خوب کول) ۴ تقلیل اختلاط مع الأنام (له خلکو سره کم تله را تله)

د روژې میاشت دا څلور واړه مقاصد پوره کوي ،

۱ ـ له سهاره تر لمر ډوبېدو پورې روژه نیوونکی له خوراک څښاک او د نفسي خواهشاتو له پوره کولو څخه بند وي .

۲ ـ د شپې تراویح بیا ورپسې د نورو نفلي لمونځونو او پېشلمې په واسطه د خوب د کنټرولو زمینه مساعده شوې .

۳ ـ د تلاوت ، ذکر ، استغفار ، کثرت او ډېروالي ته هڅونه شوې ، چې د خبرو کمولو تدبیر ده .

۴ ـ د روژې په وروستیو لسو شپوکې يې اعتکاف سنت وګرځاوه او پدې سره يې له خلکو سره د کم تلوراتلو او د بې ځایه ناستې د پرېښودلو لپاره تدبیر وښوولو .

ټوله میاشت د دې اعمالو کارونو د تمرین کولو مطلب داده چې دا خصلتونه دایمې اخلاق او عادات شي ، ځکه چې د پوره دېرش ورځو د پېشلمې د حکم له امله د سهار وخته پاڅېدو عادت پیدا کوي ، او د ټولې میاشتې د تراویحو حکم يې ورکړ ، مطلب داده چې د شپې مهال د ډېرو لمونځونو کولو عادت پیدا شي .

(د روژې ارزښت) :

دا خو د روژې مقاصد وو ، د دې د ارزښت معلومولو لپاره د رسول الله ﷺ لاندې سپېڅلې لارښوونې په کامل فکر او توجه سره ولولئ ، او عمل پرې وکړئ .

۱ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِوَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ.(البخاري)

ژباړه :کوم کس چې په روژه کې دروغ ویل او په دروغو (بد کار) کول پرېنږدي – نو د الله تعالی داهم نده پکار چې دی خوراک او څښاک پرېږدي. (چې د روژې اصل مقصد نه پوره کوي نو د و چې تندې او لوږې ضرورت څه دی! ؟) (بخاري)

۲ .عن ابي هريرة قال : قال رسول الله ﷺ" : وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَصْخَبْ فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ . (رواه البخاري ومسلم)

ژباړه : له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې : رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : او چې کله ستاسو د کوم کس د روژې ورځ وي - نو نه دې کومه سپکه د بې شرمۍ او بې حیاتوب خبره کوي ، او نه دې شور او چغې وهي ، که کوم کس ورسره جنګ کولو یا يې کنځل ورته وکړل - نو په جواب کې دې صرف دومره ورته اووایي چې : زه روژه یم .

۳ .عن أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ ﷺ قَالَ: كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلاَّ الظَّمَأُ ، وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلاَّ السَّهَرُ. (الدارمي) ژباړه : څومره ډېر روژه نیوونکي دي چې بې له تندې نه يې د روژې نور هېڅ مطلب نشته ، او څومره د شپې لمونځ کوونکي دي چې د شپې د لمونځ مطلب يې بې له بې خوبۍ نه – نور هېڅه نه دی .

۴ ـ ليس الصيام من الأكل و الشرب إنما الصيام من اللغو و الرفث فإن سابه أحد أو جهل عليك فليقل إني صائم .

ژباړه : روژه یوازې دا نده چې خوراک او څښاک نه کوې ، روژه خو په حقیقت کې له سپکو بې ځایه او بې ادبه خبرو څخه د ځان ساتلو نوم دی ، که کوم کس کنځلې درته وکړي یا بد اخلاقي درسره وکړي نو ورته اووایه چې : زه روژه یم .

۶ ـ عن أنس بن مالك قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم" : من لم يدع الخنا والكذب ، فلا حاجة لله في أن يدع طعامه وشرابه. (المعجم الأوسط والصغير للطبراني)

ژباړه : له انس بن مالک ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : څوک چې فحش خبرې او دروغ نه پرېږدي نو الله پاک يې دې ته اړتیا نه لرى چې دی خوراک او څښاک پرېږدي .(طبراني)

۷ .قال أبو عبيدة ﷺ : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول" :الصَّوْمُ جُنَّةٌ مَا لَمْ يَخْرِقْهَا . (النسائي)

ژباړه : روژه (له ګناهونو یو بچ کوونکی) ډال دی - تر څو چې يې سورى نکړي . (نسائي)

په یوبل روایت کې راغلي دي چې یو چا وپوښتل : نو په څه شي یې سوری کوي؟ وېويل : په دروغو او غیبت .

د خپلې روژې د څارنې لپاره دا حدیثونه دوهم ځل په ښه فکر او سوچ سره ولولئ ، بیا اوګورئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په څومره تدبیرونو د خپل امت تربیه او د هغوی د روژو د ساتلو لپاره لارښوونې کړې دي ، څو د روژې مقصد تقوا حاصله او د پرهېزګارۍ تربیه ترلاسه شي .

(د روژې اسرار) :

لنډه دا چې الله تعالی روژه له نفس سره د مجاهدې میاشت ګرځولې ده ، څو د اسلامي امت ظاهري او باطني اصلاح وشي ، دا وخت او فرصت د دې لپاره ورکړل شوی چې د خپلو اعمالو څارنه وکړي او په تېرکال کې یې چې څومره خامیانې کړې وي د هغې تدارک وکړي ، او د راتلونکې لپاره هم داسې تیاری وکړي چې بیا په اسانه د نفس او شیطان تر تاثیر لاندې رانشي .

د ورځې یې د روژې په څېر عبادت فرض کړ چې له نا اشنا اصلاحي تدابیرو نه ډک دی ، این تر دې یې حکم وکړ چې روژه نیوونکی دې له چا سره سختې خبرې هم نه کوی ، او نه دې کومه سپکه خبره له خولې څخه را باسي ، او که چا ورته تکلیف ورساوه یا یې کومه سخته خبره ورته وکړه نو په بوزه کې که څه هم د دې اجازه وه چې صرف د دې خبرې جواب ورکړي خو اوس پدې هم پابندي ولګېدله صرف دومره به ورته وایي چې زما روژه ده ، یعنې جواب نشم درکولی .

همداسې که په روژه ماتي او پېشلمي کې له اعتدال او میانه روۍ څخه کار واخستل شي او د رسول الله ﷺ له ارشاداتو سره سم روژه ونیول شي نو خامخا به د انسان په ژوند کې یو اوښتون (انقلاب) پیدا کېږي ، روحانیت به یې په پرمختګ وکړي یوه داسې منزل ته به رسي چې د الله تعالی مینه به په زړه کې خپلې زرینې وړانګې خورې او د خدایې مینې هغه اثر به په زړه کې پیدا شي چې په بل تدبیر یې حصول امکان نه لري .

د شپې یې د تراوېحو عبادت مقرر کړ څو د لمانځه او د الله د کلام له برکته په انساني نفس باندې هغه نقوش مرتسم شي چې په بل تدبیر یې حصول ناممکن وي ، په خپله ژبه قرآن لولي یا یې په غوږونو اوري ، د قیام ، رکوع ، سجدو ، په غولې د خدای په دربارکې په عبادت بوخت وي ، کله په دعا کې په سجده وي ، کله یې په خوله تسبیح او تهلیل جاري وي ، قدرت په څومره نا اشنا لارو په بندګانو باندې د مینې دا سفر لنډوي ، سبحان الله !

د تراوېحو د هرو څلورو رکعتونو په منځ کې چې کومه لنډه وقفه ناسته) وي په هغې کې د تسبیحاتو په ذریعه د الله تعالی لویي او عظمت بیانېږي بنده د خدای په مخکې حاضر وي ، له روحاني برکاتو څخه مالامال وي ، دا ډېر یو قېمتي وخت دی ، پدې کې د خدای لور ته له توجه څخه غفلت ندی پکار ، "کلمة تمجید" خو د هرکس یاده وي یعنې :

سبحانَ اللهِ و الحمدُ للهِ و لا إلـه إلا اللهُ و الله أكبرُ , و لا حَولَ و لا قُوَّةَ إلا باللهِ العَلِيِّ العظيمِ , دا لولئ , یا , سُبحانَ اللهِ و بِحَمْدِهِ ، سُبحانَ اللهِ العظيمِ ، په ژبه جاری ساتئ ، او یا هغه تسبیح چې فُقَهَاؤ لیکلې او ډېره جامعه ده ، هغه داده چې : سبحان ذي الْمُلْكِ و الْمَلَكُوْتِ، سبحان ذي الْعِزَّةِ و العَظَمَةِ و الْقُدْرَةِ و الْكِبْرِيَاءِ و الْجَبَرُوتِ , سبحان الحَيِّ الذي لا ينامُ و لا يموتُ سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ , رَبُّنَا و ربُّ الملائكةِ والُروحِ , و لا إله إ لا اللهُ نَسْتَغْفِرُ اللهَ نَسْئَلُكَ الجَنَّةَ .

دا درې درې وارې په هره ترویحه یعنې له هرو څلورو رکعتونو نه وروسته لولئ ،

مطلب دا چې په روژه کې الله تعالی د شرعي احکامو لپاره یو داسې پروګرام برابر کړ، چې که یو کس او غواړي نو کولی شي چې د ټول عمر لپاره دا نیک عادتونه په ځان کې پاخه کړي ، همداسې یې په روژه کې مسلمانان د مال خیراتولو ته وهڅول ، پدې سره یې د ده له پرهېزګاره کولو سره د سخي

کولـو تـدبیرهـم وکـړ، او د دده د طبعي بخـل اصـلاح یې پـدې سره وکړه .

لنډه داچې د ټولـو نېکـو اخلاقـو، تقـوا ، صـلاح ، نیکی ، نیکو خبرو ، جُود ، سخا او کرم نفس داسې تلقین يې وکړ او د دې لپـاره داسـې پروګـرام جـوړ شـو چې د انسـان عقـل ورتـه حیرانېږي ، لدېنه د ښه تدبیر جوړولو امکان نده پاتې ، د قرآن کریم په یوه ټکي کې ، دې ته اشاره شوې ، فرمان ده : {لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} یعنې روژه د دې لپاره دربانـدې فـرض کـړی شـوې چې تاسو پرهېزګاره او نېکان شئ .

دیني تربیه او د روژې میاشت :

نن سبا مور او پلار د اولاد په تربیه کې بې حده سستی کوي ، حال داچې لکه څنګه چې پدوی بانـدې فـرض ده چې په خپله لمونځ وکړي نیکان او پرهېزګاره شي ، همداسې د دوی په غـاړه دا کـار هـم ور اچـول شـوی دی چې خپـل اولاد او د کـورنی غـړو تـه دې لـمونځ ور زده کـړي ، او پـرې کـوي دې ، دا شرعي حکم ده چې :کله ماشوم د اوو ۷ کلونو شي نو د لمونځ کولو حکم ورته وکړئ ، ګویا چې لمونځ ور زده کول به لدې نه هم مخکې وي ، او که د لسو کلونو شي او لمونځ نه کوي نو مور او پلار دې هغه اُووهي لمونځ دې پرې وکړي ، مطلب دا چې هغه ته دیني تربیه ورکول او لـه هغه نه نېک سړی جوړول هم د مور او پلار په ذمه دي .

الله تعـالی بـه قـرآن کـریم کې د دې تاکید کـړی فرمـایي : {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا} (التحریم: ۶) یعني : ای ایمان والو ! خپل ځان او اهل او عیال له اور څخه بچ کړئ .

د روژې له میاشتې څخه دا ګټه په آسانه اخستل کېږي ، څکه چې پدې ورځوکې د ماښـام او ماخوسـتن لمانځه تـه د ماشـومانو طَبْعًا شـوق وي همداسـې يې پېشـلمي تـه د پورتـه کېدو هم شوق وي، دا د الله تعـالی لـه لوري نـه یوه قـدرتي رښا وي د هغه په زړه کې، که د ماشوم له دې فطري جذبې شوق او صلاحیت څخه کار واخستل شي نو په ډېره آسانه توګه هغه لـه لمانځه او تهجدو سره اشـنا کـولی شـو ، دا خـود روژې لـه برکتـه د اولاد د صلاح لپاره پدې وخت کې تدبیر جوړېدلی شي ، که انسان په خپله پدې خبرو عمل وکړي نو په خپله به د صالح کېدو انځورونه رامخ ته شي .

همداسـې پـه حـدیثونوکې دا میاشـت د پېرزوینې او همـدردی میاشـت ګڼـل شـوې ده، نـو ځکـه لـه ګاونـډیانو (همسایه ګانو) سره ښې اړیکې او مینه کـول پکاردي ، یو بل ته په لږ تحفه (ډالی) ورلېږلوکې هم ډېرثواب دی ، د دې لـه برکتـه الله تعـالی پـه زړونـوکې مینـه زیـاتوي ، او د نېکی سبب يې ګرځـوي ، په خپلې شاواخوا کې د خلکو پام نیکیو ته ور اړول او د نیکیـو خـورول – الله تعالی په مسلمان بانـدې فـرض کـړي دي ، نو یـوازې د الله تعـالی لپـاره یـو لـه بـل سـره د مینې او نېکی په فضـا کې چلېدل ضـروري دي ، په روژه کې دا کارهم ښه په آسانه ترسره کېږي چې د برکتونو لامل دی .

رب دې مونږ ټولو ته توفیق راکړي چې د روژې برکتونه په پوره توګه ترلاسه او د دې عاشقانه او لـه مینې ډک خـدایي عبادت د ثمراتو او آثرپوره برخه را نصیب شي ، آمین .

وصَلَّى اللهُ عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ حَبِيْبِ رَبِّ الْعلَمِيْنَ وخَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ محمدٍ وآلِهِ وصَحْبِهِ اَجْمَعِيْنَ .

۱۳۸۶ هـ ق ، روژه، ۱۹۶۷ م جنوري

د ژباړې تاریخ : ۱۴۳۱ شعبان ۲۸

دقرطبي جامع مسجد

او د هسپانيې د اسلام دښمني

نوې پريکړه

شهيد زوی

دنړيوالو لپاره عادي خو دنړۍ دمسلمانانو لپاره ډېر درد ونکی خبر دی چې د اسلامي فن تعمير شاهکار ستر تاريخي قرطبه جامع مسجد په کليسا دبدلو لپاره هسپانيه تياری نېسي.

هسپانيه يا سپين چې پخوا اندلس بلل کېده دطارق بن زياد په مشرۍ کې مسلمانانو فتح کړی و او کابو ۸ پيړۍ پرې د مسلمانانو واکمني وه ؛ پدې پيړيو کې له پرمختګ نه بې برخي او له تهذيب او تمدن نه ناخبره اروپا کې پروت دې هېواد ته چې مسلمانانو څومره هر اړخيزه وده ورکړه او اسلامي تمدن دلته څومره وځليد پدې دښمن هم اعتراف کوي. د خپلې واکمنۍ پرمهال چې مسلمانانو ددې هېواد د اوسېدونکو مسيحيانو سره کوم غوره او نرم سلوک کړی او بيا چې د اسلامي واکمنۍ دله منځه تللو پرمهال دمسلمانانو سره مسيحي حاکمانو او ولس کوم ظلمونه کړي او دوحشت نه په ډکو طريقو ټوله هسپانيه دمسلمانانو نه په مرګ يا ژوند خالي کړای شوه دا هرڅه دتاريخ پاڼو خوندي ساتلي دي او پرې په مختلفو ژبو کې کتابونه ليکل شويدي چې په محترمو لوستوالو کې به زياترو لوستي وي او دزموږ په همدې او نورو مجلو کې دهسپانې په اړه په مختلفو پلمو خپرو شويو مقالو کې ترې موږ بېدونه هم کړيده نو ځکه دظلم او وحشت نه ډک داتېر حالات نه رايادوم چې داکوچنۍ مقاله يې زغم هم نه لري؛ بس دټولې نړۍ دمسلمانانو لپاره دغم او درد نه ډک ددې نوي خبر په اړه يو څو مخه لېکل غواړم او په همدې پلمه دنړۍ په سطحه ددې ستر تاريخي جومات باره کې دمحترمو لوستوالو حضورته لنډ معلومات عرض کوم.

هو ! هغه مهال چې لا اروپا دجهل په تيارو کې ډوبه وه مسلمانانو په هسپانيه کې دديني علومو دسترو مدرسو تر څنګ دطب ، جراحت ، کيميا ، رياضۍ ، هندسې او نوي ساينس نورو علومو دښودانې لپاره ګڼ داسې ستر ښوونيزاو روزنيز مرکزونه موجود وو کوم چې په نننۍ اصطلاح کې پوهنتونونه ګڼل کېږي او ددېني علومو او عصري فنونو دلېکلو شويو کتابونو په سونو کتابتونونه ددې سيمې بې مثله علمي پانګه وه.

مسلمانانو چې دخپلې واکمنۍ په ۸ سوه کلن دور کې ددې هېواد ښارونه په کوم عالي کيفيت جوړ کړي وو په ټولې نړۍ کې يې ساری نه موندل کيدلو خو دغرناطې حصار الحمراء او دقرطبي جامع مسجد بيا داسې دوه ودانۍ وي چې نن هم ورته نړۍ له حيرانتيا ګوته په غاښ

ده او هر څوک يې په انساني تاريخ کې د تعمير د فن ستر شاهکار ګڼي ؛ د دې جومات ودانۍ ته چې کوم پوخوالی ، ښايست ، لوړوالی ، فراخي دانجينري اصولو له مخې لوړ کيفيت او نفاست ورپه برخه شويدی هيڅ سړی دا تصور نشي کولای چې دا به ګڼې د ۸ مې پيړۍ وداني وي.

دوروستو ځينې مسلمانو حاکمانو دغفلت ، بې تدبيرۍ او بزدلۍ له امله چې مسلمانانو دعيسوي بادشاه فرډي نينډ په مقابله کې ماتې وخوړه او اندلس سقوط وکړ نو فرډي نينډ ويلې وو چې اندلس د مسلمانانو او د مسلمانانو د ټولو نښو نه خالي کوم چې رينښتيا يې هم هسپانيه د مسلمانانو او د مسلمانانو د نښونه خالي کړه ؛ هغه د قرطبې جامع مسجد هم نړول غوښتل خو دا چې د جومات بې سارې ښکلا د هغه وزيران ډېر متأثره کړي وو او پربادشاه هم د جومات د خورا سترشان و شوکت ستر رعب کيناست نو له ړنګولو يې تېرشو د دې لپاره چې څوک پکې په پټه د الله اکبرناره پورته نکړي يا يې پر ځمکه خپل رب ته سره ونه ولګوي نو د تل لپاره يې د خدای د بندګانو پرمخ د دې مسجد دروازې بندې وتړلې.

خليفه عبدالرحمن اول چې په عبدالرحمن الداخل يې شهرت درلود د دې جومات جوړولو اراده يې هغه مهال په زړه کې راغله کله يې چې شورشونه وځپل او د بهرنو خطرونو په له منځه وړلو هم موفق شو ؛ د دې جومات د جوړولو په باره کې دنو موړي مينه او اهتمام دومره زيات و لکه چې د دولت ټول ځواک يې همدې لورته متوجې کړی وي ؛ دکارټول مراقبت يې پخپله کولو نو ځکه دا دومره ستر پلان په ۲ کلونو کې عملي شو .



دجومات بهرني ديوالونه لکه د پخوانو ښارونو دراتاو شويو ديوالونو په څير پلن او دنګ دي ، د مسجد چت کابو ۱۰ متره له ځمکې لوړ او په ۱۴ سوو ستنو ولاړ دی ، چې په هرې ستنې کې يو دبل د پاسه دوه محرابونه په ډېر لوړ او د تکلف نه په ډک کيفيت جوړ شويدي ، او وضع يې داسې ده چې په تقاطع يې هر لورته متوازي لارې ښکاري ؛ د قرطاجنا ، اشبيلې او غرناطې د مرمرو له ډبرو داستنې جوړې وې او کموالی يې داندلس د خپلو مرمرونه په جوړو شويو ستنو پوره شوی و د مرمرو پدې ټولو ستنو کې د مرغلرو او سروزرو ډېره په زړه پورې نقاشي هم شوې وه.

د جومات چت کې ۲۸۰ مصنوعي خورا پړقيدونکې ستورې جوړ شوي وو چې د دننې دالان ۸۰ ستورې يې ټول د سپينو زرو وو .

څرنګه چې د جوماتونو منارې او ګنمبزې د بهر نه دخلکو توجو ځانته راجلبوي همدا راز د جوماتونو ممبرونه او محرابونه هم د دننه نه د خلکو د توجو مرکز وي ، د قرطبه جامع مسجد لپاره چې د کومو مرمرونه ممبر جوړ شوی و بې له مبالغې چې رنګ يې له پيو هم زيات سپين و ، د ممبر مخې ته د قوس په شکل کې دهمداسې ښکلو مرمرو نه محراب جوړ شوی او ترڅنګ يې د عطرو په څير د ښکلې بوی لرونکو لرګيو د ۳۲ زره

ټوټونه یو دیوال هم جوړشوی و چې لرګي یې یو دبل سره دسرو او سپینوزرو په میخونو وصل شوي وو.

دجومات دننه په منځنۍ ساحه کې یو ډېر ستر فانوس را زوړند و چې پکې ۱۰۰۰ چراغونه لګیدلي وو ، دجومات دټولو چراغونو شمیر ۷زره ۵سوو ته رسیدلو چې دشپې له لوري به هم په جومات کې دورځې په څیر رڼا وه.

جومات ۳۱ دروازې لري چې ټولې دښکلې بوی لرونکو لرګو نه جوړې شویدي ، دجومات جنوب لورته چې دخلیفه قصر و پکې لګېدلې دروازه په سرو زرو پوښل شوې وه.

کله چې دمسلمانانو د ۸ سوه کلن حاکمیت په پای ته رسېدو عیسویانو دخوښۍ جشن لمانځلو نو عیسوي حاکم فرډي نینډ ددې جومات دړنګولو اراده کړې وه خو دجومات بې ساري ښکلاچې دهغه وزیران ډیر متأثره کړي وو فرډي نینډ یې دجومات له ړنګولو منع کړی و چې تر پنځلسمي عیسوي پیړۍ پورې په خپل حال پاتې شو ، په پنځلسمې پیړۍ کې کاتو لیک عیسوي حاکم ((آرچ بشپ)) دجومات په منځ کې دکلیسا جوړولو حکم وکړ خو چې کله آرچ بشپ دکلیسا دلیدلو لپاره پخپله دې جومات ته راغلو چې جومات ته دهغه دا ړومبۍ راتګ و نو دجومات په منځ کې دکلیسا په جوړولو یې سخت افسوس ښکاره کړ او ویې ویل چې کاش دکلیسا دجوړولو نه وړاندې مادا جومات لیدلی وای نو مابه هیڅکله هم ددې جومات په منځ کې دکلیسا جوړولو او دجومات دحسن خرابولو اجازه نه وای ورکړې.

دعیسوي متعصب حاکم ددې خبرې نه ددې جومات حسن او شان وشوکت ډیرښه روښانه کېږي ځکه خو هر کال دې جومات ته دراتلونکو سیلانیانو شمیر له ۱۴ سوو زرو نه اوړي.




دقرطبې جامع مسجد سره دمسلمانانو مینه او تړاو احساساتي حد ته رسېږي؛ او دمسلمانانو دا جومات پدې هېواد کې دمسلمانانو دتاریخي ، علمي او د دیني سرلوړۍ ستره نښه ګڼل کېږي چې ددې هیواد متعصب او اسلام دښمن عیسوي دولت هم همدا حقیقت درک کړي نوځکه دمسلمانانو دعروج داتاریخي منار نړول غواړي.

دهسپانې ددولت دې پریکړې چې دمسلمانانو دا تاریخې جومات په دوه کلونو کې دکاتولیک کلیسا ته په واک کې ورکړي دنړې مسلمانان سخت غمجن کړي او قهرولي دي او پدې اړه یې دخپل غم اوغصې اظهار هم کړیدی خو متأسفانه چې داسلامي نړۍ په ۵۷ هېوادونو کې یو هېواد هم په دولتي سطحه دهسپانې ددې نامعقولې او دتعصب نه ډکې پریکړې پر ضد لږترلږه رسمي احتجاج هم ونکړ ؛ پر اسلامي نړۍ مسلطو حاکمانو دشرم نه ډک دسکوت روژه نیولې ده او یو هم پدې اړه دحق اواز پورته نکړ ؛ که داسلامي نړۍ همدا حال وي نوخدای مکړه دقرطبې دجامع مسجد برخلیک به له بابري مسجد نه بدل نه وي.

دملګرو ملتونو دقوانینو له مخې شخص یا دولت یو هم دچا مذهبي مقدساتو او عبادت ځایونو ته په سپکه سترګه نه شي کتلای او نه یې دورانولو حق لري ؛

بیا چې کله په کومې ودانۍ اوږده زمانه واوړي بیا خوېې ټوله ساتنه دیو نیسکو په غاړه شي او هیڅ ته دا حق نه ورکول کېږي چې تاوان ورورسوي نو دقرطبې جامع مسجد چې په ټولې نړۍ کې ډېر ستر تاریخي حیثیت او قدامت لري دساتنې ټول مسؤلیت یې د همدې اداري پر غاړه دی نو دملګرو ملتونو اداري باید په ډېرو سختو



ټکو دهسپانې ددولت دا پریکړه غندلې وای او په خپل ټول قوت یې ددې دعملې کېدو مخنیوی کړی وای خوله بده مرغه چې یې هیڅ ونکړل ځکه چې دا اداره خپلواکه اداره پاتې نه شوه ؛ خپل حیثیت یې ونه شو ساتلی او پریکړې یې ټولې یو طرفه شوې ، دمسلمانانو په ګټه یې تر اوسه یوه پریکړه هم ونکړې او نه یې ترې تمه کیدای شي خو دغربې نړۍ دګټو دساتنې دومره هڅې کوې لکه چې دا اداره دهمدې غرب دګټو دساتنې لپاره جوړه شوې وي؛ که چرته په کوم اسلامې هېوادکې د لویدیځوالو د مذهب پورې تړلې دغسې تاریخي ځای په باره کې مسلمانو واکمنانو داسې پریکړه کړې وای نو دې اداري او ټول لویدیځ به نړۍ په سر اخستې وای خو

چې دلته خبره دمسلمانانو دجوماتونو ده نو ځان یې داسې غلی کړی لکه چې ددې اداري سره ددې ستونزې هیڅ تړاو نه وي او یا ددې مسئلې نه بیخې خبره نه وي بس همدا ددې اداري ازادي او بې پرې توب دی.

لویدیځ کې چې دمذهبي ازادۍ؛ مذهبي هم آهنګۍ؛ مذاهبو او مذهبي شعایرو ته داحترام په نوم خوراسترې اداري کارکوي دا ادرې څه شوې؟ ولې چپه خوله دي ؟ آیا دااداري ددې مسئلې حساسیت نه درک کوي؟ که پدې اړه دمسلمانانو د حساسیت نه ناخبره دي؟ دا اداري په دې هرڅه پوه دي خو دکومو شومو اهدافو لپاره چې دا اداري جوړې شويدي دقرطبې جامع مسجد په له منځه تللو نه یواځې داچې تاوان نه رسېږي بلکې له منځه تلل یې ددوئ داهدافو برخه ده نو چپوالی یې هم حتمي اوضروري دی.





پسرلی

حنیف حقمل

د وطن په غرونو بل پسرلی راغی
هر طرف به شي ګل ګل پسرلی راغی

په ګلاب او غاټول جوړ پسرليه
درومه دورمه موږ ته خپل پسرلی راغی

سپیره دښته هدیره مو ورته کښت کړه
سره ګلونه مو کړل پسرلی راغی

د جنګونو میدانونه پسرلي ته
خزانونو وبایلل پسرلی راغی

بلبلان دي له هر خوا پرې را تاویږي
غوړیدلی دی سمبل پسرلی راغی

سره ګلونه عجیبه په کې ښکاریږي
د شنو ونو په ځنګل پسرلی راغی

بوراګانو ته دا زیری ورکومه
په ښایسته ګلرنګ کابل پسرلی راغی

ستا بهار بهار قلم چې اې حقمله
د سپرلي اشعار لیکل پسرلی راغی

غزل

قاري سعيد

استشهاد ته ځي د مینې مسافر دي
د دیدن تږي دي څومره بختور دي

ریښې کاږي د تیارو د بدرنګیو
تورو شپو ته سپین لمرونه د سحر دي

د باروتو جنتي لباس په غاړه
فدایان لښکر د الله اکبر دي

ښایستو ته یې په دوه لاسه سلام کړې
خجالت ورته ګلاب او صنوبر دي

د سکروټو پر سر درومي تر سنګره
د خالد په لاره ځي د دین عسکر دي

نذرانه یې دي سرونه رضا غواړي
ربه ته یې ور نصیب کړې منور دي

شرنګ د تورو یې ثناء ثناء ده
صیاد وایي کلیوال د پیغمبر دي

سمبال زلمی

"همت

هر څوک چې د خاورې آزادي غواړي
دا په مفته نده قرباني غواړي

تش په مرده باد، زنده باد نه کیږي
دا د رښتیا میدان خو میړني غواړي

هله به رسیږې د هدف پر لور
وړاندي څو ګامونه ګړندي غواړي

جنګ او ننګ ګټل دومره آسان ندي
کلکې ارادې او سربازي غواړي

مخ ته چې ور ځي د سړي خور دښمن
عَزم د محمود او غزنوي غواړي

ستر به هغه څوک شي تر آسمان پوري
دلته چې نظامِ الهي غواړي

ای(داود همته)د سنګر سختي
ښه په ننګ غیرت سمبال زلمي غواړي

غزل

قاري سعید

بلبل له ګل، ګل له ګلزاره کډه واخیستله
ته وا قیامت شو یار له یاره کډه واخیستله

بیا مې نو مړ، یا مې ویده، یا مې بې درده بوله
د زړه له سره دې که خاره کډه واخیستله

موږ د ډبرو له بارانه کډې نه دي کړې
موږ د هندارو له غباره کډه واخیستله

بیا به د هسک لمنې سرې کړي د شیطان په وینو
بیا یوه ستوري له مداره کډه واخیستله

زړه خو همدا وو څه داوښکو په ویاله وبهېد
پاتې د آه افسوس په لاره کډه واخیستله

لکه چې بیا یې د خزان د پښو ښکالو واوریده
داچې رنګونو له بهاره کډه واخیستله

داسې یې وګڼه چې روح وو له کالبوته ووت
سعیده درد که له پرهاره کډه واخیستله

سپین خیبر

چینار ټکور

هجر دې وخوړم ګودره زه خو مرم درپسې
د وطن زیړه مازدیګره زه خو مرم درپسې

ستا کاڼي کاڼي غرنۍ سپینه واورینه غیږه
پرانیزه وه د زړګي سره زه خو مرم درپسې

ستا پر لمنه مې څښتن ته سجدې ډیري کړي
زما مسجد زما ممبره زه خو مرم درپسې

ډیره موده کیږي چې تللی یې زموږ له کلي
یو ځلي بیا راشه اختره زه خو مرم درپسې

په لنډه ساه تهاکو پښو تر تا راورسیدم
وه د غزاوو سپین خیبره زه خو مرم درپسې

ستا د راتلو په هیله هیله ډیر وختونه تیر شول
اې مجاهد محمد عمره زه خو مرم درپسې

بیلتون دې وکړل غمونه د ټکور په زړه کې
خدای خو دې راوله دلبره زه خو مرم درپسې

شهامت

مفتي شاهد حقاني

پنځمه برخه

داسلامي تشريع اساسات

طبقات المجتهدين

دشهامت مجلې دې ګڼه کې به داسلامي امت د مجتهدينو او فقهاوو په طبقاتو رڼا واچوو، خوځنګه چې دمجتهدينو اوفقهاوو طبقات دلته مونږ په دوه بحثونو کې څېړو چې يو مخصوصا دحنفي مذهب دائمه فقهاوو طبقات او مراتب دي او بل دنورو متباقي مذاهبو دائمه مجتهدينو او فقهاوو طبقات اومنازل دي، نو غوره راته دا بريښي، چې لومړی د حنفي مذهب د مجتهدينو طبقات په مختصره توګه وشنو او کته ګوري يې وکړو، بيا تردې وروسته به انشاءالله تعالی چې د نورو مذاهبو د مجتهدينو طبقات هم راوسپړو!

په (قواعد الفقه) کې (البرکتي رح) داسې ليکي: چې مفتي ته ددې ډيره اړتيا ده، چې بايد دهغه چا پوره حال ځان معلوم کړي، چې په قول يې فتوی ورکوي، اوپدې هم بايد بسنه نه ونکړي، چې نوم او نسب يې وپيژني، بلکې دده منزلت اوعلمي درجه به هم درِوايت له مخې او هم د درايت له مخې ځان ته معلوموي، چې دا له کومې طبقې او درجې له فقهاوو څخه دی، دا ددې لپاره چې دمسئلې په باب د دوو متخالفو اقوالو قائلين په پوره ځيرکتيا سره معلوم کړي او ترمنځ يې تمايز وکړای شي، ددې سربيره يې دوو متعارضو اقوالو په ترجيح کې پوره قدرت موندلی وي، نوځکه اړين يو، چې دفقهاوو طبقات او درجات وپيژنو اوځنګه چې د (ابن کمال بادشاه رح) او نورو علماوو له تحقيق څخه جوتيږي، نو ددې په رڼا کې وايو، چې زمونږ د مذهب مجتهد فقهاء په اوو (۷) طبقاتو ويشل شوي چې تفصيل يې دادی لاندې دمستندو کتابي حوالو سره مل ذکر کيږي:

د (الفصول فى الاصول لاحمد الرازى)، (قواعد الفقه للبرکتي) دعلامه ابن عابدين شامي رح په (شرح عقود رسم المفتي) او هم د (ردالمحتار دحاشيې) په مقدمه کې امام شامي رح دنورو محققينو علماوو په څير دحنفي فقه دمجتهدينو او فقهاوو طبقه بندي کې داسې وايي چې:

لابد للمفتى أن يعلم حال من يفتى بقوله ولا يكفيه معرفته باسمه ونسبه بل لابد من معرفة درجته في الرواية والدراية بأن يعرف أنه من أي طبقة الفقهاء ليكون على بصيرة في التمييز بين القائلين المتخالفين وعلى قدرة كافية في الترجيح بين القولين المتعارضين فليعلم أنهم على سبع طبقات.....................

دفقهاوو لومړۍ طبقه: دمجتهدين في الشرع يا مطلق مجتهدينو طبقه ده ،چې هغوئ لكه داربعه مذاهبو امامان (الإمام أبي حنيفة النعمان (رح) المتوفى سنة (١٥٠) والإمام مالك (رح) المتوفى سنة (١٧٩) والإمام الشافعي (رح) المتوفى سنة (٢٠٤) والإمام أحمد (رح) المتوفى سنة (٢٤١) رضي الله تعالى عنهم) امام اوزاعي رح ،سفيان ثوري رح او ابن ابى ليلى رح اوهغه څوک دي ،چې دقواعدو داصولو په تاسيس اود كتاب الله ، سنت ،اجماع او قياس د ادله اربعه وو څخه په استنباط داحكامو كې دچا دتقليد نه پرته ددې قواعدو په رڼا كې ددوئ په مسلک باندې ځي.

دويمه طبقه مجتهدين في المذهب دي ،لكه (الإمام أبي يوسف المتوفى سنة (١٨٢) ،الإمام محمد بن الحسن المتوفى سنة (١٨٩) ،الإمام زفر المتوفى سنة (١٥٨) ،الإمام حسن بن زياد المتوفى سنة (٢٠٤) ،الإمام حماد بن الإمام الأعظم المتوفى سنة (١٧٢))اودوئ نور امثال ، دوئ هغه څوک دي چې دمذكورو څلورو ګونو ادله وو (كتاب ،سنت ،اجماع اوقياس) څخه داحكامو په استخراج كې دخپل استاذ حضرت امام ابو حنيفه رح د وضع شويو قواعدو په رڼا كې داستنباط قدرت او ځواک لري ،كه څه هم په ځينو احكامو كې به ترې تخلف هم كوي ،خو په اصولو كې به دخپل استاذ پيروي او دهاغه قواعدو په مقتضى به فروعات استخراج كوي ،چې امام ابوحنيفه رح ورته وضع كړي دي ،چې په همدې اصولي تقليد سره دامام شافعي رح په څير دعارفين في المذهب نه متمايز شول.


دريمه طبقه مجتهدين في المسايل دي ، البته دا هغه مسايل دي ،چې دامام دمذهب څخه پكې كوم روايت يا نص نه وي راغلى ، ددې طبقې مجتهدين لكه (الخصاف سنة (٢٦١) والطحاوي والمتوفى سنة (٣٢١) والكرخي المتوفى سنة (٣٤٠) وشمس الأئمة الحلوني المتوفى سنة (٤٥٤) وشمس الأئمة السرخسي المتوفى سنة (٤٩٠) وفخر الإسلام البرذوي المتوفى سنة (٤٨٤) وبرهان الدين محمود بن الصدر صاحب الذخيرة والمحيط والشيخ طاهر بن أحمد صاحب خلاصة الفتاوى المتوفى سنة (٥٤٢) وفخر الدين قاضي خان المتوفى سنة (٥٩٢) وأبن الهمام صاحب التحرير وفتح القدير المتوفى سنة (٨٦١) وأمثالهم) دوئ دخپل شيخ يا امام څخه نه په اصولو او نه په فروعوكې كوم ډول مخالفت كولاى شي ،بلكې دوئ به په هغو مواردو كې استنباط كوي، چې دمذهب دمقرره قواعدو او اصولو دمقتضى سره سم پكې دمسئلې په باب كوم نص نه وي راغلى.

څلورمه طبقه له مقلدينو څخه د(اصحاب التخريج) طبقه ده، لكه (أبي بكر الجصاص الرازي المتوفى سنة (٣٧٠) والجرجاني المتوفى سنة (٣٩٨) والدبوسى المتوفي سنة (٤٣٠) اوددوئ غوندې نور فاضل اشخاص چې دوئ اصلا داجتهاد ځواک نلري ،لكن په اصولو او دماخذ په ضبط احاطه لرلاى شي ،دا اصحاب التخريج ديوه ذي وجهين مجمل قول په تفصيل باندې پوهيږي ،په خپله رايه ،اصولو باندې دپوهيدنې او په خپلو امثالو باندې دقياس كولو په صورت كې په يوه مبهم او محتمل د دوو امرينو باندې حكم كوي اودا د صاحب مذهب او يا دده دملګرو مجتهدينو څخه را نقل شوى وي .

پنځمه طبقه اصحاب الترجيح من المقلدين طبقه ده ،لكه (صاحب الهداية برهان الدين المتوفي سنة (٥٩٣) والامام القدوري المتوفي سنة (٤٢٨) والاسبيجاني المتوفي سنة (٥٣٥) وابن كمال المتوفي سنة (٩٤٠) و الاوزجندي وأبي السعود وأمثالهم) ،اوددوئ نور امثال ،ددوئ شان دادى چې

دوئ به بعضو رواياتو ته په بعضو نورو ترجيح ورکوي، چې البته د ترجيح الفاظ به داسې وي:هذا ارفق للناس ،هذا اوفق للقياس ،هذا اصح او داسې نور.....

شپږمه دمقلدينو هغه طبقه ده، دوئ به د دې قدرت لري چې درک کړي او وايي چې: دا اقوی دی ،



قوي ، ضعيف او ظاهرالرواية دی او هم په تفکيک او تميز باندې وس لري ، لکه دمتاخرينو څخه د معتمدو متونو مصنفين ! احناف دمتاخرينو دمعتمدو متونو دمصنفينو څخه موخه (صاحب الکنز النسفي المتوفی سنة (۷۱۰) وصاحب المختار مجد الدين المتوفي سنة (۲۸۳) وصاحب الوقاية تاج الشريعة المتوفي سنة (۷۷۳) وصاحب المجمع مظفر الدين المتوفي سنة (۲۹۴) وأمثالهم) فقهاء او متون اخلي ، او ځينې نور علماء بيا ترې موخه (الوقاية ،الکنز او مختصر القدوري) او مصنفين يې مراد کوي ، ددوئ شان دادی چې مردود او ضعيف روايت به خپلو کتابونو کې نه ذکر کوي.

يادښت:احناف علماء وايي، چې هغه مسئله چې په متونو کې موجوده وي ،هغه د شروحو او فتاوو دمسئلې څخه مقدم وي ،او هغه مسئله چې په شروحو کې شتون ولري ،هغه بيا له هغې مسئلې څخه مقدم ده، چې په فتاوو کې موجوده وي ،خو چې بيا په شروحو او فتاوو کې کومه مسئله داسې راغلې وي ،چې په فتوی دلالت کوي ،نو هغه بيا له متونو څخه هم مقدم ده ،داځکه چې هغه تصحيح چې صريح وي ،له هغې تصحيح څخه غوره ده ، چې التزامي وي.

او دمتونو دليکونکيو څخه هغه مصنفين مراد دي، چې دقوي او ضعيف ،راجح او مرجوح ،مقبول او مردود ترمنځ فرق کولای شي او دا صفات هغه دي ،چې د تيرو ځلورو متونو په مصنفينو کې شتون لري، دا تصريحات دمتاخرينو په عقيده راڅرخيدلي وو ،هغه چې دمتقدمينو په نظر کوم متون دي ،هغه دلويو مشايخو او فقهاوو متون ترې مراد دي، لکه دامام طحاوي رح ،کرخي رح ،جصاص رح ،خصاف ،حاکم او نورو شيوخو تصنيفات ،((فتنبه لهذا الفرق بين المتون وراجع تعليق السيد بدر الدين أبو فراس النعساني في هامش الفوائد البهيمة ۱۰۲ - ۱۰۷))

اوومه طبقه :دوئ هغه مقلدين دي چې په مذکورو مسايلو قدرت نلري ،او هم ((ولا يفرقون بين الغث والسمين ولا يميزون الشمال من اليمين، بل يجمعون ما يحدثون، کحاطب ليل فالويل لمن قلدهم کل الويل)) (شرح عقود رسم المفتي لعلامة ابن عابدين الشامي /ج/۱ص/۵۰) (قواعد الفقه للبرکتي /ج/۱ص/۲۵۲) الفصول في الاصول لاحمد الرازی)/ج/۱ص/۱۷).

دلته سترو محققينو د(ابن کمال بادشاه) پدې طبقه بندی تنقيد کړي ،چې ولې يې د (ابوبکر جصاص الرازي رح) غونډې دعلومو او فنونو متبحر

علماء په (اصحاب التخریج)کې نیولي ، پداسې حال کې (شمس الایمه حلواني رح) ، دامام رازي په باب وایي ، چې (هو رجل کبیر معروف فی العلم وانا نقلده ونأخذه بقوله) ،نو(ابن کمال بادشاه) ددې وینا خاوند (امام حلواني د مجتهدینو په کتار کې نیولی او امام رازي رح یې دا سې مقلد بللی چې اصلا په اجتهاد ندی قادر او ځینو خو ورته دده په هکله ورته ظلم هم ویلی پداسې حال کې چې مشهورې او منل شوي متون او شروح یې نږدې له دوولسو څخه اوړې چې قواعد الفقه یې داسې لیکي: . ویمکننا حصر الشروح والکتب

التي ذکرتها کتب التراجم والسیر منسوبة للامام الجصاص في اثني عشرشرحا وکتابا ، وهي:١ - شرح الجامع الکبیر لمحمد بن الحسن الشیباني.

٢ - شرح الجامع الصغیر لمحمد بن الحسن الشیباني. ٣ - شرح المناسک لمحمد بن الحسن الشیباني. ۴ - شرح مختصر الفقه للطحاوي. ۵ – شرح آثار الطحاوي. ۶ - مختصر اختلاف الفقهاء للطحاوي. ٧ - شرح ادب القاضي للخصاف. ٨ - شرح مختصر الکرخي. ٩ - شرح الاسماء الحسنی. ١٠ - جوابات المسائل. ١١ - أحکام القرآن. ١٢ - أصول الفقه. ! (الفصول فی الاصول لاحمد الرازی) /ج١/ص١٧)

بعضې علماوو یې داسې ځواب ویلی چې د(طبقات الفقهاء) دا ویش او درجه بندي داشخاصو په اعتبار نه، بلکې دوظایفو په اعتبار سره ده، یعنې دامام رازي رح وظیفه دا وه، چې تخریج وکړي نه دا چې دا یې علمي مقام دی !

طبقات المسایل :

زمونږ فقهاوو رح فقهي مسایل هم لکه د(طبقات الفقهاء) په څېر په طبقو او درجو ویشلي ،دا ددې لپاره چې مفتي ته دمسایلو دحل پر وخت ،هغو مسایلو کې له ستونزو سره مخامخ نشي ، کوم ځای کې چې تعارض پکې شتون ولري او دا ترې دعالي درجې مسئله دفتوی لپاره له ټيټې درجې یا طبقې له مسئلې څخه راجح وګڼي (البرکتي رح) په (قواهد الفقه) کې داسې وایې چې: فلیعلم أن مسائل مذهبنا علی ثلاث طبقات الأولی مسائل الأصول وهي مسائل ظاهر الروایة التي هي مرویة عن أصاحب المذهب وهم الإمام أبو حنیفة وصاحباه أبو یوسف ومحمد رحمهم الله تعالی .... همداسې صاحب د(شرح عقود رسم المفتي امام شامي رح) هم فرمایي چې مسایل دمذهب په دریو طبقو ویشل کیږي، لومړۍ طبقې ته (مسائل الاصول) وایې دا هغه دي چې د اصحاب المذهب یا دعلماء ثلاثه وو (حضرت امام ابوحنیفه رح ،امام ابویوسف رح او امام محمد رح)څخه منقول وي ،اوظاهر الروایة کتابونه هغه دي چې امام محمد رح لیکلي دي، چې په لاندې ډول دي: (المبسوط ،الجامع الصغیر ،الجامع الکبیر ،السیر الکبیر ،السیرالصغیر اوالزیادات)همدا سې د ظاهر الروایة له کتابونو څخه بل د(حاکم الشهید) متوفی (٣۴۴)هـ(الکافي) دی، چې د مذهب په نقل کې خورا مهم کتاب دی،اود ظاهر الروایة کتابونه یې په مختصر او له تکرار نه پرته را نقل کړي دي ،ډیرو اهل مذهب علماوو یې شروح لیکلې دي، چې یو ترې دفقهاوو ددریمې طبقې نامتو عالم (امام سرخسي رح) هم دی ،چې دده شرح خورا ډیره مشهوره او خلک ورته (المبسوط دامام سرخسي)وایي ، (**قال الطرسوسي لا یعمل بما یخالفه ولا یرکن الا إلیه ولا یفتی الا به ولا یعول الا علیه**) همداسې د(حاکم الشهید) د (المنتقی) په نوم یو بل کتاب هم شته ، چې دمذهب یو معتمد کتاب بلل کیږي.

دویمه طبقه د(مسایل النوادر) په نوم یا دیږي ، دا هاغه دي چې دمذهب دائمه وو څخه منقول وي خو

د اصولو یا ظاهرالروایة په شپږو یادو کتابونو کې نه وي ، بلکې نورو کې وي ، یا دا دامام محمد رح داصول سته وو پر ځای په نورو کتابونوکې وي لکه(هارونیات ،کیانیات ،جرجانیات او رقیات)یا دده څخه په غیر نورو امامانو لیکلې وي لکه (المجرد)د(امام حسن بن زیاد رح) ،یا لکه (کتب الامالي) یا (الروایات متفرقه)لکه (رویات دابن سماعة) او نور چې داصولو سره مخالف وي ، دې ته (نوادرالروایة) وایې ،لکه (نوادر ابن سماعة ،نوادر هشام اونوادر ابن رستم)........

دریمه طبقه (الفتاوی والواقعات) دي ،چې دې ته (واقعات) هم وایې دا هغه مسایل دي ،چې متاخرینو علماوو دامام ابویوسف رح او امام محمد رح له شاګردانو او یا د دوئ د شاګردانو دشاګردانو (وهلم



جرا...)نورو ورپسې علماوو استنباط کړي وي ، خو دا هغه روایات وي ، چې د مذهب دائمه وو څخه پکې روایت نه وي راغلی ،دا ډیر دي خو ځینې ددوئ څخه د صاحبینو شاګردان چې استنباط یې کړی وي دادي:(عصام بن یوسف ،ابن رستم، محمد بن سماعة ،أبي حفص البخاري ومن بعدهم مثل محمد بن سلمة ومحمد بن مقاتل ونصیر بن یحیی وأبي النصر ابن سلام..............)او داسې اتفاق هم کیدای شي ، چې

دځینو دلایلو او اسبابو په لامل داصحاب المذهب څخه هم مخالفت وکړي.

لومړنی کتاب چې ددوئ په فتواوو کې تصنیف شوی هغه د(کتاب النوازل لابي اللیث) په نوم دی ،بیا وروسته مشایخو بل کتاب پدې فتواوو کې د(مجموع النوازل ،الواقعات للناطفي ،الواقعات للصدر الشهید)په نومونو کتابونه یا فتاوې ولیکل شوې ،تر دې وروسته د(فتاوی قاضی خان او الخلاصه) په نومونو متاخرینو دا مسایل مختلط را ټول او تصنیف کړل ، چې تردې وروسته د(محیط السرخسي) غونډې کتابونوکې بیا تمایز وشو ، لومړی یې (مسایل الاصول) ،بیا (مسایل النوادر) او بیا یې وروسته (فتاوی او واقعات) پکې ذکر کړل.

صاحب د(قواعدالفقه) وایې چې ددې مسایلو بل ډول ویش هم کیدای شي او هغه داسې چې ،دا مسایل په څلور ډوله شي ،یو قسم هغه دي ، چې په ظاهر المذهب کې متقرر او تثبیت وي ،ددې حکم دادی چې په هر حال کې به مقبول وي ، عام ددې څخه چې داصولو سره موافق که یا که مخالف وي ،بل قسم دامام ابوحنیفه رح او صاحبینو رح څخه (روایت شاذه)دي ،ددې حکم دادی چې هغه وخت کې به منل کیږي چې له اصولو سره موافق وي ،بل قسم دمتاخرینو تخریج دی ،چې جمهور اصحاب پرې سره متفق وي ،ددې حکم دادی چې مفتي صیب به یې داصولو او دسلفو دکلام له نظایرو سره پرتله کړي ،که موافق وو نو وابه یې خلې که مخالف و ، مسترد به یې کړي..

نوربیا..............

محبت پیامبر به اطاعت از ایشان است

قل ان کُنتُم تُحبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحبِبكُمُ اللَّهُ وَيَغفِر لَكُم ذُنُوبَكُم وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ (٣١) قُل أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّوا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الكَافِرِينَ (٣٢) سوره آل عمران آیه های ٣١-٣٢

بگو: اگر دوست دارید خدا را مرا پیروی کنید، تا دوست دارد شما را خدا و بیامرزد گناهان شما و خدا آمرزنده و مهربان است. (٣٢) بگو: فرمان برید خدا و رسول را، پس اگر پشت کردند همانا خدا دوست ندارد کافران را.

شرح: این آیه در شأن نمایندگان نصارای نجران نازل شد چون آن‌ها گفتند: که اگر ما عیسی را عبادت می کنیم به جهت محبت خدا است، خداوند به پیامبر دستور داد به آن‌ها بگو: ﴿قُل إِن كُنتُم تُحِبُّونَ﴾ اگر دوست دارید خدا شما را دوست داشته باشد، پس چرا بنده و پیامبر او، حضرت عیسی و مادرش را خدا قرار داده و پرستش کردید پس از دین و راه توحید من پیروی کنید، تا خدا شما را دوست بدارد و گناهان شما را بیامرزد، سپس به حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دستور می‌دهد که به آن‌ها چیزی معرفی کند که محبت خدا و رسولش را فراهم سازد که همانا اطاعت خدا و رسول است. ﴿قُل أَطِيعُوا اللَّه وَالرَّسُول﴾ بگو: اطاعت کنید خدا و رسولش را "فَإِن تَوَلَّوا" اگر پشت کردند به خدا و رسول و ترک کردند اطاعت ایشان را پس ایشان کافر اند و خدا کافران و ناسپاسان را دوست ندارد.

راهنمائی‌هایی برای مربی:

-١آن دو آیت را چند بار و با آرامش بخوان تا اکثر شنوندگان آن را حفظ کنند.

-٢شرح آیات و معنی هر جمله را برای آن‌ها بیان کن.

-٣به آن‌ها اعلام کن که سبب پرستش نصارا عیسی و مادرش مریم را، محبت حضرت عیسی و مادر وی بوده است، لذا در دین اسلام منع شده ازین که در محبت صالحان و دوستان خدا غلو شود، تا این که با خدا، دیگری را نپرستند و در شرک نیفتند.

-۴به آن‌ها بگو: که محبت خدا، عبادت و جزء دین ما است و کسی که خدا را دوست ندارد کافر است.

-۵به آن‌ها بفهمان: که علامت محبت خدا اطاعت از امر و نهی خدا است.

و این شعر شاعر را برای آن‌ها بخوان:

-١تعصي الإله وأنت تظهر حبه: تو ادعای محبت خدا داری و از وی نافرمانی می کنی

-٢هذا لعمري في القياس بديع: این کار از نظر مقایسه عقلی ناآشنا است.

-٣لو كان حبك صادقا لأطعته: اگر راست می گویی که خدا را دوست داری باید از وی اطاعت کنی

-۴إن المحب لمن يحب مطيع: که همانا دوست دارنده از محبوب خود اطاعت می کند

-۵به آن‌ها تذکر ده که دوست داشتن خدا مهم نیست، مهم اینست که خدا ما را دوست داشته باشد، زیرا اگر بندهٔ خدا را دوست دارد و از وی اطاعت نکند، خدا او را دوست ندارد، چرا که او از محبت خدا استفاده‌ی نبرده و زیان کرده است

دیارلسمه برخه

اسلامي هیوادو کې د اسلامیت او مغربیت کشمکش

لیکوال داسلامي نړۍ مفکر عالم مولانا سید ابوالحسن علی ندوي رح ژباړه : ابو ظهیر

اکبر

سرسید احمدخان او دهغه دتقلیدي ذهن ټکر له یوه داسي معاصر شخصیت سره راغی، چې هغه په پخوانیو معیارونو زده کړ و کولو ترڅنګ له نویو بدلونو اوغوښتنو سره هم اشنا و،هغه د کوم ځنډ او رعایت پرته دخپل ناقد قلم نښتر د سرسید احمدخان په تقلیدي مفکورې چلاوه، هغه اکبر اله آبادي و، چې پخپل ځانګړي مزاحي انداز، پخپل بلیغ اوځواکمن اسلوب یې دنو ي تعلیم په زده کړیالو ځوانانو دنقد ترخه وجیبه سرته رسوله او دڅوند تررو ستیو شیبو پورې یې دخپل "شعروسخن" لپاره همدا موضوع ټاکلې وه، نوموړي ددې ترڅنګ چې دسرسید احمد خان په خلوص یې عتراف لاره، دهغه په تعلیمي سیاست، دلوېدیځ په ړانده تقلید او دهغه په لیسه(علیګړ کالج) کې په مروج غربي چاپیریال یې ښې په زړه پورې او باریکې نیوکې کولې.

اکبر اله ألهبادي پخپله سحر انګېزه شاعرۍ او فن کار قلم دسرسید د ړانده تقلید، عقایدو کې دهغه د کمزورۍ، دین کې د سستۍ، دځوان نسل د بې لارې کولو، دڅوندانه د لوړ معیار، دفیشن پرستۍ، له نیکانو اوپیندارونه دګوښه توب، دولتي دندو باندې دزیات انحصار، له پخوانیو شرقي دودونو نه دهغهد بغاوت او د غربي مادي فکر د زیاتې ځلونې داسي غږیدونکی انځور کښلی، چې په هغه کې ټول خطوط یو، یو لیدل کېږې، دنوموړي شاعرانه کلام ته دهندوستان په بېلابېلو ډلواو داندونو دخاوندانو ترمنځ عامه قبولیت په برخه دی، په ذوق لرونکو ځوانانو یې ژور اغېز کړی، په هندوستان کې دنوموړي شاعرۍ دومره زیاته اورېدل شوې اولوستل شوې چې مثال یې په اسانه، نه مندل کېږي.

خو نوموړي بیاهم پخپل دومره بې ساري مقبولیت دتقلید د توند سیلاب مخه بنده نکړای شوه او نه یې دنوې راټوکېدلې ټولنې لپاره مضبوط اومثبت بنسټونه کیښودای شول، ددې یوه لویه وجه دا هم ده چې دهر هغه ادب او اصلاح بنسټ چې په طنز او تعریض بناء وي، دهغه ادب عمر او اثر محدود وي، هغه تعمیري انقلاب نشي راوستلی، خو په هر صورت دنوموړي کردار له ښېګڼو خالي نه و او دهندوستان د نویو ټولنېزو ادبیاتو او افکارو په تشکیل کې نوموړی هم ښه درنه ونډه لري.

ملي جدوجهد او له بهرنیو تو کیو پریکون:

هغه تقلیدي فکر (چې سرسید احمدخان یې رهبر و اود انګریز حکومت دتعلیمي نظام ملاتړ ورسره و) په لوستي

قشر کې داسې ژورې غځونې پيل کړې،چې په وړاندې يې هېڅ کوم خنډ اومانع نه و، ليکن داچې هندوستانی مزاج داعتدال او دقدامت پالنې سره تر څه حده تړاو درلود، ژوند اوټولنه ساده وه ، پکې هغومره توندروې او انحراف ونه ليدل شو، څومره چې په منځنې ختيځ او نورو اسلامي هېوادو کې ښکاره شو،اصلاً ددې لپاره دهېواد دننه پراخ ملاتړ او ځواکمن فکرته اړتياوه ،بيا دهغه له لارې دهندوستانۍ ټولنې په ژوند، اداب ،تمدن اوټولنه کې دخالص غربي ژوند ترويج اسانه و ، ليکن ناڅاپه يوه داسې پېښه رامنځته شوه، چې دغربي ژوند دترويج په وړاندې په خنډ کېدو ، هغې دتاريخ لوری بدل کړ.

دانګريزي حکومت اثر او واک (چې په هندوستان کې دنوي تهذيب علمبردارو) يې د خلکوپه زړونو کې کمزوری کړ او هم يې په هغه(انګريز) کې دنړيوال قيادت په اړه د توان ،عدل و انصاف جوهر دشتون (mer it) په باره کې خاصه اشتباه پيداکړه، د تهذيب درهبرانو او مشرانو په خلاف يې کر کې اونفرتونه وزېږول، له انګريز حکومت او دهغه د هرډول توکېو سره يې مقاطعه اعلان کړه، که هغه دتمدن او ژوند توکي وو او يا له بهر نه راتلونکي مصنوعات او مالونه وو.

په لومړی نړيوال جنګ (د۱۹۱۴زنه تر ۱۹۱۸ز) کې برتانيا چې له خپلو اتحاديانو سره په ملتيا دعثماني سلطنت سره په جنګ کې ښکېل وه ، کوم سلطنت چې دمسلمانانو په اند داسلامي شان و شوکت وروستی نښه، داسلام پاسبان اودفاع کونکی و، کله چې په ۱۹۱۸ز کې ترکانو ماتې وخوړه، او انګريزانو قسطنطنيه اشغال کړه، دعثماني سلطنت ترسلطې لاندې ملکونو په ويشلو يې لاس پورې کړ ، دغه مهال هندوستان کې دانګريز حکومت ددې ګام په خلاف دبغاوت يوه قوې اونه تمېدونکې څپه راپورته شوه، هندوانو اومسلمانانو يوځای، څنګ په څنګ دخلافت ددفاع په تحريک کې برخه واخيسته، دمولانا محمد علي جوهر، شوکت علي او مولانا ابو الکلام ازاد سره په څنګ کې "ګاندهي جي" هم دخلافت دفاع ته راووت ، په کال ۱۹۲۰ز کې ددانګريز حکومت سره يې مقاطعه اعلان کړه،په دې سره دژوند په هره برخه کې له انګريزانو سره د ترک موالات او بهرنيو توکيو د پيرلو ،پلورلو اوکارولو سره دپريکون لړۍ پيل شوه، دا کار د وطني تحريک په مانه ترټولو موډرنه کارې وسله وه، په وجه يې ټول هند کې دناراضايت اونفرت څپې پورته شوې، ددې تحريک پيغام داو: له برتانوي مالونو او خارجي مصنوعاتوسره پريکون وکړئ! دهمدې دعوت او تلقين له امله په ملي کچه او دعوامو په لباس اوژوندانه کې دپريکون نښې وليدل شوې،خلکو پخپل ورځيني ژوند کې په ساده ګۍ قناعت وکړ ، دهېواد په کورنيو مصنوعاتو يې بسيا وکړه، ټول هند کې په يووخت له يو سرنه تربل اور بل شو، دلکونو هندوستانيانو په زړونو کې له غربي تهذيب نه کرکه پيداشوه ، په لويو، لويو جلسو او غونډو کې انګريزي کاليوته په ښکاره اور واچول شو، ډېرولويو شتمنو ،لوستو اشخاصو او اسوده خلکو مسرفانه غربي ژوند ته په شاه ګرځولو قناعت غوره کړ ، په زرګونو خلکو کې(چې په هغوئ کې نوميالي وکيلان، سوداګر ،او شتمن وو) انقلاب راغی، هغوئ دانګريز حکومت زندانونه ډک کړل ،ډول ډول ستونزې يې وګاللې، ددومره لوی ايثار، زهد، قناعت، ديني جذبې، وطن پالنې، عامه همدردۍ، ديني حميت او غيرت نه ډک مظاهر وليدل شول، چې وړاندې يې دومره توقع نه وه.

دې تحريک سره (چې ديني رنګ ورباندې غالب و) دهندوستان دازادۍ تحريک پيل شو، دکوم هدف چې دهېواد ازادې اود ښکېلاک سره ډغره وهل اودخپلواک حکومت جوړول و،دختيځ دنورو تحريکونو برخلاف دا يو داسې نيم سياسي اونيم ټولنيز تحريک و، چې ځانګړې اقتصادي او فکري فلسفه يې درلوده، هغه د نوي تهذيب دشکنجو ماتول اودملي ،وطنې شعور اوپوهې خورول و، له شک پرته چې ددواړو ملي تحريکونو

له هېواده د کمترۍ احساس لرې کړ، دخودۍ احساس پیدا کولو، دفکري او تهذیبي ښکېلاک نه دنجات ارزو په زرغونوو لو کې یې دومره ستر خدمتونه ترسره کړل، چې لویې،لویې فلسفې هم نشي کولی او داکار یواځې دهغو عوامي او عملي تحریکونو ځانګړتیاده، کوم چې هر هېواد اوټولنې ته په ننوتو خپل اړونده کار کوي، په زړه اوذهن یې سیورۍ غوړوي.

ډاکټر اقبال !او په غربي تهذیب نقد:

دشلمې پیړۍ پیل کې مسلمانو ځوانانو دمغربیاتو څېړنه او مطالعه پیل کړې وه، دهندوستان په لویو پوهنتونو او جامعو کې دغربي علومو او افکارو په ژوره مطالعه اوتجربه بوخت وو، له فاتح تهذیب او دهغه له علمبرداراو نه مرعوبیت ورځ په ورځ کمېده، اروپاته دلوړو زده کړو لپاره دهندوستانیو مسلمانانو تلل پیل وو، په هغوئ کې ځینو د اروپا په لوړو علمي سرچینو خپله تنده خړوبوله اونوي علوم یې له ممتازو او ازاد خیالو استادانو ترلاسه کول، هغوئ د غربي تهذیب نه یواځې دکتابونو له لارې پیژندلی وو، بلکې له غوره استادانو نه مخامخ اودهغه زړه اوځیګر ته په ننوتو سره په هغه باندې دپوهاوي کوښښونه یې کول، څنګه چې د لوړو زده کړو لوستي غربیان، هغوئ د بېلا بیلو فلسفو، نظامونو، او مختلفو فکرونو ښار او دهغو پټوحقایقو، اسرارو ژوروته د روسیدو کوښښ کوي، هم ورته دغربي ذهن او مزاج، دهغه د ملی غرور، دبرترۍ احساس، ځان خوښونې او انانیت د نژدې لیدلو چانس په مندلو ورته دغربي ټولنې دننه دزوال، انحطاط اود ذهني افلاس نښې نښانې ترستر ګو شوې، ددې ترڅنګ هغه صالح او تعمیري اجزاء هم ورته ښکاره شول، کوم چې دبشریت لپاره فلاح ښښونکي وو، هم هغه تخریبي او بشردښمن اجزاء (کوم چې ددې تهذیب په خمیره کې شته)ترې پټ پاتې نشول، دې ټولو مشاهداتو دهغوئ په زړونو کې داسې احساسات اومعاني په غورځنګ کړل،چې دهغو ترلاسه کول په اروپا کې ددومره اوږدې استوګنې پرته شونی نه و، دهغو نظریاتو او افکارو مقایسوې مطالعه، جرئتمندانه او ژور لرلید، دغربي تقلید مخنیوی اوترې خلاصون په هغو ایماني سپرغیو چې لا نه وې ایرې شوې او هروخت ورنه دشنې لوخړې (لمبې) پورته کیدو تمه وه، شونی و، ددې ټولو شیانو دمشاهدې وروسته په لوی شمیر فاضلان له غربي تهذیب نه نهیلې شول اوپه ضدیې دبغاوت بیرغونه پورته کړل، هغوئ د ښه ژور فکر او جرئت په بدرګه بیرته راستانه شول، دهغوئ په نیوکو اوفکر کې نه بنسټ پالنې ځای درلود او نه دواقعیتونو سرچپه تعبیرولو او دحقایقو اړولو جذبه وه.

په دغسي انقلابي ناقدانو کې تر ټولو دمخکښ او لوی نقاد نوم "علامه محمد اقبال" دی، د چاپه اړه چې دا ویل پرځای دي، چې نوي تعلیم دې پیړۍ کې له هغه نه بله ښه نمونه نده وړاندې کړې!! نوموړی دختیځ ترټولو لوی بالغ نظر مفکر ګڼل کیږې، دختیځ په مفکرانو او ذهینو کسانو کې (سربیره په دې چې په هغوئ کې زیاتره دلویدیځ اسیران ول) هیڅ تن داسې نه و چې هغه په غربي تهذیب دومره په ژور لرلیدسره کتنه کړې وې او بیا په دوومره جرئت دې په هغه نقد کړی وې.

محمد اقبال دهغه تهذیب ترکیبي عناصر او دهغه کمزورې اړخونه ښه وڅېړل، دهغه د فساد هغو ژوروته یې ځان ورساوه، کوم چې دهغه مادي اړخ د مذهبي ، اخلاقي او روحاني، اقدارونه دلویدیځ دبغاوت لپاره دهغه په خمیره اغېزل شوي وو، نوموړی دقلب و نظر دي فساد ته کوم چې دغربي تهذیب خصوصیت دی، د روحي چټلۍ نوم اخلي :نوموړی وایي :

فسادوقلب نظر فرنگ کا تهذیب= که روح اس مدنیت ره سکي نه عفیف

ره نه روح میں پاکیزگی تو هی ناپید= ضمیر پاک وخیال بلندو ذوق لطیف (ضرب کلیم ۶۹مخ)

دلوړو زده کړو په وړاندې

حسن مومند

دا ښکاره خبره ده اوهرمسلمان پرې پوه دی چې دنړۍ کفار او ټول باطل پرسته اشخاص داسلام او حقیقي لارې سره دجنګ او مقابلې په حالت کې دي اوډېرې زیاتې هڅې کوي چې دخپلو شومو پلانونواوناکاره دسیسو له لارې دحقې لارې تل روښانه ډیوه مړه او یاهم تته کړي خو دالله جل جلاله په مرسته او داسلام دقهرمانوشا زلمو همت او هڅو دغه کړنې او دسیسې رسوا او شنډې کړې دي؛۱۳ کلونه وړاندې چې کله دنړۍ کفري یرغلګرو پر افغانستان یرغل وکړ، دافغانستان دمومن او مجاهد ولس دسیاسي، اقتصادي، نظامي او اجتماعي اشغال سره سره یې د ولس دبچیانو دفکري اشغال لپاره هم محاذ پرانست او ددې اشغال لپاره یې ګڼې توطې او بېلابېل پلانونه جوړ کړل او لګیا دي جوړوي چې د پردي کلتور، غربي تهذیب دفحش او بداخلاقیو رواجول او دځوانانو او ښځو اخلاقي انحراف دټولو په سر کې دی.

ددې ترڅنګ یو بل شوم پلان او دافغانستان ولس ته ترټولو خطرناکه دسیسه دمعارف په نصاب کې ګوتې وهل او له دې لارې دولس دبچواذهان تخریبول دي چې دا ۱۳ کاله دیوپسې دبل ګنو نصابونو بدلېدل رابدلېدل دهمدې لپاره واو زموږ په همدې اونورو مجلوکې ورباندې ګڼې لیکنې خپرې شویدي .

اوس دوئ په ډېرې سپین سترګۍ دمعارف نه هم پښه واړوله او دلوړو زده کړو تروزارته یې خبره ورسېده ؛ داسې ښکاري چې تقریباً تېر ۱۳کلونه یې پرې کار کاوه خو اوس یې خبره رابرسیره کړه، اوددې لپاره دوئ لا پخوا هم د لوړو زده کړو په وزارت کې یو څه فکري کار کړی وو دمثال په توګه :

۱ـ که څوک غواړي چې دیو پوهنتون استاذ شي او په علمي کدر کې شامل شي، که هغه دلسانس سند ولري باید عمر یې له ۳۰ کالو ډېر نه وي، او که ماستر وي عمر یې باید ۳۵ او که دکتورا ولري عمر یې باید ۴۰ کاله وي.

دصلیبي یرغلګرو شوم پلان

له دې لائحې څخه یې موخه او هدف دا وو چې دهجرت او جهاد په چاپیریال کې رالوی شوی او تربیه شوي اشخاص څوک چې په اسلامي او ملي فکر تربیه وي هغوئ په علمي کدر کې شامل نه شي چې عملاً یې ډېرې نمونې شته ؛ کوم مسلمانان چې دپوره استعداد او اسلامي اصلاحي فکر خاوندان دي همدا اوس یې عریضې رد او نشي کولای چې دعلمي کدر غړی شي .

۲ـ دبورسونو غوښتلو لپاره داسلامي هېوادونو سره اړیکې نه نیول کېږي ، که نیولې شوي وي هغه هم ډېرې محدودې دي .

اوخطرناکه خبره داده چې کومو غربي او نااسلامي هیوادونو ته چې ځوانان لېږل کېږي نه دهغوئ مراقبت کېږي اونه ورته دخپل دین اوکلتوردساتنې درس اوتربیت ورکول کېږي څکه خوډېرځوانان هلته په اخلاقي فساد اخته کېږي آن تردې چې دځینو داسې ویډیو ګانې خپرې شوي چې هلته مسیحیان شوي هم دي.

۳ـ ددې لپاره چې پتمنې افغان مېرمنې بې پته شي خارجي بورسونو کې ښځو او جونو ته ډېره ونډه ورکول کېږي.

۴ـ دلوړو زده کړو په وزارت کې په اسلامي او افغاني لباس ملبس استاذانو او محصلینو سره عمدا ډېره بده رویه کېږي

آن تردې چې دلوړو زده کړو دانسجام په نوم هغه شعبه چې داستاذانو دتقرر دنده پرغاړه لري پکې یو تن لوړ پوري

مامور ((یوسف جویان)) یو اساذ ته ویلي چې: ستا شکل او ږیرې ته ګوره او استاذۍ ته ګوره

۵ـ که څه هم دولت کې دعلماءوکارکول درست ندي اوددولت پالیسي داده چې علماء په دولت کي مصروف کړي خو ددې لپاره چې علماء دلوړوزدکړو نه لرې پاتې شي دلوړوزدکړو وزارت داسې یوه لائحه جوړه کړیده چې دوفاق المدارس او نورو مدرسو هغه فارغان چې اسناد یې په لوړو زد کړو وزارت کې دلسانس معادل ګڼل شوي نشي۔ کولی چې دیو پوهنتون استاذ او په علمي کدر کې شامل شي، همدارنګه ددې لائحې له مخې علماء نشي کولی چې دنورو زده کړو لپاره په ماسترۍ کې شامل او یا هم په کوم قضائی ارګان کې دقاضي په صفت کار وکړي.

خودصلیبي اشغالګرو اوسنی اقدام چې ډېر خطرناک دی هغه دادی چې دهېواد دپوهنتونونو دشرعیاتو پوهنځۍ لپاره نوی نصاب د used له لورې جوړوشوی، چې په همدې ورځو کې عملي شویدی ؛ used دامریکا پرمختیایي اداره نومول شوې چې حقیقت کې د cia او نورو استخباراتي کړیو لپاره کار کوي، دې اداري دهېواد د پوهنتونونو څخه دشرعیاتو او حقوقو پوهنځیو استاذان څو ځلې په بیلابیلو سیمینارونو کې راټول کړل چې دیو متحد نصاب په هکله یې ورسره مشورې کولې؛ پدې استاذانو کې اګر چې ځینې ضمیرپلورونکي اشخاص شامل ووخو چې اکثریت یې دهجرت او جهاد دچاپیریال هغه خلک ووچې دخپل دین او وطن سره یې مینه درلودله نو ددوئ دشومو پلانونو سره یې مخالفت و ښود

خو used ددوئ دمخالفت څه پروا ونه ساتله اوددوئ له تائید پرته یې دلوړو زده کړو دوزارت له لارې د متحد نصاب په توګه خپل جوړ کړی نصاب اعلان او رسمایې پوهنتونونو ته ولېږلو، ترڅو ژر ترژره یې عملي کړي او دتعقیب لپاره یې ګڼ هیئتونه هم هرپوهنتون ته ولېږل.

اوس دوئ په ډېرې سپین سترګۍ دمعارف نه هم پښه واړوله او دلوړو زده کړو تروزارته یې خبره ورسېده ؛ داسې ښکاري چې تقریباً تېر ۱۳کلونه یې پرې کار کاوه خو اوس یې خبره رابرسیره کړه، اوددې لپاره دوئ لا پخوا هم د لوړو زده کړو په وزارت کې یو څه فکري کار کړی وو دمثال په توګه

دحیرانتیا خبره ده چې دې اداري دعصري پوهنځي نصاب کې هم لاس ندی وهلی خودشرعیاتو او حقوقو پوهنځي چې دیني پوهنځي دي نصاب ورته دوئ جوړوي؟!

له دې نصاب نه داسې مضامین چې یې دمسلمانو او مجاهدو بچو لپاره زده کړه ډېره اړینه ده ویستل شوي لکه: الحاضرالعالم الاسلامي، فقه الجهاد، حفظ، فکري استعمار، طرق التدریس،تاریخ الخلفاء، داسلام تاریخ او نور.

پدې نصاب کې دوه ډوله مضامین دي، اساسي او اختیاري یعنې د اساسي مضامینو ویل ضروري وي او داختیاري په باره کې محصل واک لري چې لولي یې او که نه، نوانګلش پکې اساسي او سیرت النبي صلی الله علیه وسلم پکې اختیاري دی، حال دا چې دهر مسلمان وګړي ژوند، ناسته پاسته، مرګ، په ټولنه کې اوسېدل، ددین څخه دفاع، دهیوادارضي ټمامیت، سیاسي چارې، اقتصادي چارې او نور له سیرت پورې تړلي دي.

پدې اساس دهیواد درانه هیوادوال باید خبر اوسي چې ددوئ داصیلو بچیانو لپاره درسي شوم اهداف ټاکل شوي هیله ده چې له دې هرڅه ځانونه خبر وساتي اومخه یې ونیسي.

ددې نصاب په تطبیق سره به نه یواځې په ځوانانو کې اسلامي فکر تت شي بلکي ټول به بی سواده فارغ شي .

خو ځرنګه چې الله جل شانه دخپل دین پوره ساتونکی او مددګار دی هیله ده چې دهیواد دشازلمو په مټ او دلته دالله جل جلاله په مرسته به ددوئ دغه پلان هم دنورو پلانونو په څېر شنډ او رسوا شي .ان شاءالله

داصول فقه او اجتهاد تاریخ

دویمه برخه: داسلامي نړۍ نقه عالم دوکتور محمد حمید الله (رح)

ژ: شهاب منصور

څلورمه برخه

پوښتنې او ځوابونه :

درنو ورونو او خوېندو! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ګڼې پوښتنې راغلې، کوښښ کوم څو دخپل وس سره سم هغو ته ځوابونه ووایم!

۱- پوښتنه: په اوس وخت کې دلته (پاکستان کې) داجتهاد کولو طریقه څه ده؟ هم دا راز نن سبا داجماع اوقیاس کولو طریقه به څه وي؟

ځواب: ځما په فکر دپاکستان او غیر پاکستان پوښتنه بې ځایه ده، دا مسئله دټولې نړۍ دمسلمانانو ګډه مسئله ده، دکوم څه په اړه چې په قرآن او حدیث کې صراحت نه وي راغلی او یوه ضروري مسئله پیدا شوه، نو موږ اړیو چې داسلامي حکم معلوملو لپاره انفرادي او اجتماعي کوښښونه وکړو، که وربانديې ټول خلک متفق شول فبها؛ او کنه واکمن (امیر المومنین) ته کوم حکم مناسب معلوم شو، باید په هغه باندې عمل وشي، داجماع اوقیاس وړاندې یادونه وشوه، اصل شی اجتهاد دی، اجتهاد ته دلږ توپیر په وجه مختلف نومونه ایښودل شوي، څوک ورته اجتهاد او قیاس وایي، ځینې ورته داستحسان نوم اخلي، دلته تفصیل ته اړتیا نشته، قیاس او اجماع عملاً دواړه یوشی دي، یوازې دومره توپیر لري چې اجتها دیوه سړي رایه وي، او اجماع هغه وي چې ټول فقهاء او قانونپوهان وربانديې اتفاق وکړي، غالباً ما وړاندې په یوه لیکچر کې عرض وکړ چې: مسلمانانو کې داجماع اصل شتون لري، خو ... د تیرو څوارلس سوه کلو راهیسي ورته دیوې اداري په توګه پاملرنه نده شوې، داچې په کومه مسئله اجماع شوې په کومه نه؟ نن ددې دمعلوملو لپاره موږ کومه زرېعه نلرو، په لومړیو پېړیو کې مسلمانان دنړۍ په درې لویو وچو کې خواره شول، خو داصورت په هېڅ دوره کې ندی رامنځته شوی، چې یوه پوښتنه دې دوخت ټولو لویو فقهاوو ته لیږل شوې وي، شاید وړاندې زمانه کې داکار په دې هم ناشونی و، چې دتګ راتګ او حمل ونقل وسایل دنن پشان نه وو،البته نن سبا دا کار شونی دی، له دې وجې اسلامي هېوادو ته دځانونو دمحدودولو اړتیا نشته، هرځای چې مسلمانان اوسي، هلته هغوئ باید دیوه نظام لاندې منظم او را ټول شي، مثلاً: په هر هېواد کې دفقهاوو یوه ټولنه او انجمن دجوړولو اړتیا ده، هغه کولی شي خپل منځ کې یوبل ته دپوښتنو په لیږلو رالیږلو ځانته داسلامي نړۍ دعلماوو او فقهاوو نظرونه معلوم کړي، هرې ټولنې او ښاخ ته چې یوه مسئله ور ولیږل شوه، هغه دې

دخپل هېواد اړوند جيد و فقهاوو ته ورولېږي، څو په اړه يې هغوئ مدلل ځواب ولیکي، کوم مرکزته چې لومړی دا مسئله پېښه ده، کله چې هغه ته له نورو علمي مرکزونو ځوابونه ورسي، له ټولو وروسته چې دا څرګنده شي، چې ټول په دې متفق دي نوبیا اعلانولی شي چې د دې مسئلې په په اړه دنړۍ ټول فقهاء متفق دي! که اختلاف و، بیا داختلافي دلايلو يوه خلاصه تیارول پکار دي،هغه بیا دویم ځل ټولو ښاخونو او مرکزونو ته لیږل پکار دي، څو هغو فقهاوو ته چې وړاندې يې يوه رايه وه،ورته دمخالفانو دلايل هم څرګند او په لاس ور شي،دا د اجماع په اړه دیوې اداري جوړولو لړ کې ځما تصور دی، ولې دا کار ناشونی دی، چې دټولې نړۍ فقهاء هر وخت په يوه ځای کې سره ټول اووسي ،د څو ورځو رلپاره کیدای شي هغوئ راټول شي ، خو ټول عمر په يوځای دټولو استوګنه ناشونې ده، بل که دنړۍ ټول جيد علماء په يو هېواد یا يوه ښار کې دتل لپاره يوځای اووسي ، په دې سره به دهغوئ وطنوال اوښاریان دهغوئ له دیني خدمتونو بې برخې اومحروم کړای شي او که داسي ټولنې یا انجمنونه جوړ شول، نو شونې ده چې دټولې نړۍ له فقهاوو نه په اسانه نظرونه وغوښتل شي ، هغوئ په اسانه کولی شي چې خپل نظرونه ورکړي، لیکن په دې شرط چې زموږ فقهاء ورلیږل شوی لیک هم ځواب کړي، بدبختانه دلیک په ځوابولو کې تساهل اوغفلت نن سبا عام دی، ماته په زړه دي يو ځل مې دامام بخاري کتاب "التاريخ الكبير" چې دمحدثینو حالاتو په اړه دی، مطالعه کاوه، هغه کې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما يوقول راغلی، امام بخاري (رحمه الله) دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت نقل کړی دی چې : " دلیک ځوابول هغسې واجب دي، څنګه چې دسلام ځواب ورکول واجب دي" که زموږ دزماني فقهاء په دې عمل وکړي، نو امت به له هغوئ نه استفاده وکړي، کنه په موږ کې د نورو نیمګړتیاوو پشان يوه داهم ده چې ډېر کم خلک ځواب ورکول شرعي مسولیت بولي.

۲- پوښتنه : داسلامي قانون له مخې فیصله دیو عمل دظاهر لیدته په پام کېږي، لکه جبري طلاق؛ دا ولې؟ نیت ته ولې اعتبار نه ورکول کېږي؟وجه څه ده؟

ځواب: په ظاهره وجه داده چې نیت داسي شی دی، چې هغه موږ ته په نظر نه ښکاري، شونې ده، چې يو سړی په سر کې نیت ولري، خو کله چې له هغه پوښتنه وشي هغه له دروغو کار واخلي او وايي: ځما نیت دا نه و،په دې اړه که موږ دحدیث الفاظ وګورو، نورسول الله ﷺ په ظاهر دعمل حکم کړی دی، ولې دباطن په اړه موږ علم نلرو، دهغه علم له خدای سره دی، دې لړ کې يوه مشهوره واقعه ده:چې يوه ورځ په يوه جنګ کې درسول الله ﷺ يو نژدې ملګري حضرت اسامه بن زید بن حارثه رضي الله عنه څوک چې درسول الله ﷺ دا زاد غلام اومتبنی حضرت "زید" ځوی و ، دښمن سره لاس په لاس جنګ کاوه،دجنګ په وروستیو شیبو کې چې کله د حضرت اسامه () توره دښمن سرته رسي، هغه په لوړ غږ وايي: "اشهد ان لا اله الا الله" ددې باوجود اسامه رضي الله عنه لاس ونه نیو او د هغه له تنې نه يې سر قلم کړ، کله چې رسول الله ﷺ ته اطلاع ورسیده ، زیات خفه شو، اسامه وویل: هغه شهادت کلمه له ډاره وویله، هغه له زړه نه حقیقي مسلمان نه و، ځواب کې يې درسول الله ﷺ الفاظ داو: "هلا شققت قلبه" ايا تا دهغه زړه څیرلی او دننه دې لیدلی و چې نه و مسلمان !بله داچې په ظاهر باندې دعمل پرته موږ بله چاره نلرو، دلویدیځ دلوړو پرمختیاوو او ایجادونو باوجود دانسان دباطن حال معلومول تراوسه ممکن نشو، له دې، پرته عمل دانصاف خلاف عمل دی، ولې خلک ددې لپاره چې دخپلو عملونو تراخه ونه څکي دروغ وايي: که زموږ دقاضي او یا محکمي په وړاندې دروغ ویل اومنل شي، نودا به انصاف نه ظلم وي.

۳- پوښتنه : که نوي اجماع په پخوانۍ اجماع فوقیت ولري، نوایا دصحابه وو او څلورو ایمه وو اجماع هم ردېدای شي؟

ځواب: داصولي بحث په ځای غواړم،پوښتنه وکړم ایا تاسو داسي اجماع ښودلی شئ، چې هغه له صحابه وو ،یا دڅلورو ایمه وونه منقول وي؟ بیا زه تیار یم چې ځواب وو ایم، چې دپخوانۍ اجماع بدلولو ته اړتیا شته کنه؟ په فرضي پوښتنو وخت مه ضایع کوئ! پوهیږو چې په هر هغه څه چې دصحابه وو اجماع شوې وي یا وربانـدې څلور امامان حنفي، شافعي، حنبلي اومالکي متفق وي، هغه به هیڅکله داسي نه وي، چې زموږ ذهنونه یې قبول نکړي، اصولاً زه ددې خبرې منلو ته نه یم تیار! تاسي ماته په دې اړه یومثال راکړئ، بیا ویلی شم چې ددې قاعدې په اطلاق دنوې زمانې اجماع دپخوانۍ زمانې دفقهاوو په وړانـدې ږدو، یا په نوې اجماع پخوانۍ ردولی شو!هر کله چې داسي اجماع نده شوې نو پخوانۍ اجماع واجب التعمیل ده، دصحابه وو یا دایمه وو اجماع به په هر صورت پخپل ځای پاتې وي.

۴- پوښتنه : که خلافت " علی منهاج النبوة" و، ایا دوخت حاکم کولی شي، په یوه مسئله کې اجتهاد وکړي ، او که هغه په یوه مسئله کې اجتهاد کوي هغه به دخلکو لپاره دمنلووي؟

ځواب: که داسي خلافت و، څنګه چې اوسني حکومتونه دي، نوښکاره ده چې دحکومت اجتهاد به دمنلووړنه وي، په دې صورت کې چې څوک خپله له قرآن او حدیث نه استدلال نشي کولی هغه به څه وکړي،ولې نن سبا په ډېرو مسایلو کې دعلماوو رایې له یوبل نه جلادي ، اګر که زه دپوښتنې په اصلي غرض نه یم پوی، خو یوې خبرې ته ستاسو پام راګرځوم، داسلام دا روایت ډېر عجیب دی،چې بل هېڅ قوم کې موږته په نظر نه رازي، یعني په نورو هېوادونو کې قانون جوړوونه دحکومت دنده ده ، خو په اسلام کې له رسول الله ﷺ وروسته داسي نـدي شوي، اسلام کې دا اصول شته چې قضایا به له حکومت جلا وي، دا اصول لوېدیځ هم منلي اوپه موږ کې هم پخپل حال پاتې دي، هم داوجه ده چې درسول الله ﷺ له دور نیولي تر ننه قانون جوړونه یوه ازاد او خپلواک بڼه لري، هیڅکله هم دحکومت اجاره نده ګرځول شوې، ددې نتیجه داده چې مسلمانو فقهاوو تل په ازادو لاسو دقانون په ترقۍ کې ونډه اخیستې او یوائې تر حکومت خاص نده، کنه هیڅکله شاید اسلامي قوانینو دومره ترقي نه وای کړي، څنګه چې عملاً شوې ،زه دانه وایم چې دا اسلامي قانون یا حکم دی، بلکې یو اسلامي دود دی، چې قانون جوړول یوائې دحکومت اجاره نده، کنه خامخا به دحکومت دسیاسي اړتیاوو له وجې قانون هم متاثر و، که زه دعدلیې وزیریم، د هېواد دولسمشر اړتیاوې ما مجبوره وي چې دهغه له خوښې سره سم دقانون مسوده پارلمان ته وړاندې کړم اوپکې له خپل ذهنیت نه په دې کار اخلم، چې زه داکثریتي ډلې مشر اویاد حکومت له ډلې یم،خپلو غړو اوملګروته حکم کوم چې ددې مسودې په خلاف رایه ورنکړي،په دې صورت کې داکثریت په رایه چې کوم قانون جوړېږي، هغه به له سیاسي اغراضونه اغیزمن وي، ددې برعکس اسلامي فقهاوو دپخوا پشات ازادي ولري ، کولی شي هغوئ خپله قانون جوړ کړي، یعنې داحکامو په اړه دقیاس او اجتهاد له لارې رایې ورکړې، په دې تو ګه به قانون دوخت دحکومت او سیاست له اغیزو نه خوندي وي، یو شخص یوه رایه ورکوي ،بل بیا دهغه برعکس رایه ورکوي، دریم تن شاید ددواړو ترمنځ منځنۍ رایه ورکړي اوپه دې ډول دیوعام بحث اومباحثې روسته موږ کومې نتیجې ته ورسیږو، کومه چې دحکومت اوملت لپاره او ټول بشریت لپاره په کار راځي، ځما تصور ددې په اړه ضروري ندی چې تاسي له ماسره په دې اړه اتفاق ولري.

٥- پوښتنه : لومړی اجماع کله اوپه کومه خبره شوې؟

ځواب: دقیق نشم ویلی، غالباً لومړی اجماع صحابه وو کړې، اوپه کومې مسئلې او کله شوې؟ ممکن دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دوره کې شوې، مثلاً: دزکات نه ورکونکو سره دجنګ په اړه، ولې دا لومړی مسئله وه چې پکې څه اختلاف پیداشو، لویو لویو صحابه وو لکه حضرت عمر رضی الله عنه پشان صحابي رایه هم داوه چې فی الحال په دې اصرار ندی پکار، کوم خلک چې یوائې زکات نه منې هغوئ کافران مه ګڼئ، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه عمر رضی الله عنه ته ځواب ورکړ، چې په قرآن کې لمونځ اوزکات(اقیموا الصلوة واتوا الزکوة) دواړه یوځای ذکر دي،څنګه چې یوتن دلمانځه نه په انکار زه مجبور یم چې هغه مرتد وبولم، همداسې یو تن له زکات ورکولو نه په انکار مرتدی دی، ممکن دا لومړی اجماع وي، یا شاید داوې چې درسول الله ﷺ نه وروسته مسلمانانو ته دیوه خلیفه وجود ضروري دی.

٦- پوښتنه : ایا اجتهاد دهر شخص حق دی، که داسې وې نو هرڅا داجتهادي اختلاف په وجه به اختلافات ډیر شي، ددې حل به څه وې؟

ځواب: ما اوس عرض وکړ، داجتهاد کولو حق یوائې دقانون او اسلامي فقهې فقهاء لري، دهر سړي کارندی، پکې دراېې اختلاف باک ندی، لومړی ددویم فریق دلیل معلومولو وروسته موږ ته داموقع په لاس راځې چې هغه قبول یا رد کړو، په دې کې ځما په اند هیڅ کومه ستونزه نه وړاندې زمانه کې پیداشوې او نه په راتلونکي کې امکان شته دی، ولې چې دراېې اختلاف ګټه لري، په دې شرط چې اختلاف په ښه نیت سره وکړای شي، یوائې دځان ښودلو لپاره نه، یا ددې لپاره هم نه چې فلاني دا وینا کړې، زه یې ردوم ! غالباً په همدې بناء ویل کیږي چې دراېې اختلاف بندولو په ځای غوره داده چې په ښه توګه ترې داستفادې لارې چارې په پام کې ونیول شي.

٧- پوښتنه : که یو کافر ووایي زه اسلام راوړم، خو راته هغه فرقه په ګوته کړئ چې دهغې په عقایدو او نظریاتو باندې په عمل سړی کامل مسلمان ګرځي په دې اړه څنګه هغه ته داړ ورکولی شو. مننه

ځواب: ځما په نظر ددې سهي ځواب دادی چې که کوم تن دیوې ډلې اومذهب دننه وي، هغه په ټول خلوص او باور دا انګیري چې دهغه مذهب یا عقیده حق ده، له دې وجې هغه په هر نوي تن کوښښ کوي چې ځما عقیده سمه ده، په فاریس کې نوي مسلمانان له مانه پوښتنې کوي، چې موږ اوریدلې په مسلمانانو کې ګڼ فقهې مذهبونه شتون لري،لکه حنفي ، شافعي، مالکي حنبلي موږ کوم یو غوره کړو؟زه مالکي نه یم، خوداچې په فرانساه کې اتیا پنځه اتیا سلنه مسلمانان مالکیان دي، زه هغوئ ته وایم چې مالکي فقهه ستاسو دهېواد دماحول سره سمون لري،سره ددې چې مالکي نه یم،خو هغوئ ته وایم چې تاسوددې ځای مالکي مذهب په غوره کولو سره به دمسلمانانو ترمنځ ځای وموئ، نو تاسې هم نوي اسلام قبلونکې دهغه دهېوادفقهي مذهب لورته تشویق کړئ کوم چې هلته دمسلمانانو ترمنځ خوروي،څونویو مسلمانانو ته ځانونه اجنبي ښکاره نشي نوربیا...

د تاریخ دیوې هیرې غمیزې په یاد

څو کړبنې!


" رحیـــمي

درجب ۲۸مه نیټه، داغیار په تاریخ کې لویه ورځ ده!! هغه پرې ویاړي، په شاندارو مراسمو اوغونډو یې لمانځي! خوزموږ په تاریخ کې بیا دغمونو اوله بدمرغیو ډکه ...ده، هو! اغیار حق لري چې په خوښیو اوجشنونو یې ولمانځي !ولې هغه په دې ورځ داسې برى مندلى چې تاریخ کې سارى نلري.

دشک پرته دخپلو جفاء اود پردیو مکارۍ اوعیارۍ اسلامي امت ددومره سترې غمیزې په ټغر کیناوه، چې په ټوله نړۍ کې ورسره مسلمانان دخپل لوی سیاسي شرف اوقیادت نه دتل لپاره محروم شول!! دمسلمانانو سیاسي قبله ونړېده، دخلافت قبا څېرې شوه، دانګریزانو غلام او وفادار مصطفی کمال د اسلامي امت وحدت ټوټې ټوټې کړ، دمسلمانانو دخپل منځي اتحاد او ورولۍ احساس یې زندۍ کړ! هغه دانګریزانو په اشاره نړۍ کې دمسلمانانو د سر، مال، عزت او ابرو ساتونکی او مدافع عثماني سلطنت ړنګ کړ، دمسلمانانو دیووالي او اتفاق سیمبول یې مات کړ، هغوئ یې په جغرافیوي، سمتي اوژبنیو توپیرونو وویشل، ترمنځو د کرکې، دښمنۍ اونفاق کرښې راښکلې!

ګوډاګي اتاترک په ۱۳۴۲هق کې درجب په ۲۸مه چې د۱۹۲۴زدمارچ د۲۰مې سره سمون خوري، غلامانه ګام پورته کړ، دانګریزانو اوفرانسویانو خوشالولو لپاره هغه دعثماني خلافت پای اعلان کړ، له هغه مهاله ۹۰ کاله پوره شول، چې دغه ورځ پخپل راتګ هر کال اسلامي نړۍ ته خپله تیره له برم ډکه ماضي وریادوي! مسلمانانو ته د خپل عروج اوزوال خواږه اوترخه داستانونه ورپه زړه کوي، بیاهم د اسلامي نړۍ ویده ضمیر بیدار نشو، دمسلمانانو په رهبرانو اوچارواکو دېار اوبزدلۍ خپسه داسې ختلې چې پوښتنه مه کوه؟ دمسلمانانو نوی نسل له دېنه آګاهي نلري، چې دا کار چا وکړ؟ اودچا په مټو یې وکړ؟ باور وکړئ په همدې ورځ داسلامي نړۍ دعزت، شرف او عظمت لمر پریوتی او په اسلامي نړۍ دبدمرغیو، ناخوالو او وحشتونو توره سېلۍ رالوتې.

په همدې پورته یاده نیټه دبرتانوي پارلمان (دارلعوام) دننه "لارډ کرزن" پورته شو هغه په ډېر ویاړ سره و ویل: نن موږ دترکانو روحاني ځواک داسې مات کړ!! چې بیا به هیڅکله جوړ اویوځای نشي! نوي کاله وروسته د"لارډ کرزن" لمسي دخپل نیکه عزم نه تنها ستایې، بلکې



هغه ته ژوند ور کوي، ورنه په ټینګه دفاع ته ولاړدي او کوښښ کوي چې دتر کانو د روحاني ځواک په تنه کې بیا کوم مسیحا روح پو نکړي!هغوئ د تاریخ له زوراوزیرنه خبردي، مسلمانانو کې ترک هغه میړنی ولس دی، چې تر څو پیړیو یې په یواځي سر د اسلام اواسلامې خاورې نه دفاع خپله دیني فریضه ګڼلې وه، تر کانو هغه مهال دجهاد سپېڅلې فریضه سرته رسوله چې نور مسلمانان له جهاد نه ستړي اوستومانه وو، نوروقومونوتورې کېښودي او داسلام ددفاع نه ناست وو، داسلام ددفاع لپاره یواځي دتر کانو توري چلیدلې، اسلامي بیرغ دنورو له لاسو لوېدلی و تنها تر کانوپورته نیولی و ،داسلام په نژدې ماضې کې داسلام ددفاع لاره کې تر کانو څومره وینې توی کړي، دومره د بل ولس وینې ندې توی ... هم داوجه وه چې صلیبي مکاردښمن له پیړیو پیړیو نه دیته تیار کمین په کې ناست وو، چې څنګه داسلام سیاسي قبله(عثماني خلافت)ونړوي؟ هغوئ یواځي دخلافت اوخلیفة المسلمین په معزولولو بسیا ونکړه، بلکې دخلافت مفکوره یې هم دمسلمانانو له ذهنونو مسخه کړه، ملت پالنه اودیمکراسي یې دخلافت دبدیل په حیث وړاندې کړه، تر کان یې له اسلامه بیزار اولرې بوتلل، دهغوئ له مغزونه یې د اسلام دنړیوال وحدت مفکوره وویځله ؟ هو! صلیبیانو اوصهیونستانو په ګډه دا مبارزه پرمخ بیوله آخر دهغوئ ګډو سازشونو رنګ راوړو، داسلام نړیوال اتحاداو وحدت ټوټې ټوټې شو!

په دې اړه چرچل لیکي: دمسلمانانو له لاس نـــه دبیـــت المقـــدس وتـــل، دمسیحیانواویهودانو یو ګډ خوب و!هم دا دلیل و چې دعثمانـي خلافت په زوال اودمسلمانانو له لاسو نه دبیت المقدس په وتلو نه یواځي یهودو خوشالي لمانځله بلکې دمسیحانو لپاره هم داختـر ورځ وه، د مشهورتاریخ لیکونکي :آرنلډهو ټنګر په نظر :دعثماني خلافت ړنګیدل، دټول اسلامي خلافت ړنګول و! هو ټنګر پوښتنه کړې:اسلامي تهذیب کله پای ته رسیدلی؟ هغه ځواب هم خپله کوې:دمسلمانانو یا اسلامي تهذیب زوال په ١٨ مه پیړۍ کې هغه مهال پیل شو، کله چې مغربیت ظهور وکـړ!! هغـه د اسلامي تهذیب زوال تـه پیلامـه شـواو دعثماني خلافت په ړنګېدو دا لړۍ بشپړه شوه !!

دهوټنګ خبرې رښتیا ندي، اسلام اوسلامې تهذیب نن هم دډېر توندو اوتوپانې دسیسو سره له ډغرې وهلو وروسته هم ژوندی دی،ځکه سلام اواسلامي تهذیب یوه اسماني رڼا ده اودا ناشوني ده چې څوک داسماني رڼا مخه بنده کړي ،داخبره پخپل ځای ده چې دخلافت ړنګېدو سره جوخت په عربو اوعجمو واکمن عثماني سلطنت په کوچنیو، کوچنیو هېوادو اودولتونو وویشل شو،هر هېواد ځانته جلا پیژندګلوې اوقوانین تدوین کړل او دمسلمانانو له ملي وجود نه جلاشول، افسوس ! داسلام په ځای مسلمانان دسیکولرزم ساتندویان شـول، دخلافـت د نظـام سـره ټولـه رشـته قطـع شـوه او ددیمکراسۍ په جال کې ونښتل،د یوه مرکزیت نشتوالي له

امله اغیار پخپل منځ کې سیالان او دیوبل رقیبان کړل ،دنړۍ د هېڅ اسلامي هېواددننه شرعي قوانینو دنفاذ څرک ونه لیدل شو،له هغه وخت راهیسې نړۍ کې مسلمانان درپه درخاوري په سر دي، پرلپسې ددښمنانو ددسیسو او یرغلونوښه دي اودیوه نړیوال سازش لاندې په مسلمانانو داسي واکمن مسلط کړای شوي ،چې هغوئ د اسلام په مقابل کې سیکولرزم ته ژمن دي، دمسلمانانو دمصالحوپه ځای ورته دخپل واک ساتنه لومړیتوب لري ،دهغه دبقا لپاره قدم په قدم دامریکا اواروپا مرستو ته اړدي،له دې وجې کتونکو ته د مسلمانانو راتلونکی روښانه نه ښکاري، یهودان او صلیبیان ګډ لګیادي دمسلمانانو دوحدت نورې ریښې وباسي، صلیبي هېوادونه اسلامي هیوادو کې لاسو هنې او دمسلمانانو دځوان نسل دبې لارې کولو لپاره کار کوي!

وړاندې د لومړي نړیوال جنګ موخه هم داوه، چې هغه عثماني خلافت ړنګ کړي، کوم چې د شپږو پیړیو په اوږدو کې داسلام ددفاع علمبردار و، ، په ۱۹۱۴ز کې دبرتانوي ښکېلاک په مشرۍ دنړیوال جنګ هدف داو، چې عثماني سلطنت له منځه یوسي، کله چې په ۱۹۱۸ز کې برتانوي او اتحادي ځواکونه استنبول ننوتل، لومړي قدم کې یې اسلامي نړۍ په جغرافیوي پولو او حدبندیو وویشله او دمسلمانان یې دخپل واحد سیاسي مرکز نه محروم کړل عثماني خلیفه(سلطان عبد الحمید) یې قید کړ، په ۱۳۴۲هق کې درجب په ۲۸مه (۱۹۲۴زدمارچ ۲۰مه) دغرب لاسپوڅي مصطفی کمال(اتاترک) دخپلو بادرانو د حکم سره سم دترکیې په مجلس کبیر (پارلمان) کې رسماً عثماني خلافت لغوه اعلان کړ په دې سره اسلامي نړۍ دخپل نړیوال سیاسي وقاره محرومه شوه، نن چې څومره خاوره دمسلمانانو تر واک لاندې ده ددې لویه سلنه د کفرله مونګلونه عثمانیانو ژغورلې، زیاتره اسلامي هېوادونه د زمکې په هم هغه برخه جوړدي، کومه چې عثمانیانو څوپیړۍ پخپلو وینوخړوبه کړې،خوافسوس چې نن په هغه زمکه جوړحکومتونه غرب ته وفادار دي، هغوئ دعثمانیانو په کارنامو باندې دویاړلو په ځای په غربي موډ او فیشن فخر کوي ، هغوئ دنړۍ مظلومو مسلمانانو دخیر اوسوکالۍ په ځای یونسکوته دروم اوفاریس کافرانه کلتوري ورثو ته په ملیاردو ډالرور کوي. ددینه علاوه پخپلو عیاشیو اوخرمستیو دومره بیدریغه لګښتونه کوي چې الامان والحفیظ! .حال داچې نن دوئ د کومو هېوادو دسرو اوسپینو څښتنان دي، ددې هېوادو لویشت لویشت زمکه عثماني سلاطینو په ډېرو لویو قربانیو اوفدا کاریو د کفر له مونګلو خوندي کړې.

دوا کمنو او چارواکونه علاوه هغه حلقې یا ټولنې چې دمسلمان ځوان نسل دفکرې پوهنې بیرغونه یې پورته نیولي، دهغوئ کردار هم ډېر بښونکی څه چې خواشینونکی دی، هغوئ ځوان نسل ته خپلې تنظیمې اوحزبې ایډیاوې ورزده کوي ، دمسلمانانو ددننه داجتماعې روحیې پیدا کولو لپاره ډېر لږ کار کوي،ځینې خو یومخ دمسلمانانو تیر تاریخ محکوموي،یوائې ځانونه ورته ښه پاخه مسلمانان ښکاري

لنډه دا چې مسلمانان نن ورځ یوائې په اسلامي وحدت او یوالي په رڼا کې چانس لري چې ځانونه دنجات ساحل ته ورسوي په مسلم شریف کې روایت دی رسول الله (ﷺ) فرمایلي: بیشکه امام(خلیفه) ډال دی،دهغه تر شا تاسي جنګېږئ اوخپله دفاع کوئ!

نو خلافت په دې سربیره چې دمسلمانانو دخوشالۍ او سوکالۍ لار ده، دمسلمانانوشرعي وجیبه هم ده،په اړه یې تنبلې ،غفلت اولاپرواهې لویه ګناه او دخدای (ﷻ) له لارې سرغړونه ده.

خیبر !دایثار اوقربانۍ دتاریخ نوی عهد اونوی پیغام...!

فرهـــاد "اتل"

خیبر هغه سمسور اوزرخېز سیمه ده، چې له مدینې منورې نه د دوه سوه میله په مسافت لرې پرته ده،د تاریخ اوجغرافیوي لاسوندونو له مخې خیبر کې عرب له ډېر پخوانه میشت وو، دیهودو د دوه درې کورنیو خیبر کې له عربي سوداګرو سره راشه درشه درلوده، یو وخت هغوئ هم خیبرته کډې راوړې،له هغوئ وروسته څو نورې یهودې کورنۍ هم خیبر ته راغلې، دوخت په تیریدو کرار، کرار دیهودو کورنیو په شمېر کې زیاتوالی راغی،تردې چې یهود له عربانو نه په شمېر کې واوښتل،هغوئ ځایې عربان له خپلو کورو، باغونو اوزمکونه څه په زور اوڅه په زرو وشړل، ټول خیبر یهودو ته ورپاته شو، هغوئ دخپلو استوګنو لپاره لوې برجورې کلاګانې جوړې کړې ، چې په هغوکې قموص، ناعم، سالم، قصاره او مریطه په نوم کلا وې مشهورې اولوې وې، له مدینې منورې نه جلا وطن قبیله "بنو نضیر" خیبر ته لاړه او هم هلته میشت شوه.

خیبر کې یهودو ددفاع لپاره نیږدې شل زره کسیز پوځ هم دهغه مهال په ټولووسایلو اوجنګي تجهیزاتو مجهز کړی وو.

درسول الله ﷺ له بعثت او بیا مدینې ته له هجرت وروسته خیبري یهودان د عربو په خاوره کې دمکې قریشو وروسته داسلام سخت سري دښمنان وو، په دې توګه دمکې وروسته خیبر داسلام اومسلمانانو خلاف دویم لوی مرکز و، احزاب جنګ هم دیهودي سازشونو په نتیجه کې رامنځته شوی و، په هغه کې دناکامۍ وروسته یهودبیا هم له خپلو بدو کړو وړو نه لاس په سر نشول، بلکې خپل شیطانې سازشونه یې دپخوا په نسبت نور وغځول، دخیبر دیهودو سردار "اسیر" غطفان قبیلې ته لاړ،هغه یې ځان سره ددې لپاره حلیفه اوملګرې کړه څو ګډ په مدینه دحملې لپاره تابیا ونیسي، رسول الله ﷺ ته دهغوئ ددې ارادې اطلاع راغله،سملاسي یې عبد الله بن رواحه رضي الله عنه د دقیقومعلوماتو مندلو پسې ولیږه،هغه لاړ، دیهودو ټول جنګي پلانونه یې کشف کړل، راغی رسول الله ﷺ یې خبر کړ،چې اسیر دغطفان اونوروقبیلو په مرسته یولوی لښکر ددې لپاره غونډ کړی چې په مدینه حمله وکړي، ددې وروسته رسول الله ﷺ عبدالله بن رواحه ﷺ سره د دیرش ملګرو بیا ولیږه، هغوئ دخیبر

یهودو مشر اسیر ته ورغلل او ورته یې وویل: که ته له مونږ سره یوځای رسول الله ﷺ ته لاړ شي، هغه به تاته دخیبر حکومت درکړي،ددې په اوریدو "اسیر" دخپلو دیرش ملګرو سره مدینې ته روان شو، لاره کې دهغه په زړه کې مسلمانانو ته بده اراده پیداشوه اودعبدالله بن رواحه رضي الله عنه دقتلولو پریکړه یې وکړه، ددې په ځواب کې مسلمانان په هغوئ ور وګرځیدل او جنګ شروع شو،په جنګ کې له یوه تن پرته نور ټول یهودان ووژل شول، په دې سره دواړو لورو ترمنځ باور پاته نشو، خیبر کې یهود داسیر وروسته د"سلام" په نوم یوبل یهودي باندې راټول شول اوهغه یې دځانو لپاره مشر غوره کړ،هغه داسلام په مرکز (مدینه) باندې دبرید لپاره روان کوښښونه نور هم چټک کړل،دمنافقانو مشر عبدالله بن ابی هم یهود دیته هڅول او ورته په یولیک کې یې ولیکل: مسلمانان کمزوري شوي، دهغوئ په وړاندې همت له لاسه مه



ورکوئ.

دهجرت په اووم کال رسول الله ﷺ له مدینې روان شو، دغه وخت کې د رسول الله ﷺ سره څوارلس سوه مجاهدین ملګري وو، درې بیرغونه یې پورته کړي وو، په هغو کې یو بیرغ دحضرت علی رضي الله عنه دویم دحضرت حباب بن منذر رضي الله عنه او دریم دسعد بن عباده رضي الله عنه سره و،رسول الله ﷺ په رجیع نومي ځای کې تم شو، دا ځای دغطفان او خیبر ترمنځ راځي ، ددې دا ګټه شوه، چې کله بنو غطفان ولیدل چې خپله د دوئ کور تر ګواښ لاندې دی، هغوئ ونشوای کړای چې یهودوته مرسته اوکومک ورکړي ،خیبر ته په ننوتو مسلمانانو لومړی په ناعم کلا برید وکړ، دا هغه کلاوه چې پکې یهودو اکمالاتي توکې او اسباب ګودام کړي وو، په نیولو یې یو لورته دښمن له خپلو جنګي توکیو او وسایلو نه محروم شو، بل مسلمانانو خپلې اکمالاتي اړتیاوې هم ترې پوره کړې، دناعم ترفتحې وروسته نورې کلاګانې یو په بل پسې نیول کېدې، خو قموص کلا زیات وخت ونیو،بالاخر دهغې سردار مرحب چې ډېر زړور پهلوان و، دحیدري ذوالفقار ننبه شو اوکلاله شل ورځیني مقاومت وروسته دحضرت علی رضي الله عنه په لاس فتح شوه،خیبر غزوه کې ۹۳ یهودان ووژل شول او ۱۵تنه صحابه شهیدان شول.

دفتحې وروسته دیهودو په غوښتنه رسول الله ﷺ دخیبر زمکې بیرته یهودو ته ورکړې،او په هغوئ یې دټول فصل نیمایې خراج کیښود، ددې نه وړاندې چې ځومره جنګونه شوي وو، هغه ټول دفاعي وو، خیبر غزوه داخصوصیت لري چې دا لومړۍ اقدامي غزوه وه، چې مسلمانانو یوه سیمه فتحه کړه او د اسلامي حکومت تر سلطې لاندې یې راوسته او اوسیدونکې یې خپل رعایا وګرځول.

داچې خیبر غزوه دمسلمانانو لومړۍ اقدامي غزوه ده، اودمسلمانانو دهغو ستروسوبو نه یوه ده، چې په برکت یې یوه خپلوا که سیمه داسلامي حکومت ترسلطې لاندې راغله، یهود چې داسلام او رسول الله ﷺ سخت دښمنان وو، خیبر کې له داسي هزیمت اوشکست سره مخ شول، چې هیڅکله یې تمه نه درلوده، افغانستان کې روان جنګ هم دالله جل جلاله په کامل نصرت او دمیړني افغان ولس دقربانیو په برکت دبریاوو وروستۍ مرحلې ته نژدې

شوی، ددښمن په مقابل کې مجاهدین په ډېر عالي مورال جنګیږي، هره ورځ ددښمن لسګونه عسکر دجګړې له ډګره دتیښتې اومنډې په حال دمرګ کومي ته ور ولویږي



،له نیکه مرغه چې اسلامي امارت سږنیو عملیاتو هم دخیبر نوم ورکړی، امید دی افغانستان ته راغلي صلیبیان اونور به هم له هغسي ماتې اوشرم سره مخ شي، له کوم سره چې خیبر کې یهود مخامخ شول، چې ترننه پورې دخیبر دشکست داغ دهر یهودي په تندي پاته دي، افغانستان کې بهرنې ځواکونه به هم که خدای کول هغسي شرمنده اودبري پرته وځي، څنګه چې احزاب کې دیهودو په سازش راټول کفري قبایل پرته دکومې نتیجې وتښتیدل ، خو په یو شرط چې داسلامي امارت تربیرغ لاندې جنګیالي او مجاهدین رښتیاهم په زړونو کې له خدای ډار ولري،دجهاد په اړه داسلام ټاکلي حدود او اصول تر پښو لاندې پایمال نکړي، په خلکو او ولس باندې ترحم ، مهرباني زیاته کړي له ظلم او تعدی نه ځان وساتي ، نو لري نده چې دخیبر تاریخ تکرار شي،دخیبر عملیات د ستري سوبې پال شي، څنګه چې خیبرغزوه

دمکي دشانداري فتحې پال شوه، خو که مجاهدین په زړونو کې له خدای ډار ونلري، په خلکوله زور زیاتي اوظلم نه ډډه نکړي، حتمې ده چې دخدای ﷻ له نصرت او کومک نه هم محروم شي،ددې لپاره دخیبر نوم ایښودل به هغه مهال یو واقعې تاثیر ولري، چې په عمل کې هم دخیبر دفاتحینو پشان رښتنولې، اخلاص اودقربانۍ جذبه ولیدل شي. لنډه داچې خیبر تش نوم ندی، دا دیوې لوې قربانۍ، جذبې، او ایثار دعهد تجدید دی، دمیړانې او قهرمانۍ یو لوی پیغام دی، خدای دي وکړي چې پکې دهم هغه مومنانه مسیر رنګ وځلیږي !

یوه نومیالي شاعر خیبر کې دعلی رضي الله عنه مجاهدانه کرداراو د هغه په لاس د ذوالفقار تندریز ګذارونه په ځومره ښه شاعرانه سلیقه ځومره انځور کړي :

دغرور ټنډه یې خیبر چې په قدم ړدي
استانه کې یې چې سر عرب، عجم ړدي

هغه فقر چې باجونه په عالم ړدي
تل په مخ یې خدای تحسین دخپل کرم ړدي

چې هر ضرب د ذوالفقار یې انقلاب دی
مرتضی علی حیدر ابو تراب دی

هندکې د بې جې پې برى!

بشير

او جنوبي آسيا کې دنوې ډيپلوماسۍ پيل!!

له وړاندوينو او توقع سره سم دهند ي پارلمان په ۵۴۳ څوکيو کې بې جې پې ګوند د ۲۸۳ څوکيو په ترلاسه کولو دټولټاکنو وړونکى ګوند شو.

دهند په ټاکنو کې بې جې پې دخپلو متحدينو په ګډون د ۳۳۵ څوکيو په ترلاسه کولو لومړى مقام ګټلى ،پخواني واکمن ګوند کانګريس په ۶۲څوکيو برى منډلى او په دويم موقف کې راغلى اود عام ادمي په نوم يوه نوي ګوندايله د ۵څوکيو په ترلاسه کولو توانيدلى دى.

د بې جې پې ګوند په استازيتوب هيڅ مسلمان کانديد پارلمان ته ندى لاړ، يعني دهند مسلمانان دهند د نوي حکومت نه يومخ بيرون پاته شول.

اوهو! د هندوستان د۲۵۰ مليونه وګړو(مسلمانانو) په استازيتوب ايله ۲۲ مسلمان کانديدان پارلمان ته بريالي شوي .

داچې اوس د بې جې پې لخوا صدراعظمۍ ته کانديد (نريندرا مودي) دصدراعظم په حيث لوړه کړې، کابينه تشکيل شوې ، نوي حکومت ته عملاًدهېواد دچارو واګې سپارل شوې ،نړيوالو کتونکو خپلې سترګې ددغه هېواد دنوې حکومت کړو وړوته نيولي،هغوئ انتظار باسي چې نريندرا مودي او دهغه ګوند(بې جې پې) له هندوستاني مسلمانانو سره څه ډول رويه غوره کوي؟ ښکاره ده دبې

جې پې او مودي ماضې مسلمانانو سره دکينې،عقدې او دښمنۍ نه ډکه ده،دهند دغربي ايالت ګجرات اعلى وزير په حيث دمودي ظالمانه کردار هيڅکله پټ ندى، هلته دهغه په حکم د ۲ زره نه زيات مسلمانان دهندوانو په لاس په شهادت رسيدل اود لس زره نه زياتو مسلمانانو تنې په ټپونو چور چور کول، هغه ښکاره دلايل دي چې په اسا س يې بيطرف څېړونکي هندکې دمسلمانانو دراتلونکي په اړه پوښتنه راپورته کوي! دډېر په نظر د مودې په بري کې دهغه دغه توري کارنامې بنسټيز رول لاره ،تردې چې په زياتو غونډو کې مودي خپل دغه وحشت دسند په توګه وړاندې کړ، نو انديښنه شته چې وړاندې مودي خپل شيطاني عزايم ديوه ايالت په مسلمانانو ترسره کول، اوس هندو اکثريت هغه ته دټول هندوستان د واک ځواک په لاس ورکړ، په څرګنده د هغه (مودي) دارادو په وړاندې هيڅ مانع پاته ندى.

د مبصرينو په اند: ددې پېړۍ د دوه سياسي پېښو ياد شايد زرمحوه نشي او ډېر ه موده به پاتې وي، يو سپينې ماڼۍ ته دتور پوستي او باما ننوتل اوبل هندوستان کې دنريندرا مودي په څېر بنسټ پال هندو صدراعظم کيدل ! هغه امريکا کې چې څلور لسيزې وړاندې موټر کې سپين پوستوته دتورپوستو سره په

خواکې ځوکيو او ځنګ په ځنګ ناسته له زغم وتلې وه،هلته د يو تور پوستي (اوباما) ولسمشر کېدل او سپين پوستي جان مکين ته شکست ورکول له حيرانتيا خالي ندی! په هند کې دنريندار مودي بری هم ديته ورته پېښه ده، مودي هغه ځوک دی چې لاسونه يې دبشريت په وينو سره دي، هغه يو بنسټ پال هندودی، دمسلمانانو په اړه نهايتي جارحانه عزايم لري، دا وجه ده چې دنړۍ خپلواک کتونکي او دازاد ضمير ځښتنان ډاړمن ندي، هغوئ انديښمن دي چې دبې جې پې حکومت به دمسلمانانو په اړه له انصافه لرې رويه خپله کړې .

. هندوانو ته مودي په دې وجه منلی دی، چې هغه تل دمسلمانانو په باب سخت دريځ لري،يا په بله ژبه نريندرا مودي ديوه پلان او حکمت عملي لاندې د هندوانو د اکثريت رايې دځان کړې،که ځېرنه کړو هند کې د بې جې پې هيڅ کانديد دومره ډېرې رايې ندې اخيستې، ځومره چې مودي ته ورکړل شوې ، په دې علاوه دهندوستان ټولو شتمنو لويو سوداګرو او بډايو هم له هغه نه کلک ملاتړ کاوه او په انتخابي کمپاين يې ورته درانه لګښتونه کول.

په ۲۰۰۲ زکال کې دهند په لوېديځ ايالت ګجرات کې دمسلمانانو دقتل عام وروسته دامريکا حکومت، مودي ته له ويزې ورکولو اوامريکاته دسفر اجازه نه ورکوله ،خو د هغه د بري وروسته سملاسي امريکا خپل بنديز پورته کړ، امريکا دزمکنې سياست اهميت ته په کتومحسوس کړه چې مودي ددوئ دګټو خوندي کولو او ددوئ د موخو دتکميل لپاره ګټور او ترنورو غوره دی.هم دا وجه وه چې دانتخاباتو له پيله امريکا په پټه اوښکاره له هغه نه ملاتړ کاوه، تر ډېره هغه دامريکا دتزويري حمايې نه برخمن و، بل داقتصادي ودې په برخه کې هندوان مودي ته ډېرې هيلې لري، هغه دګجرات اعلی وزير په حيث ګجرات ايالت دهند ترټولو پرمختللی ايالت ګرځولی،دخپل انتخابي کمپاين په منډو کې يې هم ژمنه وکړه چې دګجرات پشان به ټول هندوستان دپرمختياوو په مورګه دروي، غربت اوفقر به پای ته رسوي، دا وجه ده چې ډېری خلکو ورته په همدې خوشبينۍ رايې ورکړې، نو حتمي ده چې دصدراعظم په حيث دمودي په وړاندې ترټولو عمده چيلنج دهندوستان دترقۍ پلانونه ټاکل وي، خوبريښې چې داکاردومر آسان ندی، ځومره چې هندوان خوشبين دي.



هم دا راز مودي ته دهندوانو داتحاد او بابري مسجد په ځای درام مندر جوړولو شعار هم ګټه و رسوله او په دې سره يې دهندوانو


اکثریت دځان ملاتړی کړ.

دسیاسي کارپوهانو له نظره دمودي په بري سره جنوبي اسیا کې نوې ډیپلوماسۍ پیلیدونکې ده، هنداوپاکستان دواړه نوې مرحلې ته ننوتي، داپوښتنه هنوز بې ځوابه پاتې ده چې دهند اوپاکستان داړیکو راتلونکی به څه وي؟ که څه هم په ماضي کې دبې جې پې اوپاکستان ترمنځ هغسي چې توقع وه اړیکي ترینګلي نه وو، خو هغه مهال دواجپایي پشان یو شاعر اونرم دریځ خاوند صدراعظم و، او دا ځل دمودي پشان توندخویه او بنسټ پال هندو صدراعظم دی، دچا په لمن چې ګجرات کې دمسلمانانو دنسلي قتل عام داغ دی اوبیا دکومو کورنیو او بهر نیو پټو کړیو په مرسته چې مودي انتخابات وګټل هغوئ هم نه غواړي چې هغه دي نرم دریځ غوره کړي، دیته په کتو داخبره روښانه ده چې د دواړو هېوادو په اړیکو به مودي منفي تاثیر ولري، بل هندوستان غواړي امریکا افغانستان کې خپل اشغال وغځوي، هند په افغانستان دبهرني یرغل نه ملاتړ کوي، دمودي په راتلو سره شاید دغه تګلاره او پالیسۍ نوره هم تقویه کړي، افغانستان کې لاسوهنې ډېرې کړې.

دمودي په صدر اعظم کیدو دهندو بنسټ پالو مورالونه لوړشول، دهند په یوه غربي ښار پونه کې هندو وحشتګرو یومسلمان ځوان (محسن شیخ) په ډله ایز یرغل کې په شهادت رسولی، ددې وروسته دهند ټولو معتبرو ورځپاڼو اوبشري ټولنولخوا په کلکه داغوښتنه پیل شوې چې دهند صدراعظم نریندرا مودي دي پخپله دغه پیښه وغندي، څو دهندوانو هغه ډلې چې دمسلمانانو په باب بد عزایم لري، هغوئ دافکر ونکړي چې دبې جې پې حکومت په راتلو چې ددوئ زړونه هر څه وغواړي هغه کولی شي.

هندوستان ټایمز ورځپاڼې له قوله: مرکزي حکومت باید دداسې پېښو پرضد عملي ګامونه واخلي، اوداباور ورکړي چې مجرمانو ته به خامخا سزا ورکوي.

دمحسن دقتل وروسته حمله کوونکو هندوانو یوبل ته په مسجونو کې پیغام لیږلی دی چې په هغه کې یې لیکلي: لومړی وکټه پریوته!



دورځپاڼې په وینا: ددې پیغام نه معلومیږي چې حمله کوونکي ډېر څه په پام کې لري، هغوئ په دې تیروتنه کې مبتلی دي چې مرکز کې دبې جې پې حکومت په راتلو دوئ نور په خلاصو لاسو مسلمانان وژلی شي، که بې جې پې دغه پیښنه محکومه نکړي، نو دې سره به دهغو هندو وحشتګرو مورالونه نور هم قوي شي چې هغوئ دمسلمانانو په ضد احساسات لري، سربیره په دې چې ایالتي حکومت دکانګریس دی دقانون له مخې: دامنیت مسولیت دهغوئ په غاړه دی، دایالتي حکومت په وینا: هغوئ کلک ګامونه پورته کړي، دتاوتریخوالي دزیاتیدو مخه یې نیولې خو مرکزي حکومت چې بې جې پې سره دی تردې مهاله دغه جنایت ندی محکوم اوغندلی، ممکن دغه چوپتیا هندو ترهګرو ته نور مورال اوحوصله ورکړي چې ورته وحشیانه بریدونه ترسره کړي.

آیا از فواید پسته آگاه هستید؟

پسته که در اصل متعلق به آسیای غربی است اما هزاران سال است که در حوزه دریای مدیترانه شناخته شده و در استرالیا، نیومکزیکو و کالیفرنیا در سال ۱۸۵۴ بعنوان یک درخت معرفی شد. این روزها پسته یک تنقلات بسیار خوشمزه و مغذی به حساب می‌آید که فواید بسیار زیادی نیز به بدن می‌رساند.

در زیر به ۷ فایده پسته برای سلامتی اشاره می کنیم که ممکن است باعث شود از آن به طور منظم در برنامه‌غذایی روزمره‌تان استفاده کنید.

سلامت قلب مطالعات نشان داده است که پسته بعد از یک دوره مصرف کوتاه، کلسترول بدن خون (LDL)را کاهش داده و کلسترول خوب خون (HDL) را افزایش می‌دهد. پسته که سرشار از آنتی‌اکسیدان هایی مثل ویتامین A و E می‌باشد، با التهاب مقابله کرده، از رگ‌های خونی محافظت کرده و خطر بیماری‌های قلبی را پایین می‌آورد. حتی مصرف کم پسته هم می‌تواند سطح لوتئین، آنتی‌اکسیدانی که برای محافظت دربرابر LDL اکسید شده کاربرد دارد، را بالا ببرد و احتمال بیماری قلبی را کاهش دهد.

کمک به دیابت خوردن پسته به پیشگیری از دیابت نوع ۲ کمک می‌کند. ۲۰ درصد از ارزش غذایی روزانه توصیه‌شده از فسفر معدنی فقط در یک گیلاس پسته وجود دارد. فسفر همچنین با کمک به شکسته شدن پروتئین‌ها به آمینو اسید، به تحمل گلوکز نیز کمک می‌کند.

سلامت خون پسته منبع بسیار خوبی از ویتامین B۶می‌باشد. این ویتامین برای ساخت هموگلوبین، پروتئین مسئول حمل اکسیژن در جریان خون به سلول‌ها، لازم بوده و همچنین مقدار اکسیژن حمل شده را نیز افزایش می‌دهد.

سیستم عصبی ویتامین B۶ که در پسته وجود دارد تاثیرات بسیار خوبی نیز بر سیستم عصبی بدن دارد. مولکول‌های پیام‌آور که آمین نامیده می‌شوند برای رشد به آمینو اسید نیاز دارند که درمقابل برای ساخت به ویتامین B۶ متکی هستند. علاوه بر این، B۶ نقش بسیار مهمی نیز در ساخت مایلین دارد که پوشش محافظ دور فیبرهای عصبی است که پیام‌رسانی مطلوب بین عصب‌ها را مقدور می‌سازد. علاوه بر این، ویتامین B۶ به سنتز سروتونین، ملاتونین، اپینفرین و گاما-آمینوبوتریم اسید یا GABA ، آمینو اسیدی که انتقال تکانه‌های عصبی را در دستگاه عصبی بدن ممکن می‌سازد، مربوط است.

سلامت چشم پسته حاوی دو کاروتینوئید است که در بقیه آجیل‌ها یافت نمی‌شود. این کاروتینوئیدها که لوتئین و زآکسانتین نامیده می‌شوند، بعنوان آنتی‌اکسیدان محافظ عمل می‌کنند و از تخریب بافت‌های بدن درمقابل رادیکال‌های آزاد جلوگیری می‌کند. رادیکال‌های آزاد موجب زوال ماکولا مرتبط به سن می‌شود که یکی از دلایل اصلی مشکلات بینایی و کوری اکتسابی است.

سیستم ایمنی یک سیستم ایمنی سالم به مصرف ویتامین B۶ بستگی دارد که پسته سرشار از آن است. مصرف بیش از اندازه ویتامین B۶ اما فعالیت مغز را کند کرده و تاثیرگذاری سیستم ایمنی بدن برای مقابله با عفونت‌ها را نیز کاهش می‌دهد. ویتامین B۶ موجود در پسته همچنین به بدن کمک می‌کند گلوبول‌های قرمز سالم بسازد و به حفظ سلامت غدد لنفاوی مثل غده طیموس، طحال و گره‌های لنفاوی کمک می‌کند تا از تولید کافی گلوبول سفید خون که از بدن درمقابل عفونت‌ها خفاظت می‌کند مطمئن شود.

سلامت پوست پسته منبع بسیار خوبی از ویتامین Eاست که یک آنتی‌اکسیدان محلول در چربی بسیار عالی است و برای حفظ یکپارچگی غشای سلولی لازم بوده و معمولاً برای داشتن پوستی سالم و زیبا توصیه می‌شود. ویتامین E از پوست دربرابر تخریب ناشی از اشعات UV محافظت کرده و به این ترتیب از پیر شدن زودرس و سرطان پوست حلوگیری می‌کند.

ترس از ریا

ترجمه: ابوعامر

صالحان عبادت خود را پوشیده می‌داشتند و از روی اخلاص برای خداوند و ترس از ریا، طاعاتِ خود را مخفیانه انجام می‌دادند.

زبیر ـ رضی الله عنه ـ می گوید: «هر کدام از شما که بتواند عملِ صالحِ مخفیانه داشته باشد، چنین کند.«

از میان سلف کسانی بودند که در مجلس ذکر نشسته و جلوی اشک خود را می گرفتند و اگر نمی توانستند بر گریهٔ خود غلبه کنند از مجلس بر می‌خواستند.

برخی از فقرای مدینه نمی‌دانستند غذایشان از کجا می‌آید، تا آنکه علی بن الحسین، زین العابدین ـ رحمه الله ـ در گذشت دیگر غذایی به در خانه‌شان نیامد، و هنگام غسل پیکر او اثر بند زنبیل را بر پشت او دیدند.

عبدالله بن مبارک ـ رحمه الله ـ در جهاد برای آنکه شناخته نشود چهرهٔ خود را می‌پوشاند.

عبدالرحمن بن مهدی ـ رحمه الله ـ شب را به نماز می‌ایستاد اما همین که احساس می کرد کسی می‌آید خود را به خواب می‌زد!

ربیع بن خیثم کارهای نیک را تا جایی که می توانست مخفیانه انجام می‌داد و هنگامی که قرآن می‌خواند اگر کسی به نزد او می‌آمد آن را با لباس خود می‌پوشاند.

پیشینیان این را می‌پسندیدند که انسان حتما بخشی از کارهای نیکش را مخفیانه انجام دهد و حتی همسرش نیز از آن بی‌اطلاع باشد.

شافعی می گوید: «دوست داشتم مردم از من یاد بگیرند اما هیچ بخشی از آن علم به من نسبت داده نشود». می گویند: از خشیت خداوند اشک او جاری شد و مردم او را در این حال دیدند. امام شافعی رح گفت: «سرمای سختی خورده‌ام«!

اما برخی از طاعات را نمی‌شود مخفی کرد، یا به سبب طبیعت آن، مانند اذان و نماز جماعت، و یا به سبب منفعتی که در پی علنی انجام دادنِ آن به دست می‌آید، مانند صدقه دادن برای تشویق دیگران به انجام این کار، و در هر صورت: «کارها به نیت‌ها بستگی دارد.

دشهيد ډاکټر نصير الدين حقاني ژوندته کتنه

الياس فاتح

دشهيد ډاکټر نصير الدين حقاني ژوکړه:

اسلامي اوافغاني تاريخ تل پـه خپلوسپېڅلوپاڼو کې خپل زړور اتلان پـه زرينو ټکيو اوالفاظو ستايلي، دهغوئ روښانه اوويـاړلی مسيرېږ ژوندی ساتلی، چې د کلونو، کلونو تېرېدو وروسته هم دهغوظ اتلولۍ او کارنامې دګران هېواد دهربچي پـه زړه کـي ژونـدۍ او وربانـدې ويـاړي، . دغـه سـتر شخصيتونه او اتلان کـه د جغرافيې، سېمې اوقبيلې له پلوه کومې خاصې منطقې،ولسوالۍ يا ولايت تـه منسوب وي؛خوپـه تلپاتې کارناموېې او وياړونو يې ټول ولس اوملت افتخار کوي هغوئ يې دخپل تاريخ قهرمانان بولي . دهمداسي نومو تواتلانولـه ډلې نه يو علمي ،جهادي اوسياسي شخصيت ډاکټر نصير الدين حقاني هم و. نوموړی پـه ۱۳۵۶ المريز کال کې دغوائي سرې کودتانه يو کال وړاندې دپکتياولايـت ،دوزې ولسـوالۍ ،دځدرانو دميزايـې قبيلـې ،دسـلطان خېلوغيور قوم دکنډوکلي کې (دشلمې پېړۍ داتـل) دمولوي جلال الدين "حقاني "پـه علمي، جهادي او شهيدزېږنده ه کورنۍ کې نړۍ ته ستر ګې غړولې وي .

زده کړې : نوموړي لومړنۍ اوثانوي ديني زده کـړې پـه جامعـه (دارالعلوم منبع الجهاد) کې ترسره کړي اودحـديثو وړه دوره يې هـم هلتـه وکړه . عصري زده کـړې يې تر دولسـم صنف پـه انجمـن القرآن عالي لېسه کې ولوستلې اوبياد کانکورلـه ازموينې وروسـته پـه برېمنـه توګه طب پوهنځي ته لاړ ؛مګر دکفري يرغل اوجهادي مسؤليتونو لـه کبله يې ونشواى کړای چې دطبي زده کړو لړۍ روانه وساتي هماغه وه چـې ده اومجاهدورور خليفـه سـراج الـدين حقـاني (حفظـه الله)تـه دنړيوال کفرپروړاندې درانه مسؤليتونه ور وسپارل شول چې دواړو ، پــه پـوره ايمانـدارۍ ،اخلاص،رېښـتينولۍ اولـوړ مـورال جهـادي مسوليتونه کماحقه ترسره کړل اوکوي يې (الحمدلله).

که څه هم له شهيدډاکټر صېب نه علمي سير ټکنی شو؛لوړې زده کړې يې نېمګړې پـاتې شوې خودلوړاستعداد لـه بر کتـه پـه ډېرو ژبو پوهېدو چې لـه مورنۍ ژبې پر تـه يې پـه عربۍ ،انګرېزۍ ،اوردو اوفارسۍ ژبه هم روانې خبرې کولې .

دجهاداوشهادت کورنۍ :

دډاکټر صاحب نېکه ارواښادالحاج خواجه محمد چې پـه خپل قــوم کــې ترټولومخور اونفـوذلرونکی مشـرؤ، دانګريزانو دلښـکرو پرضدېې پرلپسې دجهادپه ډګر کې فعاله برخـه اخستې اودانګريـزي يرغل پـه مقابل کې يې دټل او وزيرستان پـه سېمو کې پـه مخامخ جګړو کې دخپلې کـورنۍ ډېر شـهيدان ور کـړي وو همـدالامل وچې دخواجـه صـاحب کـورنۍ دانګريزاقتـدار اوځواک لپـاره خـورازياتـه خطرناکه ثابته شوه . هغه خپل جهادي ژوند دمسلمانانو داستقلال لپاره وقف کړی و.له جهاد، سربښندنې اوفداکارۍ سره يې مينه درلوده، لـه همدې امله يې دخپلو ټولوزامنولپاره داسې له اثر ډک اودقربانۍ پيغام او تاريخ لرونکي نومونه غوره کړل چې هريويې دير غلګروسرورو سانو پرضددسر بښندونکو غازيانو سرلښکروو ،لکه : جـلال الـدين (حقـاني) ،محمدابراهيم (حقـاني) ،محمداسماعيل (حقـاني)اوخليـل الـرحمن (حقـاني) الحمدلله چې لوی خدای دهغه دنيت سره سم همغسې وکړل ټول له مخې دجهاد اوقربانۍ اتلان وګرځيدل، دډاکټر صاحب محترم پلار حقاني صاحب (خدای دې وساتي دافغان اسلامي انقلاب امام اود شـوروي امپراطـورۍ نړونکـی نـوم دی، ،هغـه مهـال دظاهر شـاه پــه کرغېړن دور کې چې هېـوادکې دهريـت پـه خپرېـد وشـو، ښـکاره داسلامي شعايروسپکاوی پيل شو، ديني کتابونه وسيزل شول، حقاني صـاحب يې پرضـد لـه ۲۵۰ طالبـانو سـره يوځـای دلاريـون (مظـاهرې) لپـاره دنکـې ولسـوالۍ نـه تراور ګون پـورې لاړ اوهرځـای يې خپلـه اسلامي مبارزه پيل کړه ، کله چې وخت رژيم دشرعي قانون پـر خلاف خپلې مـادې پـه اساسي قـانون کې ځـای کـړي ،ښځې يې بې حجابـه اودفحشـاوو مراکـزيـې پرانيسـتل نوحقـاني صـاحب دجهادوسـلوال

سنګرپرانیست، کله چې کمونستي کودتا و شوه نو حقاني صاحب دهېواد په کچه ددښمن په ضد قوي مورچلونه جوړ کړل اوخپله به هم د هر جنګ کې په لومړۍ لیکه کې موجود و ،هم یې مجاهد ورونه هریو الحاج خلیل الرحمن حقاني ،محمدابراهیم حقاني اومحمد اسماعیل حقاني به په ټولو محاذونو اوجنګونو کې شریک وو، تردې چې محمداسماعیل حقاني زرمت کې ددښمن سره په مخامخ جګړه کې زخمي اوبیاپه شهادت ورسېده. همدارازپخپله حقاني صاحب پینځه ځله دروسي یرغلګرو په بمبارونو اوجګړو کې ټپي شوی.

شهیدنصیرالدین حقاني دامریکایي یرغل پر وړاندې:

شهیدډاکټر نصیرالدین حقاني لاماشوم و چې دخپل مجاهد پلار اوترونو سره به دروسي یرغلګرو پر وړاندې جهادي سنګرونو ته، ته، دامریکاتر مشرۍ لاندې دتمام کفري ائتلاف د اشغال پر وړاندې دخپلې کورنۍ دنورو غړو سره یوځای لکه دغره په شان ثابت اومحکم ودرېده و اودهېواد په مختلفومحاذونو کې یې شخصاپه جهادي عملیاتو کې برخه اخسته اوپه دغه لاره کې څو ځله له سختو ستونزو اوپرلپسي بمباردنوسره هم مخ شو ،خوددې سره سره بیاهم خپل مورال او حوصله یې له لاسه ورنکړه ،دده په ګډون ددوی دکورنۍ ټول غړي دصلیبي یرغلګرو په وړاندې په لومړۍ کرښه کې په ښه زړورتیا ،فداکارۍ اواستقامت سره جنګیدلي او جنګېږي. دقربانیو او فداکاریو په بهیر کې یې دنورو ډېروشهیدانو ترڅنګ شهیدمحمدعمر (حقاني) ،شهید محمد (حقاني) اوبدرالشهداء شهید حافظ بدرالدین (حقاني) دیبلګې په توګه یادولای شو. لنډه داچې دامریکایي یرغل پرخلاف دنوموړي ټولې کورنۍ دشهیدانو شمېره تر دې دمه (۵۸) کسانو ته رسېدلې (تقبلهم الله جمیعا)

دډاکټر نصیرالدین حقاني دجهادي ژوندیو څو زرینې بېلګې :

دمجاهدینو سپه سالار شهیدمولوي نصیرالدین حقاني رح یو رښتینی متقي،شجاع ،تجربه کاراودروند شخصیت و. نوموړی داسلامي امارت مشرانو، کشرانو،عامو مسلمانانو اومجاهدوملګرو په زړونو کې دمحبوبیت مقام درلود. اتلتوب،غیرت،استقامت اوپوره اخلاص یې غوره نمونه وه ،تقوی، دسنتواو سلفواتباع، ملي خدمت،دیانت یې بېلوونکي خصلتونه وو.په دې سربېره متواضع، ،دلوړظرافت،اوقاطع هوډ څښتن و. روان مقدس جهادي بهیر په اوږدو کې دغه نوموتي ځوان دافغانستان اسلامي امارت درهبرۍ شورا په عالي مقام کې دخپل درانه پلار (الحاج مولوي جلال الدین حقاني حفظه الله) نیابت هم کاوه ،هم یې داسلامي امارت په سیاسي اواقتصادي چارو کې دپام وړ رول درلود. دخپلو اسلامي ،ملي اوجهادي مبارزو له امله شهیدډاکټرنصیرالدین حقاني نړیوال صلیبي اتحا دته زیات مطلوب شوتردې چې د(۲۰۱۰-۷-۲۰) نېټه یې په خپل تورلېست کې شامل کړ. دیادونې وړ ده چې دده محترم پلار (حقاني) نوم (۲۰۰۱-۱-۳۱م) د دویم ورور یې خلیفه سراج الدین حقاني نوم (۲۰۰۷-۹-۱۳م) د تره یې الحاج خلیل الرحمن حقاني (۲۰۱۱-۲-۹) نوم او بل ورور یې شهیدحافظ بدرالدین حقاني نوم په (۲۰۱۱-۵-۱۱م)امریکایي یرغلګرو لخوا په تورلېست کې نیول شوي .

دجهادي افق دغه ځلانده ستوری هغه وخت له مداره پرېوت چې دامریکااونورو کفري نړۍ دشوم پلان په نتیجه کې د۱۴۳۵هـ ق دمحرم الحرام ۶ په مه ددوشنبې ورځ، چې د۱۳۹۲هـ ش دلړم شلمه اود۲۰۱۳ نومبر ۱۲ نېټې سره سمون خوري په اسلام اباد کې ددوه موټرسایکل سپرو لخوا په یو ناځوانمردانه وسلوال برید کې دشهادت لوړمقام ته ورسېده اوخپل پاک روح یې لوی خدای ج ته وسپاره. اناالله وانااليه راجعون.

دجنازې مراسم یې په وزیرستان کې ترسره شول او شهیدجسدیې دشهیدانو په هدېره کې دنوروشهداؤو ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو.

دشهیدملا ډاکټر نصیرالدین حقاني ویاړلي کارنامي به زموږ لپاره دلارې مشال پاته وي او زموږ دحماسي تاریخ بابونه به پرې ښکلي او بنایسته وي ! اروادې ښاد وي .

له افغانستانه ! دامریکا زوړند سر وتل دمنطقوي ثبات لپاره اړین دي !

له ۱۳ساعته اوږده سفر وروسته اوباما دباګرام هوايي ډګرته ورسيد ، هغه سره دا ځل دامریکا دمتحده ایالاتو دحکومت ترټولو لوی هیئت ملتیاکوله،د بګرام دهوايي ډګر دننه له وړاندې دهغه دوینا اوریدو ته لوړپوړي جنرالان ، کومندویان او پوځیان ټول شوي وو ، اوباما هغوئ ته په وینا کې وویل: روان(۲۰۱۴) ز کال تر پایه به له افغانستانه دامریکا دپوځ انخلاء بشپړه شي، هغه دا هم وویل چې دوئ (دامریکا پوځ) افغانستان کې دترهګرۍ مخه نیولې) دخپل ناڅاپه سفر په اړه يې و ویل ددې لپاره راغلم چې دلته (افغانستان کې) شته امریکايي پوځیان وستایم او ورته ووایم چې دوئ امریکا و ژغورله.

خو هر باشعوره انسان په دې پوهېږي، چې داوباما پخپلو خبرو کې دواقعیتونود مسخ کولوکوښښ کړی دی ، دشک پرته امریکا له تیرو ۱۳ کلو نه افغانستان کې په یوه ناکامه جنګ کې ښکېل ده تش لاس طالبانو او افغانانو داسي کلابند او تړلي، چې دبري ځرک يې نه لیدل کېږي، په کومه خوله اوباما امریکا يې ځواکونه ستايي؟ پکار خوداده چې هغه دهغوئ دستایلو په ځای دژغورنې او خلاصون په لارو چارو غور وکړي امریکا ته چې په دې جنګ کې څومره مالي اوځاني خساره اوښتي دجنګونو په تاریخ کې ډېرو لږو ته اوښتې. اوپه راتلونکې کې احتمال شته چې دامریکا یانو دسر اومال زیانونه افغانستان کې یو په څو ډېر شي.

دسیاسیونو په قول: دامریکا دولسمشر آوباما لخوا دسږکال ترپایه له افغانستانه دامریکا يې او اتحادي پوځونو د بشپړې انخلاء اعلان هیڅکله ناڅاپي نه و ، بلکې دا د امریکا د دولت د طې کړل شوي حکمت عملي برخه دی.

اسلم "امید "

له شک پرته افغانستان او سیمه کې بهرنۍ لاسوهنې او امریکا یې جارحیت ددې لامل دی چې دافغانانو په ګډون دټولې سیمې دامنیت اوثبات په وړاندې ننګونې شتون لري، ولسونه دډول ډول ستونزو اومشکلاتو سره لاس اوګریوان دي، چې په سبب یې هر دپوهې او بصیرت څښتن ته دامریکا یې ناروا یرغل نه دمخه او وروسته دواړو کې د پیښو او حوادثو له امله دزمکې او اسمان توپیر ښکاري، دیته په پام دمنطقې ټول ازاد او خپلواک ولسونه باورلري، چې ترڅو امریکا یې ځواکونه افغانستان کې میشت وي او وتلي نه وي، ترهغې په افغانستان او منطقه کې امنیت راتلل، سوله اوثبات ټینګیدل داین خیال است محال ست جنون مصداق دی،دسیمې ددایمې امنیت او ارامۍ لپاره باید هرو مرو خارجي ځواکونه له افغانستانه لاړشي،دهغوئ دنه تلو په صورت کې به افغانستان اوټوله سیمه ناقراره وي، له دې وجې افغانستان کې دامریکا پوځي شتون دافغانانو په ګډون دمنطقې هیوادو لپاره هم جدي ګوانښ او ورته بدعواقب درلودلی شي

ولې دامریکا د ظالمانه یرغل په وجه نه یواځې افغانان په اور وکړیدل بلکې دافغانستان ګاونډ کې قبایلي سیمو خلک هم د ډرون وحشیانه بریدونو ښکاردې چې له امله هره ګړۍ دخلکو ژوند له ګواښونو سره مخ دی، ددې هر څه مسولیت دامریکا په غړه دی.

بل داپوښتنه نړۍ کې له هر باضمیر انسان سره شته او په ځای هم ده، چې امریکا پخپل ناروا یرغل سره دزرګونه بې ګناه انسانان ووژل، اوس پوښتنه داده چې امریکا دهغوئ په وژلو څه ترلاسه کړل؟امریکا چې دکومو نارو او دعوو په پلمه افغانستان ته راغله، په پیل کې د خپل یرغل کومې ګټې بیانولې،ایا هغه یې ترلاسه کړې؟ حقیقت دادی چې امریکا هیڅ هم ترلاسه نکړل !ولې ښکاره چې دامریکا تجاوز دټولو منل شویو نړیوالو قوانینو نه سرغړونه وه، پخواني امریکا یې ولسمشر جورج بوش یواځې دړانده انتقام په جذبه دافغانستان د جایز او قانوني حکومت د را پرځولو پریکړه وکړه اودصلیبي هیوادو دپوځونو په ملتیا یې اودصلیبي جنګ دناري په بدرګه یې دافغانستان په لویشت لویشت زمکه وحشت تیر کړ،خو غیرتمن افغان قوم په بې ساري قربانیو دامریکا شیطاني ارادې په نطفی کې خنثا کړې او په وړاندې په سر او مال سره وجنګیدل او په نره یې له خپل دین، هیواد او خلکونه دفاع وکړه.

نن چې د امریکا دتیښتې اوازې دي، دا دهمدې قربانیو نتیجه ده، ، ددې مطلب له شکست پرته بل ندی، باید زبرځواک هیوادونه له دې انجامه سبق واخلي، چې هغوئ یواځې دځواک په متهو دکمزورو ولسونو دلاندې کولو او دهغوئ په طبعي زیرمو دخیټې اچولو خوبونه ونه ګوري ،بل امریکا اوملګري یې باید داحقیقت تسلیم کړي، چې دافغانستان راتلونکي د اسلامي امارت سره تړلی دی،اسلامي امارت دې دستر افغاني قوت اوممثل په حیث ومنې، دجګړې دمقابل فریق په توګه دې وپیژني، له افغانستانه دوتلو وروسته دخبرو اومنطق له لارې د ستونزو دحلولو کوښښ وکړي، دزور اوځواک په ژبه دخپلو پریکړو او رادو له تحمیلولو نه باید ډډه وکړي، همدا راز له افغانستانه باید په غیر مشروط ډول خپل ځواکونه وباسي، داسلامي امارت په واقعبینانه کردار ستر ګې پټې نکړي او روښانه ده که امریکا هرڅو دجعلي اوتزویري لارونه افغانستان کې دخپل شکست دپټولو لپاره هڅې وکړي، په عمل کې به ګټه ونلري پکار دی له زړه نه پخپل شکست اعتراف وکړي.

مولوي نجم الرحمن فضلي (پکتیاوال)

د روژې فرضیت، اهمیت، فضیلت او ګټې

د رمضان المبارک روژې له تحویل قبله (د قبلې له ګرځېدا) وروسته د هجرت په دویم کال د شعبان په میاشت کې فرض شوې دي ([۳۱]).

بیا په دې کې اختلاف دی چې آیا له دې دمخه روژې فرض وې او که نه؟ نو احناف په دې کې دا وایي چې د رمضان له روژو دمخه د عاشوراء د ورځې روژه او د ایام بیض روژې فرض وې، په وروسته کې د همدغو ورځو د روژو فرضیت د رمضان المبارک په روژو سره منسوخ کړی شو، دا مهال یوازې د هغوی استحباب باقي پاتې دی ([۳۲]).

او شوافع حضرات وایي چې له دې دمخه هیڅ روژه فرض شوې نه وه ([۳۳]).

په دې هکله په مظاهر حق کې داسې لیکل شوي : د رمضان المبارک میاشتې روژې له هجرت څخه اتلس میاشتې وروسته د شعبان په میاشت کې د قبلې له تحویل (ګرځېدا) لس ورځې وروسته فرض شوې دي، یو شمېر حضرات وایي چې له دې دمخه هیڅ روژه فرض نه وه، او د یو شمېر حضراتو قول دا دی چې له دې دمخه هم د یو شمېر ورځو روژې فرض وې، کومې چې د همدغې میاشتې د روژو له فرضیت وروسته منسوخې شوې، لکه د یو شمېر حضراتو په نزد د عاشوراء (د محرم د لسمې) نېټې روژه فرض وه او د یو شمېر حضراتو قول دا دی چې د ایام بیض (د قمري میاشتې د دیارلسم، څوارلسم او پنځلسم شپو د ورځو) روژې فرض وې، د رمضان المبارک روژو د فرضیت یو شمېر احکام په اولنیو (ابتدائي) ورځو کې ډېر سخت وو، د بېلګې په توګه : د لمر له لوېدو وروسته د خوراک څښاک اجازه وه، خو له ویده کېدلو وروسته د هیڅ شي د خوړلو یا څښلو اجازه نه وه، که څه هم کوم کس به د کوم شي له خوړلو او څښلو پرته ویده شوی وو، همدا رنګه جماع په هیڅ وخت او په هیڅ حالت کې هم روا نه وه، خو کله چې په مسلمانانو باندې دغه یو شمېر احکام سخت تمام شول او د همدغو احکامو له امله یو شمېر پیښې هم مخته راغلې نو دغه احکام منسوخ کړی شول او هیڅ سختي پاتې نشوه ([۳۴]).

([۳۱]) مرقات، ج : ۴، ص : ۲۲۹.

([۳۲]) معارف السنن، ج : ۵، ص : ۳۲۳.

([۳۳]) نفحات التنقیح فی شرح مشکوة المصابیح، ج : ۲، ص : ۲۳۶، بحواله : فتح الباري، ج : ۴، ص : ۱۰۳.

([۳۴]) مظاهر حق، ج : ۲، ص : ۲۸۱.

د روژې اهمیت او فضیلت دا دی چې د اسلام پنځه ارکان دي او په هغو کې د روژې دریمه درجه دی، ګوا که چې روژه د اسلام دریم رکن دی، د دغه اهم رکن چې کوم تاکید او اهمیت دی هغه د شریعت ماهرین ډیره ښه پیژني، له روژې څخه منکر کافر او د هغې پریښودونکی فاسق او سخت ګنهګار دی، لکه د درمختار په (باب ما یفسد الصوم) کې دغه مسئله او حکم نقل شوی دی:

کوم سړی چې په رمضان کې له عذر پرته په ښکاره خوراک کونکی په نظر درشي نو هغه ووژنئ.

د روژه د فضیلت په باره کې یوازې دومره ویل پکار دي چې یو شمیر علماء کرامو د همدغه مهم او لوی رکن ډیر زیات فضایل بیان کړي او د لمانځه په څیر په یوه لوی عبادت باندې یې هم ورته فضیلت ورکړی، که څه هم دا د بعضې علماؤ قول دی، مګر د اکثره علماؤ مسلک دا دی چې لمونځ له ټولو عملونو څخه بهتر دی او لمانځه ته په روژه باندې فضیلت حاصل دی، مګر د ویلو خبر یوازې دا دی چې کله په دې کې د علماؤ اختلاف دی چې لمونځ بهتر دی او که روژه؟ نو اوس ښکاره دی چې له لمانځه پرته بل کوم عمل او رکن له روژه سره سیالي نشي کولای ([35]).

د فضایلو په کتابونو کې د دې مفصل بیان راغلی، خو دلته د روژه د فضیلت په هکله دری حدیثونه د نمونې په ډول راوړل کیږي:

د نبي کریم ﷺ د ارشاد مفهوم ده: چا چې د رمضان المبارک روژې یوازې د الله تعالی ﷻ لپاره ونیولې نو د هغه ټول پخواني واړه ګناهونه بخښل کیږي.

د رسول الله ﷺ ارشاد دی چې: د روژه دار د خولې بد بویي د الله تعالی ﷻ په نزد له مشکو څخه هم خوږه ده، د قیامت په ورځ د روژه ثواب بې حده ډیر دی.

په بخاري شریف کې روایت دی چې د روژه دارو لپاره به د قیامت په ورځ د عرش لاندې دسترخوان وغوړول شي او همدغه خلک به په هغه باندې کیني او خوراک به کوي، او نور ټول خلک به په حساب کې اخته وي، د دې کار په لیدو سره به هغه خلک وایي: دا څرنګه خلک دي چې خوراک څښاک کوي او مونږ په حساب کې لا اخته یو؟ هغوی ته به ځواب ورکړل شي چې همدغو خلکو روژې ساتلې وې او تاسو روژې نه دي ساتلې.

روژه د الله تعالی ﷻ د قانون له مخې له ټولو عبادتونو څخه یو جلا عبادت دی، ځکه چې د ټولو عبادتونو ثواب د فرښتو په ذریعه تر اوه سوه چنده پورې ورکول کیږي، مګر روژه یو داسې عبادت دی د کوم په باره کې چې راغلي (د روژه بدله (عوض) زه په خپله ورکوم) د فرښتو په واسطه نه، نو د روژه دارو لپاره له دې څخه بله لویه (غټه) خوشحالي کومه کیدلای شي چې هغوی د خپلو عبادتونو بدله (عوض) د خپل مالک په بلا کیفه لاسونو سره پیدا کړي، بل چا لره مداخله هم نه وي پکې، مونږ پوهیږو چې په دنیوي ژوند کې کله چې کوم شی د حکومت له لوري ویشل کیږي نو په هغه کې د یوه عام حکومتي چارواکي په لاس په ورکړې شوي شي کې او د بادشاه په لاس په ورکړې شوي شي کې څومره فرق (توپیر) وي.

د همدغو احادیثو له لوستلو او آوریدلو وروسته خدای مکړه که بیا هم د یو چا په زړه کې د روژه نیولو شوق او جذبه پیدا نشي نو یقینا د هغه زړه له ډېرې څخه

([35]) مظاهر حق، ج: ۲، ص: ۲۸۱.

سخت او د ګناهونو د کثرت لـه امله بالکل زنګ شوی دی او هغه ته په ربښتوني زړه توبه ويستل پکار دي [۳۶].

لـه حضـرت ابـو هريـرة ﷺ څخـه روايـت دی چـې رسـول الله ﷺ وفرمايـل : کلـه چـې رمضـان المبـارک داخل شي نو د آسمان دروازې خلاصې شي، او پـه يـوه روايـت کـې راغلـي چـې د جنـت دروازې، او پـه يـوه بـل روايـت کـې راغلـي چـې د رحمـت دروازې، او د جهـنم دروازې بندې کړی شي او شيطانان د سلاسل پابند کړی شي (په ځنځيرونو وتړل شي) (بخاري او مسلم).

او پـه يـوه روايـت کـې راغلـي چـې رسـول الله ﷺ وفرمايل : کله چې د رمضان المبارک لومړی شپه شي نو شيطانان او سرکشـه پيريـان قيـد کـړی شـي، او د دوزخ دروازې بندې کړی شي، پس د هغه هيڅ دروازه خلاصه نه وي، او د جنت دروازې خلاصې کړی شي، پس د هغه هيڅ دروازه بنده نه وي، او يوه آواز کونکې فرښته اعلان کوي چې : اې د خير طلب کونکيو ! وړاندې راشی، او اې د شر طلب کونکيو ! ودرېږی، او د الله تعالی ﷻ لـه لـوري بـه ډير خلک لـه دوزخ څخه آزاد کـړی شـي، او دا د رمضـان المبارک په هره شپه کې کيږي [۳۷].

د روژه په ساتلو کې څه حکمتونه او ګټې دي؟.

د روژه بـې شـميره حکمتونـه او ګټـې دي، لـه هغـو ځينـې يـو خـاص حکمت او ګټـه دا ده چـې نفـس امـاره د هغه له غوښتنو او خواهشـاتو څخـه د را ګرځيـدو عـادتي جوړيږي او د نفس اصلاح يعنې انساني نفس په واک کې راځي، پـه کـوم سره چې هغـه شرعي احکـام کـوم چـې پـه نفـس بانـدې سـخت دي هغـه نهايـت آسـانه کيـږي، او د ګناهونو د پرېښودو، تقوی او د پرهيزګاري صلاحيت پـه روژه دار کې پيدا کيږي، الله تعالی ﷻ فرمايي ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٨٣﴾.

ژباړه : اې د ايمان خاوندانو ! په تاسو باندې روژې فـرض کـړی شـوې دي لکـه څرنګـه چـې لـه تاسـو څخـه پـه مخکنيو خلکو باندې فرض کړی شوې وې، د دې لپـاره چې تاسو متقيان او پرهيزګار جوړ شئ (البقرة).

روژه د روح غـذاء دی : پـه روژه سـره روح طـاقتور جوړيږي، د نفساني خواهشاتو ټکولو او د روح د صفائي لپـاره لـه روژه څخـه زيـات بـل کـوم شی ګټـور نشـته، پـه روژه سره د روحانيت دروازه خلاصيږي، پـه عبـادت کې خوند او چالاکي حاصليږي، له همدې امله د ديـن خلـک فرمائي :

اندررا از طعام خالی دار   تا در آن نور معرفت بيني

پـه روژه سـره الهـي قـرب (نزديکت) حاصـليږي، پـه معتبرو کتـابونو کـې راغلـي چـې رسـول الله ﷺ د الله تعالی ﷻ په دربار کې عرض وکړ : يا اله العلمين ! بنده تا ته په څه وخت کې ډير نږدې کيدلای شي؟ وې فرمايل : کله چې بنده وږی وي او کله چې بنده په سجده کې وي، د روژه يـو حکمـت دا هـم دی چـې روژه دار د خداونـدي صفاتو په جلوه سره منور کيږي، لکـه څرنګـه چـې د الله تعالی ﷻ ذات لـه خـوراک، څښـاک او خواهشـاتو څخـه پاک دی، روژه دار هم لـه خوراک، څښـاک او خواهشـاتو څخه بې نيازه وي، د حق تعـالی ﷻ لـه صفاتو سره لـه مشـابهت پرتـه يـو حکمـت دا هـم دی چـې روژه دار لـه فرښتو سره هم مشابهت لري، د فرښتو غذاء د الله تعالی

([۳۶]) مسايل رفعت قاسمي، ۴ : ۲۵ – ۲۶.

([۳۷]) آپکی مسايل اور انکا حل، ۴، ۴۹۷، بحواله : مشکوة المصابيح، کتاب الصوم، الفصل الاول، ص : ۱۷۳، مشکوة المصابيح، کتاب الصوم، الفصل الثاني، ص : ۱۷۳.

ذکر دی او په روژه سره د خدای تعالی د شکر موقع پیدا کیږي، په روژه سره د اوږي د قدر او د انساني همدردي جذبه پیدا کیږي، په روژه سره جسماني ناروغي ختمیږي، په ځانګړې توګه د بلغمي مزاج لپاره یوه ډیره ښه نسخه دی [۳۸].

په مظاهر حق کې لیکل شوي:

د روژې ګټې (فایدې) ډیرې زیاتې دي، یو شمیر یې دلته ذکر کیدلای شي:

(۱) د روژه له امله خاطر جمعي او زړه ته سکون حاصلیدلای شي، د نفس اماره تیزي او تند والی له منځه ځي، جسماني اعضاء په ځانګړې توګه هغه اعضاء د کومو چې له نیکي او بدي سره براه راست تعلق وي لکه لاس، سترګې، ژبه، غوږونه، عورت او داسې نور سستیږي، د کوم له امله چې د ګناه کولو خواهش کمیږي او د معصیت لوري ته ورتګ کمزوری کیږي، لکه چې ویل کیږي: کله چې نفس وږی وي نو ټول اعضاء ماړه کیږي، یعنې هغوی بیا خپل کار ته شوق نلري، او کله چې نفس موړ وي نو ټول اعضاء وږي کیږي او هغوی خپل کار ته ډیر شوق لري، له دې خبرې څخه داسې معلومیږي چې د بدن څومره اعضاء دي نو هغه خالق تعالی ﷻ د خپلو خپلو کارونو لپاره پیدا کړې دي، د بیلګې په توګه د سترګو پیدا ابښت د لیدو لپاره دی، ګوا که د سترګو کار لیدل دي، لهذا د لوږې په حالت کې د هیڅ شي لوري ته هم د لیدلو شوق نوي، هو! کله چې خیټه ډکه وي نو سترګې خپل کار په ډیر شوق سره کوي، او د هر روا او ناروا شي لیدلو ته شوق لري، په همدې باندې نور اعضاء هم قیاس کیدلای شي.

(۲) د روژه له امله زړه له کدورتونو څخه پاکیږي، ځکه چې د زړه کدورت د سترګو، ژبې او د نورو اعضاؤ د بیکاره کړنو له امله وي، یعنې د ژبې له ضرورت او حاجت نه زیاتې خبرې کول، د سترګو له ضرورت پرته کتل، همدا رنګه د نورو اعضاؤ له ضرورت پرته په خپلو کارونو کې مشغولیدل د زړه د کدورتونو باعث کیږي، او ښکاره خبره دی چې روژه دار له بې فایدې خبرو او بې ګټې کارونو څخه ځان ساتي، نو له همدې امله د هغه زړه صاف او مطمئن وي، همدا رنګه د زړه پاکوالی او د زړه اطمینان د نیکو (ښو) کارونو لور ته د میلان (رغبت) پیدا کیږي او د لوړو درجو د حاصلولو ذریعه جوړیږي.

(۳) روژه له مسکینانو او غریبانو سره د نیک چلند کولو سبب وي، ځکه کله چې یو څوک د لوږې په حالت کې ووینې نو د خپلې لوږې حالت ور په یاد کیږي، د کوم له امله چې بیا د هغه د ترحم جذبه په جوش راځي.

(۴) روژه دار د روژه په حالت کې ګوا که له فقیرانو او مسکینانو سره مطابقت کوي، په دې ډول لکه څرنګه چې هغوی په کوم اذیت او تکلیف کې مبتلاء وي نو همدغه تکلیف او مشقت روژه دار هم برداشت کوي، له همدې امله د الله تعالی ﷻ په نزد د هغه مرتبه ډیره لوړیږي، لکه چې د یوه بزرګ بشر حافي په باره کې نقل شوي چې: یو کس د سختې یخنی په موسم کې د هغه په خدمت کې حاضر شو، ګوري چې هغه ناست دی او ږیږي، سره له دې چې له هغه سره دومره جامو شتون درلود چې هغه له یخنې څخه بچ وساتي، مګر هغه دا جامې جلا ایښې وې، دغه کس چې دا صورتحال ولید نو له هغه څخه یې په ډیر تعجب سره وپوښتل: تا د یخنې په دې حالت کې جامې جلا ایښې دي؟ هغه ورته وویل: زما وروره! د فقیرانو او مسکینانو شمیر ډیر زیات دی، زه دومره وس نلرم چې هغوی ته د جامو ورکولو انتظام وکړم، لهذا کوم شی چې زما په واک کې دی نو دا غنیمت ګڼم لکه څرنګه چې هغوی د یخنې په

[۳۸] فتاوی رحیمیه، ۷: ۲۰۳ – ۲۰۴.

حالت کې کوم تکليف برداشت کوي هماغسې زه هم د يخنې تکليف برداشت کړم، په همدې توګه زه له هغوی سره مطابقت کوم.

همدغه جذبه زمونږ د هغو اولياؤ او عارفانو په ژوند کې هم پيدا کيږي د کومو په باره کې چې نقل شوي چې هغوی به د هرې ګولې په خوړلو سره دا کلمات ويل :

اللهم لا تواخذني بحق الجائعين

د حضرت يوسف عليه السلام په باره کې منقول دي چې کوم وخت ټول ملک قحط سالي په خپل سيوري کې ونيولو نو سره له دې چې له هغه سره ډيره زياته د غلې خزانه وه مګر يوازې د دې لپاره يې په مړه خيټه ډوډۍ نه خوړله چې هسې نه د وږيو خلکو خيال يې له زړه څخه ونه ووځي، بل دا چې په همدې ډول يې له قحط وهليو عوامو سره په تکليف او مصيبت کې مطابقت او مشابهت راشي ([39]).

که چيرته په دنيوي او جسماني اعتبار سره وکتل شي نو معلوميږي چې روژه د مسلمان لپاره د چشت، چالاک، صابر، شاکر، د يوه او بل لپاره مرسته کونکي، غمخوره د يوه مضبوط او منظم قوم په جوړيدلو کې يوه بهترينه ذريعه دی، که چيرته د روژه حقيقت مد نظر وساتل شي او د زړه په اخلاص سره روژه ونيول شي نو د حرص، طمع او د خيټې ډکولو ماده له هغه څخه بالکل ځي او په انساني لباس کې فرښته تر سترګو کيږي، همدا رنګه د دې په ذريعه د نظم او ضبط هغه قوت تراِسه کيدلای شي کوم ته چې د دنيا ټولو طاقتونو سر ښکته نيولی دی.


د طبي اصولو له مخې روژه د جسماني صحت حاصلولو لپاره يوه بهترينه ذريعه دی، ځکه تر يوولسو مياشتو پورې چې کوم خراب او فاسد رطوبتونه په بدن کې جمع شوي وي، نو د يوې مياشتې په روژه سره هغه ټول وچ کړی شي، په صحت او توان کې ښکاره ترقي راشي، له دې پرته په روژه کې نورې ډيرې جسماني او مادي ګټې دي، تر کومه ځايه چې د روحاني ګټو تعلق دی هغه هم ډيرې زياتې او بې شماره دي، د بيلګې په توګه فرښتې له خوراک، څښاک او جماع کولو څخه پاکې دي، همدا رنګه الله تعالی جل جلاله هم له همدې خواهشاتو څخه پاک دی، له همدې امله انسان د روژه ساتلو له امله د کم وخت لپاره په همدغه ملکوتي صفت کې تر سترګو کيږي او په همدغه وخت کې د ﴿تخلقوا باخلاق الله﴾ هم يوه مظاهره کيږي.

په روژه سره اخلاقي او روحاني قوتونه پيدا کيږي، زړه او دماغ پرې روښانه کيږي، لوږه او تنده د ګناهونو کفاره کيږي او انسان د ضبط نفس له امله مکمل انسان جوړيږي، د روژه له امله په مزاج کې عجز او خاکساري راځي، د لوږې او تندې د مصيبت او تکليف په وخت کې کله چې د همدغه تکليف اندازه ورته وشي نو له نورو انسانانو سره يې د تکليف او مصيبت په وخت د مرستې جذبه پيدا کيږي.

روژه دار هر وخت د الله تعالی جل جلاله په عبادت کې شمارل کيږي، ځکه کوم وخت چې روژه دار ته لوږه او تنده ورسيږي او د هغه نفس د خوراک او څښاک غوښتنه کوي نو د هغه زړه تر ماښامه پورې برابر داسې وايي نه دا وخت د خوراک او څښاک کولو اجازه الله تعالی نکوي، د هغه زړه له همت او استقلال سره د الله تعالی جل جلاله لوري ته متوجه اوسي او د الله تعالی جل جلاله لوري ته د زړه متوجه کول د ټولو عبادتونو روح دی، لنډه دا چې روژه د يوې لويې درجې عبادت دی ([40]).

([39]) مظاهر حق، ج : ۲، ص : ۲۸۲ – ۲۸۳.

([40]) مسايل روژه، ص : ۲۵ – ۲۶، تاليف : مولنا رفعت قاسمي صاحب.


Shahamat
میدان وردګ